Made with Xodo PDF Reader and Editor

٢

یادونه او دردونه

# د چاپي سهار

د تېر شل کلن ویرلړلي انقلاب پر مهال د یرغلګرو جنایات، د اتلانو کارنامې او د شهیدانو کرامات

لیکوال: مولوي ضیاء الحق حسان

Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پیسي خو هسې يو رواج دی د ثواب پکې څه نشته
زما په جنازه کې دې تقسيم شي کتابونه

بسم الله الرحمن الرحيم

رحماني كتابتون
د ځوانانو د ذهنونو روزنتون .!

📌 يادونه : په ټليګرام کې رحماني كتابتون په سرچ
سره هم پيدا کولای شئ که ئې په انګلسي سرچ
کړئ يا هم پښتو ملګرو .!

🔎 Rahmani library
🔎 رحماني كتابتون

Made with Xodo PDF Reader and Editor

یادونه او دردونه

# د چـــاپې سهار

د تېر شل کلن ویرلړلي انقلاب په مهال د یرغلګرو جنایات،
د اتلانو کارنامې او د شهیدانو کرامات

دویم ټوک

لیکوال: مولوي ضیاء الحق حسان

قاري سفر محمد شیر زاد!

Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بسم الله الرحمن الرحيم

# د چاپې سهار

## يادونه او دردونه

د تېر شل کلن ويرلړلي انقلاب په مهال د يرغلګرو جنايات،
د اتلانو کارنامې او د شهيدانو کرامات

## دويم ټوک

ليکوال: **مولوي ضياء الحق حسان**

اړيکه: **0783386063 - 0766052844**

هڅونه: **الحاج شيخ الحديث محمد شريف حليمي**

چاپ کال: **۱۴۰۲ل/ ۱۴۴۵ هـ ق**

دوهم ځل کتنه: **داد محمد ناوک او غلام محمد اسامه**

چاپ ځای: **اجمير داوودزی مطبعه**

چاپ‌شمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**ISBN:** 978-9936-1-0715-1

ددې کتاب د چاپې او آنلاين خپرولو ټول حقونه له ليکوال سره خوندي دي

ziaah347@gmail.com | WhatsApp: +93 (0) 795742684



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# نیولیک


ته به وایې ناورین، غمیزه او بمبارد دی! ........ 7
د چاپې د یو بل خونړي سهار داستان! ........ 8
جنایات او اتلولی هېرېدلې ........ 11
لومړی څپرکی ........ 13
جنایات ........ 13
میدان وردگ ........ 14
بچی مې گوته رودله..! ........ 15
په یوه ورځ پنځه جنازې! ........ 17
دا به زما د زوی جسد وي که د لوگر د کوم کس!؟ ........ 21
کله چې مهمانخانه په زیارت بدله شوه! ........ 25
نه پوهېږم کوم مې د ورور کوم د پلار قبر دی؟ ........ 29
نوم‌ورکي کسان ........ 37
لوگر ........ 43
د اختر په شپه شهید شو ........ 44
په پرونې یې د شهیدو بچو مخونه پاکول! ........ 47
په سپین ږیرو مو کلي ښایسته و! ........ 52
نتائج اعلان شول خو په قبر یې بیرغونه رپېدل! ........ 54
د ژوند کولو حق نه راکول کېدو! ........ 58
له سیمې ښایست کډه وکړه! ........ 63
مېرمن او زامن یې را شهیدان کړل! ........ 65




Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ډېره سخته ده، مورې به بیا غمجن کړئ! ........ 67
کاش بچیان مې ژوندي وای! ........ 70
غمجن کال و! ........ 73
پکتیا ........ 76
د کشر ورور خاطرې راته ډېرې یادېږي ........ 77
تا به ویل د مړو کلي ته راغلی یم! ........ 84
ماشوم د مور په سینه خوله ایښې وه ........ 89
غزني ........ 93
د شهید لاس پاتې دی ........ 94
وینې یې په جاینماز روانې وې ........ 98
پکتیکا ........ 99
د روضة العلوم فاروقیه مدرسې ویرجن یاد ........ 100
کندوز ........ 103
د کندوز فاجعه، که دویمه یمامه؟ ........ 104
مسجد هم د تروریست په نوم بمبارد شو ........ 107
دویم څپرکی ........ 109
اتــلولی ........ 109
د زمریالیو د کاروان له سرلارې سره ........ 110
د امریکایي پښه په ونه کې خوړنده وه! ........ 113
تر سهاره د خطر زنګونه کېدل ........ 114
کور مې دې له تاسو قربان وي! ........ 115
(۳۴) امریکایان د اور خوراک شول ........ 117
د غارِ ثور یادونه تاند شول ........ 119
له زخمي مجاهد یې لاسونه تاو کړل ........ 120



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ملالۍ خوينديٖ ........................................ 121
د ډبرې په گوزار موټر چپه شو! ........................................ 124
غازي جمپ ........................................ 125
فتحه او نصرت به مو ملتيا کوي ........................................ 126
انتظار شئ! تر څو خای درته جارو کړو ........................................ 129
د ناوکی بستره يې راباندې واچوله ........................................ 131
د واده نوې بستره هواره وه ........................................ 132
کاش مرمی نه وی خلاصې! ........................................ 134
مجاهدينو ته يې شربت او شيدې ورکولې ........................................ 142
د وژل شوو انتقام يې له لبسې واخيست ........................................ 143
د زنخان په سر درو کې ........................................ 145
د کټواز په ميرو کې ........................................ 152
نن مې په امريکايانو زړه يخ شو ........................................ 155
مزار يې هم د ازادی ليلی ته نذرانه کړ ........................................ 159
له مولوي سنگين فاتح سره ........................................ 161
شهيد آمر غلام علي «راشد» ........................................ 163
دريم ځپرکی: ........................................ 165
شهادتونه او کرامات ........................................ 165
مجاهدين په سکينه ونازول شول! ........................................ 166
شپېته ورځې وروسته پيدا شو! ........................................ 169
د مجاهدينو دعاگانې قبلېدلې ........................................ 171
د شهيدانو جنډيو د دښمن لور راښودلو ........................................ 173
دوهم ځل شهيد ........................................ 175
د شهيد له وينو گلان را زرغون شول ........................................ 177



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor




د شهید اوښکې رواني شوې ........................ ......................179
له بسترې مار ولوېد! ..................... .......................180
څلورم څپرکی ...................... ........................181
یادونه او دردونه ........................ ..........................181
ویل دې اوړه راوړم! ...................... ...........................182
د تکبیر چیغې به مې هېرې نه شي ...................................184
لاسونه د نکریزو په امید سپین پاتې شول ...............................186
د زوی جامې یې دوکان کې پاتې شوې! ...............................188
خان ته یې قبر جوړ کړ ........................ ..........................189
نن به څوک شهیدانېږي!؟ ...................... ..........................190
شال یې ورته په قبر هوار کړ ......................... ...................194
کور کې مو اوړه خلاص وو ........................ ......................196
داسې وخت به راشي! ...................... ............................198
کاش هغه نور هلکان هم وای! ........................ ...................200
د واده بستره هواره وه ...................... ..........................202
مور به لاسونه پرې کړو ........................ ........................204
آه! مسافره زویه..! ...................... ...........................207
د لیکوال پېژندنه ...................... ..............................213
د (چاپې سهار) په اړه په سوشل مېډیا کې د فعال مبارزینو تأثرات ..215
انځوریز البوم ...................... ..............................222




Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# ته به وايې ناورين، غميزه او بمبارد دی!

د (چاپې سهار) کتاب مې زياته برخه ولوست ډير جالب په زړه پورې او په ريښتينو حقائقو مشتمل دی، داسې کتاب چې کتونکی يې دې ته مجبوراوه چې هرڅومره ډېر يې مطالعه کړي، دليکنې سبک يې ډير سليس، ساده، عام فهمه په زړه پورې او جذاب و او د بيان ژبه يې خوږه، نګه، کليواله او په عين زمان کې په ټول پوره له تنافر اوتعقيد نه خلاصه او سوچه ده، ښاغلي «حسان» ريښتياهم زيار ايستلی ستړياوې يې ګاللې شپې او ورځې يې پرخان يو کړې تر څو د افغان، مسلمان، مجاهد او مظلوم ولس درد او په شل کلن انقلابي بهير کې دغربي ښکېلاک له لوري وربانديې تير شوي تکاليف ، زحمات چاپې، وحشتونه او په ورانديې يې د مجاهدينو فداکارۍ سر شندنې د قلم په ژبه هو بهو لکه څرنګه چې حق دی تر دنياوالو ورسوي، د نوموړي کتاب هرڅپهکی او قصه چې لولې نو داسې يې انځور کړې ته به وايې يو ناورين، غميزه، بمبار او د وحشي صفتو کافرو چاپه او يرغل په سترګو وينم.

لا نور هم ورته دخدای ﷻ په لاره کې د ښه قلم، رسا فکر اوغوره خدمت غوښتونکی يم، الله تبارک وتعالی دې زموږ په ټولنه کې د حسان غوندې زلمي نور هم راپيداکړي.

قاري محمد يوسف احمدي

د افغانستان ملي راډيو- تلويزيون لوی رييس

۱۴۴۵/۷/۲ هـ ق



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# د چاپې د یو بل خونړي سهار داستان!

د چاپو، بمبار، کمینونو او د خونړیو مازیګریو له تېرېدو وروسته د سکون او ارامۍ دا دې نږدې دریم کال پوره کیږي، خو په دولتي کچه لا هم موږ داسې څه نه وینو چې د دې وېرجن انقلاب هره شېبه ثبت او تر راتلونکو نسلونو ورسوي، چې ور وښيي پلرونو يې څنګه د نړۍ د خدای دعوه دار تر ستوني ونيو، څنګه يې د ارزښتونو لپاره تولې کورنۍ لولپه شوې او څنګه ځوانانو تر سينو باروت تاو او نېغ د فرعون په مانيو ور ننوتل!
خو لله الحمد په فردي لحاظ هغو ملګرو چې د قلم خاوره، د ليکلو استعداد او د دې وياړلې مبارزې د ګډون وياړ لري، قلم پورته کړی او هڅه يې روانه کړې چې هم تاريخ خوندي او هم راتلونکو نسلونو ته وښيي چې د ازادۍ نعمت، د کفر شړل او د مزدورانو سرکوزي يې په څومره قيمت لاسته راغلې ده.
مولوي ضياءالحق حسان صاحب د ميدان وردګو د مجاهدو درو، د مجاهد ولس او مبارزو ځوانيو کيسې د چاپې سهار؛ لومړي ټوک کې راټولې کړې وې او دلته يې د ياد ولايت تر څنګ د لوګر، پکتيکا، غزني او ځينو نورو ولايتونو د مجاهدينو، شهيدانو او غيور ملت د قربانيو کيسې را ټولې کړې دي.
د کتاب نوم هغه درد له ځان سره لري چې ما يې پر لومړي ټوک ليکنه کې مفصله يادونه کړې وه، ټولې دنيا، د کلي د نيمې شپې په خاموشي کې هغه سوې کوکې نه اورېدلې، چې د ځوانې مېرمنې مخ ته به د خاوند



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یوازې د غوښو سوځلې ټوټې کېښودل شوې، چې د ماشوم له شیدو ډکه خوله به د خونې د چت لرګیو لاندې له وینو ډکه شوه، چې محجوبو مېرمنو به لوڅ سر پر سرونو ټومبلیو بټیو رڼا کې د زاریو لمن غوړوله؛ د ماشومو زده کوونکو پر وړاندې به د هغوی د مشرانو نیم بدنونه په ډالۍ کې پرېښودل شول او دوی به د مدرسې ړنګو دېوالونو ته زبون وهلي د خپلو ملګرو له نیمو جسدونو سره ناست و!

دنیا نه لیدل، نه یې اورېدل، نه یې ځان پوی کاوه، دلته د دې وېرجنې شپې سهار تر دې شپې خونړۍ، زړه خوړونکی او له داسې لمر سره راته لکه تندر چې نیولی وي؛ ډله کلیوالو به له کوره لرې د غوښو یوه یوه ټوټه موندله، په بم خلاصې شوې دروازې ټوټې به یې له لارې لرې کړې، تر لوټو لاندې به کوچنی پښه راوتلې وه، سره نارې به شوې:

ـ دلته هم شهید دی!

لوټې به یې یوې بلې خواته کړې او ایله د څو میاشتو ماشوم به له لوټو په خاورو لړلی را وایستل شو، بل به بل کونج کې تر ړنګو دېوالونو را وتلې د ټیکري څنډې ته اشاره وکړه:

ـ دلته هم شهیده ده!

بیا به څادرونه پرې را وګرځول شول، لوټې به یوې بلې خواته شوې او یوازې سوځلې ټوټې به له خاورو څنډ وهل شوې، هوار کړي څادر کې به ونغښتل شوې!

ټول کلي کې به پټې سلګۍ او پر دې کور د جسدونو د موندلو په صورت کې به لوړ غږ اورېدل کېده، هغه نارینه چې «ژړا» د ښځې ځانګړنه بولي، خو په دې منډو کې به یې پرلپسې د پټکې په شملو سترګې پاکولې، ناڅاپه به چیغه شوه:

ـ په قرآن شریف ولاړ یې!



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خوان به یوې خواته شو، لوټې به یې سره واړولې، غلبیل قرآن کریم به یې پاڼې پاڼې را ټول کړ!

دلته د همدې ویر، همدې خونړۍ مبارزې او همدې بریالي جهاد داستانونه لوستلی شئ، د تاریخ د خوندي کولو تر ټولو لویه ګټه دا ده چې ملتونه خپل هویت پکې ساتلی شي، خپله لار نه پرېږدي او اوسنی نسل هڅه کوي د تېرو یاد ژوندی او راتلونکي پر همدې لار روان وساتي.

مولوي صاحب ضیاءالحق حسان له رسمي مصروفیتونو سره سره دې مبارکې هڅې ته وخت ورکړی، په نثر کې یې خوږلني، په انځور کښنه کې یې صداقت او اخلاص له ورایه ښکاري، کوشش یې کړی چې هر څه واقع شوي بې له مبالغې یې تر لوستونکو ورسوي، څکه خو هر څومره له کراماتو ډکه کیسه پر هغه مخالف هم اثر کوي او لولي یې چې ممکن د دې مبارزې په مقابل لوري کې به ولاړ و.

وروستی دا چې تاریخي پېښو کې حتماً یو اړخ ملامت او بل سلامت وي، جرئت دا دی او د دې هېواد د ابادۍ دا تقاضا کوي چې ملامت اړخ دا ومني چې لویه، اوږده او پوره دوه لسیزې ناروا یې کړې، کوشش دې وکړي چې راتلونکي نسلونه له دغسې جنایاتو وساتي او راتلونکي نسلونه یې باید دا شجاعت ولري چې د خپلو پلرونو غلطۍ ومني او حتی اثار پرې ولیکي او یو زړور تاریخي قدم واخلي.

رب عزوجل دې د مولوي صاحب په عمر، قلم او هڅو کې برکت واچوي او موږ دې زموږ په اتلانو پسې سپین مخ ور ولي! آمین

دادمحمد ناوک / طارق بدر

۱۴۴۵/۸/۳ هـ ق



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# جنايات او اتلولی هېرېدلې

په هېواد د صليبي يرغلگرو له لوري تر سره شوې ظلمونه، د دوی په وړاندې د تر سره شوې بې جوړې مبارزې او د دې صف د لاروپانو فداکارۍ هغه څه وو چې د وخت په تېرېدو ورو ورو هېرېدل، په هېواد کې صليبي يرغلگر مات او دلته اوس سپين نظام واکمن دی، هره ورځ د هېواد زخمونه ټکورېږي، هغه مدارس او مساجد بيا جوړ شوي چې د يرغلگرو له لوري په کنډوالو بدل شول، هغه وراني جونگړې بيا ورغېدلې چې د تروريست په نوم په درنو بمونو ورانې شوې او هغه سرکونه اوس په عصري ډول جوړېږي چې د يرغلگرو ټانگونه په کې لوليه شول. نو څکه مو د يرغلگرو د جناياتو او د اتلانو د حماسو ليکلو ته ملا وتړله تر څو دغه وياړلی تاريخ هېر نه شي او راتلونکو نسلونو ته په اصلي بڼه پاتې شي.

د دې کتاب لومړی ټوک يو کال وړاندې له چاپ راووتلو چې په لږ وخت د لوستونکو له درانه استقبال سره مخ شو، تر دې چې دوه زره نسخې د لوستونکو لاسونو ته ورسېدلې، د دې موضوع د اهميت له امله مو دا ځل بيا پکتيا، لوگر، ميدان وردگ او غزني ته سفرونه وکړل او څينې نورې پېښې مو د باوري کسانو له خولې ثبت کړې، د پېښو د دقت او استناد په موخه مو لرې ساحو ته سفر کړی، د شهيدانو کورنۍ او دپېښې عيني شاهدان مو غړولي، دغه پېښې زياتې غمجنې وې او د ثبت په مهال په ضرور له سترگو اوښکې روانېدلې.

د کتاب د چاپ په برخه کې چې کومو مخلصو مشرانو راسره همکاري



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کړې، الله تعالی دې دوی ته ښه بدله ورکړي، ښه ژوند او سرلوړي ورته غواړو!

د افغانستان اسلامي امارت د ملي راډیو تلویزیون د عمومي رئیس قاري محمد یوسف «احمدي» او داد محمد «ناوک» صاحب څخه هم د زړه له کومې مننه کوم چې د کتاب په کتنه او تصحیح کې یې د زیاتو مصروفیاتو سربېره خپلې هڅې ونه سپمولې او په تقریظونو یې د کتاب ښکلا لا نوره زیاته کړه.

دا چې انسان عاجز دی نو که په کتاب کې کومه غلطي وي له قدرمنو لوستونکو بښنه غواړم!

مولوي ضیاءالحق «حسان»

۱۴۴۵/۷/۳۰ هـ ق

د پکتیکا امنیه قوماندانی مقام د شپې پولس بجې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor

RAHMANI LIBRARY
رحمـــــاني کتابتون

زما ګرانه وروره او ګرانې خورې ! 💐

منم چې ته د کتاب مینوال / مینواله یې .!
ایا په خپل چاپیریال کې مو ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان هم مطالعه کوي ؟
که مو ځواب هو وي خو ډیر ښه خپل مسؤلیت مو په په سمه توګه ادا کړی
او سل ځله دې در باندې آفرین وي ، خو که دغه کیسه برعکس وي او ستا
ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان او داسي نور ، په مطالعه نوې روږدې نو زما په
نظر ته خود خوا او مجرم یې .!
ځکه چې تا د کتاب لوستلو خوند څکلی ، نو تا باید نور خلک هم د کتاب
له دې نا آشنا خوند سره بلد کړې وای ، نو راشه اوس هم نده نا وخته راشه
اوس یو ځای کتاب لوستلو ته خلک وهڅوو .!
تر څو آینده نسل مو تعلیم یافته او د نړۍ سیال وي .!

د سرلوړې اباد او سوکاله افغانستان په هیله .!

په درنښت | د رحماني کتابتون اداره 📚

د رحماني کتابتون سره د یو ځای کیدو لپاره له انټرنېټ سره وصل شئ ،
او تاسو باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ بیا په دغه لاندې [ Join ] بټنه
باندې کلیک وکړئ ، تر څو زمونږ د کتابتون له کورنۍ سره یو ځای شئ .!

JOIN

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# میدان وردگ

د میدان ورګو ولایت د هېواد په زړه کې موقعیت لري، د دې ولایت مرکز میدان ښار دی، مساحت یې (۸۹۳۸) کیلو متر مربع او اوسیدونکي یې تقریباً(۴۱۳۰۰۰) ته رسیږي، د دې ولایت اکثره وګړي پښتانه او کمه برخه یې هزاره دي.
یاد ولایت د انګریزي، روسي او امریکایي ښکېلاک په وړاندې د غزاوو ګنې کیسې د تاریخ پاڼو ته سپارلې، دوی د هر یرغلګر په وړاندې د غزا شمله دنګه ساتلې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لومړۍ بېلګه:

# بچې مې ګوته رودله..!

د ميدان وردګ ولايت، سيداباد ولسوالۍ چې د اتلوليو ګڼې کيسې يې د تاريخ پاڼو ته سپارلې، بل طرف بيا همدغه سيمه د يرغلګرو له لوري تر ګڼو بريدونو لاندې راغلې وه؛ د همدې ولسوالۍ د سرقول کلي ته ولاړو، ياد کلی د مجاهدينو د پنا او آرام ځای و ځکه د غره په لمن کې پروت و چې د امنيت په لحاظ يې موقعيت خوندور و بل طرف بيا د دې کلي خلک هم د مجاهدينو سره په سر او مال ولاړ و، د همدې کلي په هسکو څوکو د شهيدانو بيرغونو د ناز وزرې رپولې د شهيد هجرت کور ته ورغلو، ورور يې محمد سليم راته د خپلو خوريو په کور د ترسره شوي وحشت په اړه وويل: زموږ خور به راوغواړو هغه د همدې صحنې شاهده ده.

خورکۍ راغله په ادب او حيا پوښلې وه؛ ترې ومې پوښتل ستاسو په کور د چاپې کيسه راته وکړه.

ويل يې خاوند (نورحبيب) او ليوره (هزارګل) مې په هفت آسياب کې کاریز وهلو مازديګر څلور بجې دوی راغلل، شپه وروسته دوه مېلمانه(محمد نعيم د سيرک او عبدالله د هفت آسياب) هم زموږ کور ته راورسېدل، دوی ته مو ډوډۍ برابره کړه د ماخستن لمنځونه مو اداء کړل، شپه پخه شوه چې د جهاز او چورلکو آوازونو له خواړه خوبه راويښ کړو، د کور بامونو ته مو امريکايان ختلي وو او زموږ کلا يې هم محاصره



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کړې وه، لږ وروسته یې زموږ د کوټې وروڼه په لغتوو را خلاص کړل، زه د باندې راووتلم کور کې مې وړه بچۍ وه هغه په خواږه خوب ویده وه ګوته یې په خوله کې نیولې وه او رودله یې، امریکایي عسکر په غیږ کې راواخیستله او د باندې یې راوغورځوله، هغې په سرای کې چیغې وهلې وروسته یې زما خاوند، لیور د باندې راوایستل موږ ټولې زنانه د سرای منځ کې ناستې وو او ژړل مو، زنانه وو ویل: چې دوی یې په شهادت رسولي، کله چې سهار طیارې پورته شوې موږ د کور مخ ته را ووتلو چې هلته یې زما خاوند او لېور په شهادت رسولی وو، وروسته موږ د مېلمنو کوټې ته ورغلو هلته یې دواړه مېلمانه په شهادت رسولي وو.

دغه راز یې د همدې کور ښځه آن ۱۲۰۰۰۰۰ افغانی هم وړې وې چې دوی د موټر د اخیستلو لپاره راوړې وې، یې د کور د زنانوو له صندقونو ښځه ګانې هم له ځان سره یوړې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دویمه بېلګه:

# په یوه ورځ پنځه جنازې!

د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د توکرک د اسماعیل خېلو د کلي اوسېدونکي محیب الله «عزیز» چې د سیمې د تکړه مجاهد او مشر دیني عالم مولوي محمد اسماعیل (حاجي قاري صاحب) زوی دی؛ نوموړي راته د دوی په کور د یرغلګرو له لوري د تر سره شوو جنایاتو کیسې کولې او ویې ویل: زموږ په کور د یرغلګرو له لوري ګڼې چاپې ولوېدې، لومړۍ چاپه په خورا ابتدایي حالاتو کې وه هغه مهال به خلکو ویل: د چاپې په مهال یرغلګر د خلکو په کورونو جالونه اچوي، بې پیلوټه طیارې چې په سیمه کې ورته خلک بنګنې وایي پروازونه یې کول، ټوله هوا یې اشغال کړې وه په همدې حال کې د دښمن د جهاز قهرجنو آوازونو یو دم فضا اشغال کړه نور د هېڅ شي غږ نه اورېدل کېدو چې ډېدبنې چورلکې د کور طرف ته راورسیدې، زموږ خور په بل کور کې وه هغه د ډېرې وارخطایۍ له امله په منډه راغله او ویل یې: چاپه شروع شوه حاجي صاحب چېرته دی؟ هغه مهال زموږ کورګۍ خورا ضعیف و او سم نه و جوړ زموږ پلار حاجي قاري صاحب راپورته شو او ویل یې: تاسو تشویش مه کړئ الله ﷻ به مو حفاظت وکړي په همدې حال کې د کور په بل طرف ووت او الله تعالی وساته، دوی چې کله زموږ کور ته رادننه شول د حاجي صاحب کتابخانې ته لاړل او وروسته یې زموږ د کور کوټه والوزوله.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له دې وروسته يې دويمه چاپه واچوله هغه مهال موږ کور کې وو چې د مخابرې په څپو کې د «محمد» په مستعار نوم باندې غږ وشو: د لوګر له بېز يې هليکوپټر درپورته کړې!

په دغه ورځ زموږ په کور کې ميلمانه هم وو او اغا مې حاجي قاري صاحب هم همدلته و، طيارې يې په عمر خېلو کې کينولې، موږ لږ شېبه انتظار وکړ او خپلو کې مو سره ويل: څه مشکل به نه وي لږ وروسته د باندې رابهر شوم چې بنګښې طيارې په همدې ساحه باندې زياتې ګرځېدلې، اغا مې ويل: مسجد ته به ولاړ شو.

پنځه نفر وړاندې ولاړل، زه او مولوي خليل الرحمن«احمد» خانته وو، آغا مې او حقاني مولوي صاحب چې زموږ ورور دی خانته روان وو؛ د کور(۱۳) نفر ټول سره تيت شول په همدې حال کې لويه جيټ طياره راغله، موږ يوه پټې کې وو او دغه پنځه کسان بل پټي کې وو چې دوی قهرجن بمبارد پيل کړ، د بمبارد له امله لوی لوی چيناران راپرېوتل، د بمبارد په مهال مې د مظلومو شهيدانو آوازونه اورېدل چې په خورا بې رحمانه ډول يې دوی د خپل بريد هدف ګرځول، موږ له شهيدانو نه لاندې په بل پټي کې همداسې پراته وو او دومره وخت نه وو چې د شهيدانو د حال پوښتنې ته ورشو، کله چې سهار خپل سپين څادر د هېواد په لر او بر خور کړ زه د چينارانو څنګ ته ورغلم او هلته مې د شهيدانو په جسدونو سترګې ولګېدې، آغا مې هم وليد چې روان و، دومره وس مې نه و چې غږ ورباندې وکړم، زه له دې وروسته د کور طرف ته روان شوم اغا مې ويل: طيارې اوس هم ګرځي مه ورځه.

زه ورغلم تر څو کورنيو ته اطمينان ورکړم، دوی ته مې وويل: هيڅ مشکل نشته تاسو تشويش مه کړئ! له هغې ځايه بېرته راوګرځېدم تر څو د شهيدانو حال واخلم، کله چې هلته ورسېدم په کشر ورور احسان الله



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مې داسې مهال سترګې ولګېدې چې خوله يې له خندا ډکه وه او په خنګل يې لاس ايښی و، ما دا فکر وکړ چې ژوندی دی کله چې ورنږدې شوم په شهادت رسېدلی و؛ احسان الله زموږ کشر ورور و او زيات ذهين و تر دې چې قران کريم يې په شپږو مياشتو کې ياد کړی و، له هغه وروسته مکتب ته لاړ او هلته يې هم په هر صنف کې لومړی مقام خپلولو، وروسته بيا د عربو الأزهر مدرسې ته لاړ دغه مدرسه په کابل کې موقعيت لري؛ د جمعې په شپه له مدرسې راغلی و.

لږ مخته لاړم هلته مې د تره په زوی سترګې ولګېدې سر يې له منځه تللی و او د کاکا سر مې دوه ځايه شوی و او بل ورور مې ابودوجانه مې له مخ وپېژندلو نوموړي د يخ له امله په کمبله کې ځان پيچلی و او همداسې په شهادت رسېدلی و، د شهيدانو تر څنګ حماد هم د شهادت لوړ مقام خپل کړی و او په څمکه پروت و.

د کاکا مې کشر زوی راځي ويل يې: دغه مې جان آغا دی زه يې په بوټانو پېژنم.

زه له شهيدانو روان شوم چې زموږ والد محترم حاجي قاري صاحب راځي ويل يې: څنګه حال دی؟ ورته ومې ويل: هغه پنځه کسان چې درک يې نه معلومېږي ټول په شهادت رسېدلي، نوموړی زيات صابر انسان و ويې ويل: د الله تعالی په فيصله راضي يم الله تعالی دې دوی قبول کړي. بيا يې وويل: احسان الله جان چېرته و؟ ورته مې وويل: هغه هم په شهادت رسېدلی، له سترګو يې اوښکې روانې شوې څکه احسان الله يې ماشوم زوی و او ډېر پرې ګران و له هغه وروسته د کورونو په لور روان شوم لا نه وم رسېدلی چې د شهيدانو جنازې يې هم راورسولې، ډېر بد حالت و په يوه ورځ زموږ په کور کې پنځه جنازې ايښې وې.

زموږ مورکۍ ته د ننه ورغلم ويل يې احسان الله چېرته؟ ماويل هغه شهيد



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شو مبارکي یې درته وایم! پورته شوه او دوه رکعته د شکرانې لمونځ یې اداءء کړ. دغه چاپه په ۱۳۹۸ هـ ش کال د لړم په ۱۸ نېټه وه.
حاجي قاري صاحب د میدان وردګو ولایت یو له مشرانو علماوو څخه و، نوموړی د اشغال په مهال د خپلې ولسوالۍ د جلب او جذب مسؤل و چې په هڅو یې ډېر کسان د کابل اداءرې له ناولې او کرغېړن صف راجلا کړل، همدارنګه د ولایت په سطحه د فقهي مجالسو مسؤل هم پاتې شوی چې د نورو خدمتونو تر څنګ یې په سیمه کې ډېر پېچلي موضوعات حل کړل.
په هېواد د اسلامي نظام د حاکمیت وروسته د میدان وردګو ولایت د استیناف محکمې د دیوان مفتي شو.
بلاخره دغه سپېڅلي عالم د ۱۴۴۴/۱۱/۳۰ هـ ق نېټه خپل روح متعال رب ته وسپارلو.
د نوموړي جنازې ته د افغانستان د اسلامي امارت لوړ پوړي مسؤلین راغلي وو، لله الحمد د دې سپېڅلي عالم د جنازې ویاړ موږ هم خپل کړ.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دریېمه بېلګه:

## دا به زما د زوی جسد وي چه د لوګر د کوم کس!؟

د هېواد مظلوم اولسونه د سپېڅلي جهاد په مهال د مجاهدینو سره ځنګ په ځنګ ولاړ وو، دوی د یرغلګر دښمن په وړاندې ځاني او مالي قرباني ته آماده و، د مجاهد ملت مهمانخانې د جهادي لښکر د لارويانو لپاره د آرام ځایونه وو همدوی به دلته دمه کېدل؛ د تېر شل کلن اشغال په مهال د یرغلګرو له لوري د تر سره شویو جنایاتو د ثبت او لیکلو په تکل ور روان وو، موټر کې راسره ملګري محمد یوسف «اسرار» او مجاهد «ملنګ» راته وویل: د میدان وردګو ولایت، سیداباد ولسوالی د سرقول کلي ته څېرمه د نوي کارېز په سیمه کې د صالح ګل په نوم کس د مجاهدینو زیات خدمتونه کړي، د نوموړي کور به تل د مجاهدینو د دمې او آرام ځای و، ملګرو ویل: صالح ګل ماما هم د یرغلګرو د وحشت درنه څپېړه په مخ خوړلې او زوی یې د یوې چاپې په مهال ورته په ډېر وحشت په شهادت رسولی، کور ته ورسېدلو او د کور مخته هسکه غونډۍ باندې یې فرش راته هوارکړ د مازدیګر او ماښام منځ و ښائسته هوا چلېدله په ورین تندي یې ومنلو، د تېر وحشت په اړه مې ترې وپوښتل.

راته یې وویل: زوی مې سهرګل د ۱۳۹۶ هـ ش کال د مني په مهال د لوګر ولایت کې د کارېز کېندلو کار کاوه کله چې له سفر راستون شو او کور کې یې څو شپې وکړې راته یې وویل: پلار جانه! زه به یو ځل لوګر



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ته ولاړ شم هلته مې په خلکو پیسې پاتې دي، اجازه مې ورکړه دغه ورخ تېره شوه د بلې ورځې د غرمې وخت و چې کلیوالو مې راته زنګ وکړ ویل یې راشئ سهرګل په شهادت رسېدلی دریې وړئ موږ ورغلو کله چې هلته ورسېدلو لومړی هغه کور ته ورغلو چې دوی په کې شپه کړې وه د دغه کور سپین سرې مورکۍ چې زما له زوی سره یو ځای یې دوه زامن او یو لمسی هم په شهادت رسېدلی و، کیسه راته پیل کړه ویل یې: کله چې ستا زوی راغلو بچیان مې زیات ورته خوشحاله شول چای مو ورته تیار کړ چای یې نوش جان کړ بیا یې ویل زه ځم که هغه زما پیسې مو راکړې زامنو مې ورته وویل: پیسې دغه دي خو تر څو چې شپه ونه کړې پیسې نه درکوو ماخوستن مو ښه ډوډۍ ورته تیاره کړه زه هم مهمانخانې ته ورغلم او ستا بچي ته مې وویل: زویه چادر دې راکړه تر څو وچ شوی بانجان درته غوټه کړم ستاسو د کور برخه مې ساتلې، چادر یې راکړ او بانجان مې ورته راوړل زه او بچیان مې کور ته ترې روان شوو لا پوره نه وو خوبیولي چې د دروازې درز له خواړه خوبه راویښ کړو، مورکۍ ویل: د مېلمنو کوټه د باندې وه زه هم د باندې ورغلم هلته ګڼ امریکایان وو او ستا زوی تذکره ورته ښکاره کړه ورته ویل یې: زه کاریګر یم آن له میدان وردګو دلته راغلی یم، تذکره یې ورته پرې کړه بیا ستا زوی کوټ اغوستلو دوی ترې واخیست هغه ورته زارۍ کولې او ورته ویل یې: ساړه زیات دي، امریکایانو ترې کوټ واخیست او پرې یې کړ، مورکۍ ویل: بیا امریکایانو ستا زوی، لمسی او دوه زامن مې له ځان سره روان کړل ما ورته زارۍ وکړې چې دغه طالبان نه دي مه یې درسره بیایئ دوی مې خبر نه منله آخر مې ورته وویل: دغه لمسی مې ماشوم دی او دا بل کس میلمه دی دوی دواړه مه درسره بیایئ، له دې خبرې سره یې د لغتوې وار راباندې وکړ او بېهوښه شوم.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



صالح گل ماما ویل: دوی یې بیا د ملاملنگ په نوم مجاهد کور ته له ځان سره وړي وو او هلته یې د نورو کسانو په ګډون د دوی له غاړو څخه فرمبکاټ(یو ډول بارود دي) پېچلی و او د ټولو سرونه یې پرې کړي وو، مورډ ته یې یو جسد راکړ او دلته مو خپل کلي ته راوړو او دفن مو کړ نه پوهېږم چې دغه به زما دزوی جسد وي او که د لوګر د کوم کس!؟

نوموړي راته زیاته کړه د زوی څخه مې چاپه مارو عسکرو دوه لکه پیسې هم وړې وې کومې چې بېګا د دې کور خلکو د دوی د کاریګری په بدل کې ورکړې وې.

د دې شهید په اړه مې ترې وپوښتل واده یې و؟ ویل یې هو واده یې و او دغه یوه لورکۍ یې پاتې ده، هغه یې راویلله او موږ د خپل وس مطابق ورسره کومک وکړ، د یتیم د پالنې په اړه مو ورته بیان وکړ نوموړي وویل: د دغه یتیمې پالنه کوم او دومره یې نازوم چې د خوراک په مهال یې له خپل ځان سره په لوښي کېنوم. د دې دردمنې کیسې وروسته مې له نوموړي د مجاهدینو د خدمت په مهال د خاطرو وویل: ویل یې یوه ورځ شهید حاجي محیب الله «وقاص» زموږ مهمانخانې ته راغلی او یو بندي هم ورسره و، ما ورته وویل: قومندانه! د بندي سترګې خلاصې کړه تر څو ډوډۍ وخوري، ده ویل: دغه بندي مې ستاسو کور ته له دې امله راوستلو چې په نورو کلیو کې یې شناخته او خپلوان دي کله یې چې سترګې پرې خلاصې کړې هغه زموږ خپل و، ورته په خندا شوم او ورته ومې ویل: بیا دې ښه ځای ته راوستلی دا خو زما د ترور زوی دی.

دویمه خاطره یې راته بیان کړه ویل یې: د بهیر په نوم مجاهد راغلو او زموږ کره یې شپه وکړه ویل یې: مریض یم او ډوډۍ نه شم خوړلای، زه کور ته لاړم او د نوموړي لپاره مو کور کې تازه مستې جوړې کړې، سهار روان شو ماسپښین زه د کور نه بهر لاړم چې بهیر په موټرسیکل راغلی



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سلام يې راته وکړ له جواب وروسته مې ورته وويل: راځه زموږ کره ساه جوړه کړه، ګوتې يې راته پورته کړې ويل يې: دوه راپسې دي د نوموړي اشاره هغه بې پيلوټه طيارو ته وه چې په هوا کې ګرځېدلې لږ شيبه وروسته د بمبارد آواز تر غوږو شو او له پوښتنې وروسته معلومه شوه چې بهير د شهادت جام نوش کړی!

انا لله و انا اليه راجعون



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خلورمه بیلګه:

# کله چې مهمانخانه په زيارت بدله شوه!

په هېواد د یرغلګرو د حملې په ترڅ کې د وحشتونو باب پیل شو، هره ورځ به د زخمي ټاټوبي غېږ د یرغلګرو د وحشتونو شاهده وه، دا ځل د میدان وردګو ولایت سیداباد ولسوالۍ د ښادي خېلو له کلي د هغې کورنۍ کیسه را اخلو چې د کورنۍ درې غړي یې په خورا وحشت په شهادت رسېدلي او دکورنۍ د مشر فقیر په زړه د دوی هر یوه یاد لا هماغسې تاند دی، د ويرژلې پېښې کلونه تېر شول خو په دغه کورنۍ کې غم لا هم هماغسې تاند دی.

فقیرآکا د وحشت ویرجن داستان داسې انداز کې راته بیانولو چې خبرې یې له سلګو سره مل وې، کیسه یې راته پیل کړه: اولادونو ته مې د یوې ګولۍ دوډۍ پیدا کولو په موخه ژرنده کوله، په دې ورځ مو د جماعت امام مولوي زاهد اغا صاحب هم مېلمه و، او د تره زوی مې (وکیل) هم زموږ مېلمه شو، آغا صاحب ډوډۍ وخوړه او لاړو زوی مې او وکیل دواړه دلته زموږ مهمانخانه کې پاتې شول او زه خپل کور ته لاړم، بل د کاکا زوی مې چې زموږ خور هم ورسره وه، زموږ د کور تر څنګ یې کور دی هغه هم کور کې و؛ د شپې یولس بجې کېدونکې وې چې د طیارو درووند غږ مې تر غوږو شو را بیدار شوم ومې لیدل چې د کوټو په بام مخامخ امریکایان ولاړ دي او په سرونو باندې یې لیزر ټینګ وو دوی په بامونو لږ نور هم رامخته شول او هغه بام ته راغلل چې د سرای منځ ته



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ډېر نږدې وو، سمدلاسه يې فيرونه پيل کړل او د اطاق هېنداري د کوټې منځ ته راولوېدلې له بام يې غږ وکړ ويل يې: هر څوک چې دلته وي راووځئ! خواکونه درنه تاو دي، خلاصېدلاى نه شئ! زموږ د مهمانخانې يوه کړکى د بام طرف ته ده له هغې يې فيرونه ورياندې کړي وو او دوى يې هملته په شهادت رسولي وو، د فقيرآکا خبرې د څو شپېو لپاره ژړا او سلګو بندې کړې، اوښکې يې صفا کړې او په ژړه غونې غږ يې بيا خبرې پيل کړې ويې ويل: ماشومان مې په بله کوټه کې وو او زه څانته اطاق کې وم دوى زياتې چيغې وهلې ما ويل هسې نه ور رامات کړي کليمه مې له ځان سره ويله او د دهلېز ور مې ورخلاص کړ څنګه چې برندې ته ووتلم چاپه مارو عسکرو را باندې غږ وکړ قميص وباسه همداسې مې وکړل په سراى کې زموږ مرکبه ولاړه وه د هغې څنګ ته يې بوتلم او هلته يې ودرولم، مخ مې يې د ديوال خوا ته واړولو په دې حال کې ماشومان هم را بهر شول دوى ويل: نور څوک نشته؟ ما ورته وويل: په دغه کور کې مې زوى او د هغه اولادونه دي ويل يې ورشه! هغه هم را وباسه؛ مېرمن مې غږ وکړ چې په مهمانخانه کې مې زوى دى هغوى ويل: په هغه پسې مه ګرځه! کله يې چې مور مهمانخانې ته ورغله او ويې ليدل چې زوى او د کاکا زوى يې دواړه په وينو کې لت پت پراته دي.

فقير آکا وويل: ما خو نه په مرګ وليدل او نه هم په ژوند! ما ته يې وويل: ووځه د کور نه بهر شولو هلته ګڼ شمېر امريکايان ولاړ وو د خوابښې او د کاکا د زوى کور ته يې بوتلم او له هغه وروسته يې يو ځل بيا خپل کور ته راوګرځولم، هلته يې نور ماشومان هم راټول کړي وو او د زنانه و، آوازونه اورېدل کېدل ماته يې د لور څپلکې را په پښو کړې وې يوازې د ګوتو سرونه مې په کې تلل، لاسونه يې را تړلي وو تر يوه ځايه يې بوتلو هلته يوازې کانې او اغزي وو، څپلکې مې هم له پښو ولوېدلې او پښې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مې له اغزيو ډکې شوې يو ځاى يې کېنولو د هوا د سړوالي له امله مې وجود لړزېد، وروسته د موټرسيکلو او سپيو غړونه شول زه يې طيارې ته پورته کړم، له لږ مزل وروسته هليکوپټر
کېناسته ممکن دغه د سلطان خېلو قرارگاه وه، تر سهاره يې همدلته په کانو کې وغورځولو له هغه وروسته يې بيا په هليکوپټرکې کېنولو او له يو څه مزل وروسته بيا هليکوپټر کېناسته او ښکته يې کړو سترگې مو ترلې وې او د وخت معلومات نه راته کېدل يوه اطاق ته يې د ننه کړلو هلته امريکايي په چوکۍ باندې ناست و پوښتنې يې رانه شروع کړې ويل يې: دکوم ځايه يې راوستلې ياست څنگه يې راوستلاى، چا خو به تکليف نه وي درکړى...؟ بيا يې په کمپيوټر کې د مجاهدينو عکسونه راواړول ما ورته وويل: نه يې پېژنم، زما د کاکا د زوى عکس يې راواړلو ويل يې: دغه پېژنې؟ ما ورته وويل: نه يې پېژنم، ترجمان راته ويل: ولې يې نه پېژنې؟ ما ورته وويل: د سترگو نظر مې کمزورى شوى دى او مريض يم، بيا يې زما د زوى عکس راواړولو چې څنگه مې سترگې پرې ولگېدلې بې هوښه شوم، کله چې په هوښ کې راغلم خپل اطاق کې وم؛ دلته مې دوه شپې وکړې، وروسته يې موټر کې سپور کړلم د جيب سامان او لس ډالر يې هم راکړل، کله چې د بېز مخته موټر راووتلو له موټر يې خطا کړم او ويل يې: شاته را ونه گورې! زه داسې حال کې روان شوم چې کالي مې شلېدلي، سر مې سرتور او پښې مې هم لوڅې وې عمومي سرک ته مې ځان راورسولو کله به مې چې موټر ته لاس ورکړ رانه تير به يې کړ او نه به راته درېدلو آخر يو کس موټر راته ودرولو هغه رانه پوښتنه وکړه ما ورته په ژړا او سلگو کې دغه دردمنه کيسه پيل کړه هغه هم راسره وژړل او د لوگر نه تر تنگي درې پورې يې راوړم هلته په يوه مازدا موټر کې سپور شوم او تر کوره راورسېدم کله چې کور ته راغلم د غم تغر لا هم



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په کور کې هوار و او خلک دعا ته راتلل.
فقیر اکا راته زیاته کړه: زموږ له کور څخه یې د ښځو ګاڼې، پیسې او زموږ د پلار توره چې تاریخي ارزښت یې لرلوهم له ځان سره یوړل.
په پای کې هغه کوټې ته هم ورغلو چې د نوموړي زوی او د کاکا زوی یې په کې په شهادت رسولي وو، آکا یوازې د کوټې تر وره پورې راسره ولاړ موږ د ننه ورغللو د شهیدانو جامې د فقیرآکا د زوی عطر، تسبې او... تر اوسه هم هلته ایښي وو چې په لیدلو یې د زړه مراندي پرې کېدل؛
فقیرآکا ویل: د دوی له شهادت وروسته مو دغه مهمانخانه غیرفعال کړې او د دوی د مشهد بیرغونه په کې ولاړ دي ویل یې: زه د دوی د شهادت وروسته کوټې ته نه یم ورغلی یوازې یوه ورځ د کابل اداءرې عسکر راغلل او په زور یې کوټې ته د ننه کړم همدغه مهمانخانه اوس مهال د مېلمنو لپاره نه بلکې د شهیدانو په مزار بدله وه او په غیږ کې یې سپین بیرغونه ولاړ وو.
دغه پیښه په ۱۳۹۰ هـ ش کال د زمري د میاشتې په ۱۷مه نېټه رامنځته شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پنځمه بېلګه:

# نه پوهېږم کوم مې د ورور کوم د پلار قبر دی؟

په هېواد د امريکايي ښکېلاکګرو او د هغوی د مزدورانو ظلمونه پای نه مومي، د زخمي تاتوبي په غېږ کې داسې کورنۍ هم شته چې آن له لسو زيات د کورنۍ غړي يې د وحشي دښمن له لوري په شهادت رسېدلي، د دې شهيدانو کورنۍ د تلليو شازلميو د فراق درانه غمونه په اوږو وړي؛ راځئ! دا ځل د هغې کورنۍ دردمن داستان ولولو چې په يوه شپه يې يرغلګرو د کور اته غړي په شهادت رسولي.

دا د ميدان وردګو ولايت، نرخ ولسوالۍ د صد مردې قريې د کولک کلي کې د مولوي محمد نعيم« نصرت» کورنۍ ده، د دردمنې پېښې د ثبت په تکل همدې کور ته ورغلم او د دوی د کور له غړو او هغه کسانو سره مې وليدل چې د وحشت په غېږ کې يې شپه سبا کړې وه.

مولوي محمد نعيم «نصرت» چې له اولنيو مجاهدينو څخه دی او اوسمهال د ولايت د لومړۍ حوزې د آمر په حيث خدمت کوي راته وويل: کور کې مو د غرمې ډوډۍ وخوړه، په سيمه د دښمن کشفي الوتکو ځار کولو له خپل پلار سره په مجلس بوخت وم ورته مې وويل: پلارجانه! که دې خوښه وي زه به هجرت وکړم دلته سيمه کې حالات ښه نه دي، والد صاحب مې بسترې ته تکيه کړې وه يو سوړ اسوېلی يې ويوست ويې ويل: کاش الله تعالی ښه مقبول شهادت راته نصيب کړی وای! ورته مې وويل: ته چې شهيد شې موږ ته د يرغلګرو مقابله سخته



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ده، اوس خو چې موږ خدمت کو، په تا مو زړه تکيه وي لا تر اوسه خو مخته اوږد انقلاب پاتې دی، ده راته وويل: د الله تعالی په لار کې شهادت مې يوازنی آرمان دی.

د همدې ورځې وروسته ماښام کې مو موټر راوغوښت، شپه مو بېکسمند کې وکړه او سهار د ننګرهار په طرف لاړم، هلته يوې مدرسې ته لاړم کله چې ترې بهر شوم د يرغلګرو له لوري په مدرسه شپني عمليات تر سره شول او زه ترې لوی رب ﷻ وساتلم په همدې شپه دلته وطن کې هم زموږ په کور د امريکايانو له لوري عمليات تر سره شوي و، سهار مې چې څنګه موبايل چالان کړ د مولوي محمد الله ... اوښي نازک مير چې د نرخ د حاجي خپلو دی راته زنګ وکړ او ويل يې: مولوي صاحب! تاسو چېرته ياست! زموږ خو زړونه د ډېر غم له امله وچاودل، ورته مې وويل: زه نه يم خبر حال راته ووايه! ويل يې: ستاسو په کور چاپه وه او دوه ورونه دې شهيدان شوي، زموږ ملګري مولوي محمد شفيق راته وويل: مولوي صاحب آن اته نفر شهيدان شوي. بيا مې خالد ته چې زموږ ترورزی دی زنګ وکړ ورته ومې ويل: د موږ کور ته ولاړ شه! هغه ويل: په عمومي لار نه شم تللای هلته اريکيان دي د غره په لار به لاړ شم کله چې ورسېدو زنګ يې راته وکړ او مولوي محمد رحيم چې د حاجي مولوي صاحب وراره دی راسره خبره وکړه، د شهيدانو د شهادت مبارکي مې ورکړه او ورته مې وويل: زموږ والد صاحب ولې خبرې نه راسره کوي! ويل يې: هغه شهيد شوی، بيا مې ورته وويل: زموږ ورور خالد چېرته و؟ ويل يې: هغه هم شهيد شوی.

د مولوي صاحب سترګې له اوښکو ډکې شوې او خبرې يې سلګو ونيولې څو شېبې د خبرو ځای سلګو خپل کړ د پټکي په ول يې اوښکې صفا کړې ويل يې په موبايل کې مې ورته وويل: حيدري چېرته و؟ ويل



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يې: هغه هم شهيد شوی، بيا مې ورته وويل: فهيم چېرته و؟ ويل يې: هغه هم شهيد شوی او اخر کې مې ورته وويل: زموږ وړوکی ورور جميل جان چېرته و؟ ويل يې: هغه هم په شهادت رسېدلی، د مولوي صاحب خبرې بيا سلګو واخيستې او ناست کسان ټول په ژړا شول په مجلس کې يوازې د سلګو غږ اورېدل کېدو، نصرت صاحب وويل: په موبايل کې مې ورته وويل چې نور څوک شهيدان شوي؟ ده په ځواب کې راته وويل: چې محمد رحمان کاکا مې هم شهيد شو، قاري حميدالله او طالب العلم حبيب الله هم شهيدان شوي آخر کې مې ورته وويل: دا چې نور څوک کور کې نه دي پاتې د الله تعالی رضا ده او صبر به پرې کوو.
بيا مې ورته وويل: چې نور څوک نه دي پاتې زموږ مورکۍ راته راوغواړه چې د موبايل ساحې ته راشي! ځکه زموږ سيمه کې موبايل هر ځای کار نه کوي، هغه راغله او په موبايل کې مې خبرې ورسره پيل کړې، زياته غيرتي وه، اول مې د شهيدانو مبارکي ورکړه او ورته مې وويل: د الله ﷻ رضا ده خپه کېږه مه دا خو قرباني دي، موږ او تاسو به دا لار په لوړ عزم پالو! داډ او اطمينان مې ورکړ او ورته مې وويل: اوس زه څنګه وکړم؟ ويل يې: زويه ته راشه ځکه کور کې هېڅوک هم نشته يوازې په خړو ديوالو مو سترګې لګېږي.
مورکۍ ته مې وويل: څرنګه کيسه وه؟ ويل يې: پلار دې بېګا له جماعت څخه راغلو او قران کريم يې د تلاوت لپاره را واخيست، تلاوت يې کولو چې طيارې راغلې قران کريم يې په رومال کې وپېچلو، بچيانو ته يې غږ وکړ: راځئ چې د باندې لاړ شو طيارې راغلې، دوی لاړل داسې کم وخت ووتلو چې د بمبارد غږ شو دوی مو ليدل چې د باغونو منځ کې تر سخت بمبارد لاندې وو لږ وخت وروسته ورته يرغلګر پياده هم را ورسېدل او دوی ته يې برقونه رڼا کول، دغه ناولي عسکر بيا کور ته هم



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



راغلل زنانه مو يوې کوټې ته کړې او دوی تالاشي شروع کړه آن د زنانوو صندقونه يې هم وکتل او زيات د کور سامان يې له ځان سره وړی و.
مولوي صاحب ويل: ما ورته وويل: مورې دغه کفار دي وحشت د دوی عادت دی الله تعالى به مور او تاسو ته اجرونه راکړي.
مورکۍ کيسې ته ادامه ورکړه ويل يې: امريکايانو د تالاشۍ په مهال راته وويل: د زامنو تذکرې دې راکړه! ما ويل: هغه نشته او ټول په مزدورۍ پسې تللي، بيا يې راته وويل: محمد نعيم چېرته؟ ما ويل: کور کې نشته.
بيا د شهيدانو خوا ته ورغلم اول مې ستاسو پلار وليد چې وړوکی بچی کشر حافظ زوی مې يې غېږ کې نيولی و او لاس يې ترې چاپېر کړی وو، دوی دواړه همداسې په شهادت رسېدلي وو، خلکو جدا کول او دوی نه بېلېدل مورکۍ ويل: ما ورته د شهادت مبارکي ورکړه او دوی ته مې چې لاس ور اوږد کړ سره جلا مې کړل لاسونه مې په وينو سره شول بيا د شهيدانو څخه مخته شوم او په خوږ کې مې لاس له وينو پرېولل، ويل مې هسې نه ولوېږم زنانه يم!
«نصرت» صاحب راته ويل: مورکۍ مې دغه ټوله کيسه راته وکړه او داسې ښکارېدله چې د اسمان طرف ته ګوري او فضا تعقيبوي څکه يې اخر کې راته ويل: زويکيه! اوس هم په کلي بنګنه طياره ګرځي نو ته مه راځه هسې نه وي شهيد دې کړي، غمونه مو په زړه انبار دي، يو خوا د ورونو او پلار شهادت، بل خوا د يتيمانو پالنه او سخته غريبي ده.
بيا اووه مياشتې وروسته خپل کور ته راغلم تر ټولو دردونکې دا وه چې له سړيو څخه د ډک کوره وتلی وم کله چې راغلم ټول په شهادت رسېدلي وو، ماشومان ټول راباندې راټول شول او خوښي يې کولې څکه د دوی پلرونه په شهادت رسېدلي وو.
تر ټولو دردونکې خاطره دا وه چې مورکۍ راته ويل: يتيم کريم الله ولد



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شهيد عبدالشكور «حيدري» داسې مهال چې د اختر ورځې ته دوه شپې پاتې وې له ما سره د شهيدانو قبرونو ته ولاړو بيا يې ډېره راواخيستله او د خپل پلار جان د قبر د سر تيږه يې تکوله هغه غږ نه ورته کولو بيا يې ډېره قبر ته برابره کړه او قبر يې راسپړلو ويل يې انا پلار مې د اختر لپاره کور ته راسره بيايم.

بيا چې کله هديرې ته ولاړم د دوی زيارتونه مې وکړل تر ټولو سخته شېبه وه څکه د دوی دفن کېدل مو نه وو ليدلي، نه پوهيدم چې کوم مې د پلار او کوم مې د ورونو قبر دی؟

له مولوي صاحب مې وروستی پوښتنه وکړه د ژوند تر ټولو ترخه خاطره دې کومه ده؟ ويل يې: د ژوند تر ټولو ترخه خاطره مې هغه زنګ و، چې د کور له چاپې يې خبر کړم دغه راز چې کله د شهيدانو قبرونو ته لاړ شم او نه يې پېژنم چې کوم مې پلار او کوم مې ورونو دي!؟

په مجلس کې د «نصرت» صاحب د کاکا زوی هم و، له هغه مې وپوښتل: ستاسو څوک شهيدان شوي؟ ويل يې: يو مې زوی قاري حميدالله، بل مې ورور محمد الرحمن او بل مې وراره قاري حبيب الله دری واړه په شهادت ورسېدل.

ته د چاپې په مهال چېرته وې؟

مولوي محمد الله: ماخستن مهال مې کتاب کتلو د آسمان غېږ طيارو محاصره کړې وه، محمد رحمن راباندې غږ وکړ ويل يې: مولوي صاحب راجګ شه! طيارې راغلې، زه چې را پورته شوم منډې مې کړې، ورور مې مخته او وراره مې شا ته راپسې و، کشرۍ وراره مې حبيب الله هم راپسې و، او کمپله يې له څان تاو کړې وه، ورغږ مې کړ! حبيب الله ته مه راځه ماشوم يې تاته څه نه وايي، دی همداسې روان و، او شا ته ونه ګرځېدلو څکه پدې پوه و چې يرغلګر د بشر ضد کړنې تر سره کوي او



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



څوک نه پرېږدي! کور ته مخامخ د زردالو ونو ته لاړم خکه دلته زموږ د پنا ځای و او د شپې په مهال به چې کله خطر زیات و همدلته به پټېدو خو بد بختانه داخل دغه ځای د جاسوسانو له لوري یرغلګرو ته ښودل شوی و څکه کشفي طيارې هم په همدې ساحه تاوېدلې د پټي په سر کې یوه ویاله وه همله پټ شوم چې څرخکي طيارې راورسېدې او ضربه یې وکړه، زه لږ نور هم مخته لاړم او د منو په څېره کې مې ځان په خړ خادر کې پټ کړ، طيارو داسې بمبارد کولو چې ځمکه یې لړزوله زه به یې راپورته کړم. عجیبه داوه په همدې حال کې به هم پرکالي (نرى خوب) راباندې راغى او ویده به شوم بیا به د بمبارد آواز بېرته ویښ کړم، په همدې انتظار وم چې اوس به په شهادت رسېږم د طيارو غږونه یو څه خاموش شول او د پیاده کسانو آواز اورېدل کېدو چې د مرمیو فیرونه هم وشول زما په ګمان زموږ د کورنۍ کوم یو ژوندى پاتې و هغه یې په مرمیو وویشتل زما له څنګ سره تېر شول د انګریزي ژبې او ترجمان آواز هم ورسره و، ما لږ سترګې لوڅې کړې چې څوک ژوندي دي دوی را وګرځېدل ویل یې: د منو په کوته کې یو کس ژوندى پاتې دی کله چې راورسېدل ویل یې: واسکټ او کمیس دې وباسه او وروسته یې بیا پړمخې څملولم او په شا مې راکېناستل. ویل یې: څوک یې؟ ما ویل: د کولک حبیب الرحمن یم او دلته منې ساتم غریب سړی یم، دوی په لغتوو ووهلم او په سر مې یې تفنګچه راکېښوده، بیا یې راپورته کړم او یو کس راغلو چې مخ یې په تور حجاب پټ کړی و، راته یې په ځیر ځیر وکتل او رانه لاړو سمدلاسه امریکایي راغلو او راته یې وویل: تا خو موږ ته دروغ ویلي ته حبیب الرحمن نه بلکه محمدالله یې! ورته ومې ویل: دلته سیمه کې موږ خپلو مابینو کې بدی سره لرو څکه مې نوم غلط در وښودلو او بیا یې راته ویل: ستاسو کور ته د تالاشۍ لپاره څو، کور ته



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



داسې مهال د نه شوم چې لاسونه مې دواړه تړل شوي وو او دوی راپسې وو، زموږ کور يې ټول وکتلو او څه په لاس ورنه غلل، له دې وروسته يې په هليکوپترکې ميدان ښار ته يوړم او هلته يې د امريکايانو بېز کې بندي کړم، کله يې چې تحقيق رانه کولو زموږ د کور د شهيدانو عکسونه يې راوښودل دغه مې د ژوند تر ټولو ترخه خاطره ده، کله مې چې دوی وليدل چې ټول يې په شهادت رسولي له ځان سره مې ويل کور کې خو هېڅ ناهرينه نه دي پاتې زنانه به څه کوي! ويل يې د هر يوه عکس به يې چې را واخيستل ويل به يې: دغه څه کار کولو؟ مابه ورته ويل: غريبکار و.

د زندان څخه يې چې کله ازاد کړم کور ته راغلم دغه ډېر دردمن حالت و څکه د کور وګړي مو په شهادت رسېدلي و!

د مولوي صاحب د کاکا زوی فضل الرحمن هم دغه دردمن حالت راته انځور کړ، نوموړی هم د همدې چاپې په مهال د بمبارد شوې ساحې سره نږدې و چې لوی رب يې حفاظت او ساتنه کړې وه.

دغه شپني عمليات چې د ۱۳۹۲ هـ ش کال د لړم مياشتې په ۳ مه نېټه تر سره شول ټول پکې (۸) کسان په شهادت ورسېدل ۱ـ شهيد عبدالحليم پلار ۲ـ شهيد عبدالغفور ۳ـ شهيد عبدالشکور ۴ـ شهيد محمد فهيم ۵ـ شهيد محمد جميل.

همدارنګه د شهيد عبد الحليم د کاکا زوی او دوه لمسيان هم په شهادت ورسېدل چې نومونه يې په لاندې ډول دي ۱ـ شهيد محمد رحمان ولد حاجي محمد نذير ۲ـ شهيد قاري حميدالله ولد فضل الرحمن ۳ـ شهيد طالب العلم حبيب الله ولد شهيد محمد الرحمن.

د دې کورنۍ د شهيدانو داستان پای نه مومي بلکه څلور نور ګلابي ځوانان يې هم د اسلام شمعې ته لوګی کړل چې نومونه يې په لاندې ډول



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دي لومړی: شهید محمد ایاز «حیدري» ولد مرحوم عبدالغیاث، نوموړي د ۱۳۹۷ هـ ش کال د ثور په ۲۱ مه د میدان وردگو ولایت، نرخ ولسوالی د کریمدادو په ساحه کې داسې مهال چې په لومړي خط کې په عملیاتو بوخت و د یرغلگرو له لوري د یوې چاپې په مهال په شهادت ورسېد.
دوهم: شهید محمد داود ولد محمد عمر او دریم: شهید رحیم الله ولد عبدالرحمن د عمرخېلو ساحه کې داسې مهال د امریکیانو له لوري په شهادت ورسېد چې مزدوری ته روان و، او د کار جامې ورسره وې، دوی د شهادت په مهال زیات وحشت ورسره وکړ، د غوړیو بوشکې ته یې اور اچولی و، او هغه یې وربانډې څخوله کله چې شهید شو بیا یې د سورخ بیني په نوم غره کې د ده جسد اچولی و، څلور شپې وروسته سپین ږیري پسې ورغلل د نوموړي جسد الله تعالی ساتلی و...
مولوي محمد نعیم ن«صرت» وايي څلورم شهید: محمد نصیر «سنګري» چې زما ورور و د نرخ ولسوالی د عمرخېلو په قریه کې د تاشلق په ساحه کې د ۱۳۸۸ هـ ش کال د سنبلې په ۲۸ نېټه د خایي ملېشو له لوري د مخامخ جگړې په مهال په شهادت ورسېد، دغه اتل شهید یو څل د توکرک په ساحه کې د امریکایانو سره د مخامخ جگړې په مهال شپږ امریکایان ووژل. د دې کورنۍ بل شهید عبدالباري و، چې د فتحې وروسته په طورخم کې د سرحدي پولیسو په لیکو کې په خدمت بوخت و، چې د پاکستاني ملېشو له لوري په شهادت ورسېد.
شهید محمد فهیم ته د کورنۍ له لوري کوزده شوې وه او په څو شپو کې یې د واده مراسم پیلېدل خو د یرغلگرو له لوري یې ارمانونه نیمه خوا او ناوکی د پلار په کور کونډه شوه.

انا لله و انا الیه راجعون



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شپږمه بېلګه:

# نوم‌ورکي کسان

دا هغه دردمن توري دي چې د ميدان وردګو ولايت، مرکز د محمد عليم کلي د نعمت الله د عبدالمالک زوی لاس کې نيول شوي کاغذ باندې ليک و، دغه کاغذ چې د ګلابي ځوانانو تصويرونه پرې کښل شوي وو له هر تصوير لاندې نومونه ليکل شوي وو راځئ دغه دردمن داستان ولولو!

د هېواد په مظلومو اولسونو د يرغلګرو له لوري تر سره کېدونکو جناياتو پای نه موندلو هره ورځ به د هېواد له غېږې د کړيکو او زګيرويو آوازونه د اسمان لور ته بدرګه کېدل د ميدان وردګو ولايت مرکز کې هغه کور ته ورغلم چې دوه ځوانان يې د ښکېلاک په مهال ورک شوي وو د دوی مړ او ژوندی معلومېدلو کورنی يې پسې لالهانده ګرځېدلې د دې شهيدانو ورور نعمت الله راته دغه دردمنه کيسه انځور کړه ويل يې: د ۱۳۹۱ هـ ش کال د لړم مياشتې په ۳۰ مه نېټه کور کې وم سهار وختي د لمانځه لپاره راپورته شوم دروازه مې خلاصه کړه چې اواز وشو «لاس پورته کړه» کله مې چې ورته پام شو دريشي په تن مخ پټي کسان ولاړ دي د اوداسه کوزې مې په ځمکه کېښوده دوی تر مټ ونيولم لاس يې تر شا راوتړل او د ديوال څنګ ته يې کينولم، دوی له بامونو د سرای منځ ته په خپل سر راښکته شوي وو ور يې رامات کړ، د سپيشل فورس عسکرو يوه لويه ډله د سرای منځ ته رادننه شوه تا به ويل له يوې لويې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



فرقې سره يې جنګ دی، درې نور ورونه مې (صديق الله، عصمت الله او حکمت الله) يې هم ونيول او د کلا مخته يې بوتلل زمور د کور منځ کې موټرسيکل ولاړ و ويل يې: کيلي راکړئ له عصمت الله سره کيلي وه هغه ورغللو کله چې دوی ته ورسېد له صديق الله سره يې کوټې ته د ننه کړ، د کور زنانه يې خاته کوټې ته کړې د حکمت الله د پښو او لاسونو غوښې يې په امبور شکولې چيغې يې د باندې راوتلې د پښو ګوتې يې هم په امبور ترې پرې کړې وې، څه وخت وروسته يې صديق الله يې راوايستلو او دوه عسکرو تر متو نيولی و غږ يې وکړ ويل يې وروره هغه بل خو يې شهيد کړ، تسلې مې ورکړه ورته ويل مې د الله تعالی به همدا خوښه وي د هغه په فيصله به صبر کوو، صديق الله يې له ځان سره د کلي نورو کورونو ته بوتللو او حکمت الله يې هم داسې حال کې راوايستلو چې څو کسانو نيولی و او د دردونو له امله يې سوي اسويلي د اسمان لور ته بدرګه کول زما تر څنګ يې کينولو يو خوا د يرغلګرو له لوري د وحشت دوام بل طرف د وروک سلګی هغه دردونه وو چې کله به مې هير نه شي، وروسته يې د کلي زيات خلک راټول کړل او همدلته يې سرې هوا ته کينولي وو، لږ وروسته يې موټر راوستل او د نرخ ولسوالی بېز ته يې ورسولو هلته يې داسې مهال قطار درولي وو چې د څمکې مخ واورې سپين کړی و ويل يې کينئ، بيا يې په لاسونو باندې سپرې راوشيندلې او په کاغذونو يې لاس راباندې پاک کړل تر څو د معايناتو په مهال سم معلوم شي.

عسکرو ويل: درې کسان پاتې شئ نور ولاړ شئ په دې کې يې زما درې ورونه (عصمت الله، صديق الله او حکمت الله) له ځان سره ايسار کړل او نور يې ټول خوشي کړل، زه پښې لوڅې تر کوره راغلم کور کې چيغې او سلګی وې د محشر ورځ وه، دوه ورځې وروسته يې حکمت الله را



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خوشی کړ داسې یې وهلی و چې لاس یې مات وو، د دې وحشت لمن نوره هم اوږده شوه هره ورځ به مظلوم هېوادوال نیول کېدل او ورکېدل، په یو څو شپو کې یې ان تر یولسو پورې کسان ونیول د دوی د ژوند او مرگ درک نه معلومېدو د ورک شوو کسانو نومونه په لاندې ډول دي:

۱ـ ملاعتیق ۲ـ محراب الدین ولد یارمحمد۳ـ شاپور ۴ـ محمد منصور ولد محمد عثمان، دوی څلور واړه د میدان وردگ ولایت، مرکز د دې افغانانو اوسېدونکي وو ۵ ـ نور الله ولد حضرت الله د غنډاخېلو ٦ ـ نواب د ابراهیم خېلو ۷ ـ صدیق الله ولد عبدالمالک د امرخېلو د کلي اوسېدونکی ۸ـ عصمت الله ولد عبدالمالک د امرخېلو ۹ـ محمد حسن ولد محمد نبي د ده افغانانو د کلي اوسېدونکی د میدان ښار د ښاروالۍ کارمند ۱۰ ـ محمد قسیم ولد عبد الغفار د کریمدادو د ساحې ۱۱ ـ عتیق الله ولد سیدرسول د امرخېلو د کلي.

د دغه ټولو کسانو کورنۍ راغلې او یو ځای شوې د دوی عکسونه مو په یوه ورقه چاپ کړل او له ځان سره به مو گرځول موږ ټول د یوې لارې لارویان او په یوه هدف پسې گرځېدلو زموږ ټولو کورنۍ په زړه زخمي وې او د ځوانانو د راتگ په انتظار کې یې سترگې خښې وې خو دوی خبر نه وو چې هغه د یرغلگرو له لوري تر خاورو لاندې شوي او کله به هم رانه شي:

په شهید ترخې زرغونې شوې،
مور یې د ژوند طمعه لرې چې رابه شینه!

د وحشتونو په دوام کې دوی د فولادخانې په ساحه کې لالی له خپل دوکان راوایستلو په شهادت یې ورساوه او د ابراهیم خېلو د کلي یو محصل یې هم په شهادت ورساوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د نعمت الله په لاس کې هماغه ورقه ده چې د یولسو شهیدانو انځورونه پرې ټومبلي په اوښکو ډکو سترګو به یې په هر عکس ګوته اېښودله او بیا به یې د دوی نومونه اخیستل، ویل یې سهار به د ټولو ورکو خوانانو وارثان سره یو ځای او د دوی په لټه کې به ولایت،ه قوماندانې او کله بیا ان تر وزارت پورې هم لاړلو خو د ظالم حکمران په زړه کله هم د رحم اوبه توی نه شوې بلکه نور به یې هم تهدید کړلو او بېلابېلې تاپې به یې راباندې لګولې ویل به یې تاسو طالبان یئ همدا مو جزا ده، مازدیګر به د خپل کور په لور د مایوسی په حالت کې راستانه شولو خو کله به چې سبا له خوبه را ویښ شولو په زړه به مو د خپلو ورونو غمونه تازه وو بیا به د دوی د پیدا کېدلو په تکل روان شوو ټولو به ویل نن پیدا کیږي ان شاءالله، له شپږو میاشتو منډو وروسته د کابل د اجیرې اداړې د دفاع وزیر رحیم وردګ راته اجازه واخیستله تر څو د نرخ د بېز شا او خوا په خپلو ورونو پسې وګورو هلته مو له ځان سره بوکلین بوتلو او د بېز څنګ ته ځایونه مو وپلټل کله به په وینو سره توشکه راوختله او کله بیا په وینو سرې جامې مورږ خپل څوک ونه موندل، دغه تلل هم د سر په قیمت و څکه دغه مهال چې مورږ ځایونه پلټل د کابل څخه د نرخ ولسوالی ته لویه قوه را روانه وه چې د امریکایانو په ګډون د کابل اداړې چارواکي هم ورسره وو او طالبانو به داسې مهال لارې په ماینونو فرش کولې تر څو مکار دښمن خپل هدف ته ونه رسېږي، د بوکلین د بیولو له امله یې زه وروغوښتلم او راته ویل یې: که تاسو طالبان نه وای نو بوکلین مو څنګه تر دې ځایه راورسولو دلته خو طالبان ماینونه اېږدي مورږ د دومره لوی قطاره سره هم په ډېر احتیاط راځو مورږ ورته بهانې وکړې او ځان مو ترې بچ کړ.

یوه کوچې چې مېرې یې خرڅولې حال راکړ ویل یې: د نرخ بېز ته څېرمه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د يوه بدن ټوټې پيدا شوې دي، مور ولسوالۍ ته د اجازې اخيستلو په تکل ورغلو هغه ويل: مور نه يو خبر وروسته بېز ته ورغلو هلته کمانډويان پراته وو، ورته ومو ويل: يابه اجازه راکوئ تر څو دې سيمې ته ورشو ياموږ همدلته شهيدان کړئ، له ډېرو زاريو وروسته يې اجازه راته وکړه کله چې هغه سيمې ته ورغلو چې کوچې راته ښودلې وه غوښې مو پيدا کړې، راټولې مو کړې دغه غوښې د ابراهيم خېلو د کلي د نواب وې د نوموړي شهيد ورور ته مو زنګ وکړ او پوښتنه مو ترې وکړه د ورور جامې دې څرنګه وې؟ ويل يې: سپينې جامې وې چې څهار کونجه کنډل شوې وې په د سيمه کې لږ نور هم وګرځېدم په بوټيو کې مې د همدې شهيد د جامو د لمنې يوه ټوټه پيدا کړه چې په ترخو (يو نوعه بوټى ده) کې نښتې وه د دې شهيد هډوکي همدلته پراته وو. خلکو ويل: په ماين يې کينولی او انفجار يې ورکړی.

د امريکايانو د معسکر (د نظامي تربيت ځای) په ميدان کې يې د همدې ورکو کسانو له جملې ډېر تر خاورو لاندې کړي وو، د نورالله يواځې سر پيدا شو نور ټوټه ټوټه و، نورالله جان داسې مهال د نرۍ بشردوستان له خان سره وړې چې يوازې درې شپې وړاندې يې د واده مراسم تېر شوې وو نازنينې ناوې به هره شپه د ده د انتظار شپې شمارلې.

لا يې لاسونو کې نکريزې وچې شوې نه وې
په ناوکۍ باندې مو غږ وشو چې کونډه شولې

په همدې سيمه کې به د چا يوازې پښه، د چا يا لاس او د چا د وجود نورې برخې پيدا کېدلې کورنۍ يې له جامو، ګړۍ او نورو نښو له رويه پېژندل او د دوی د تدفين مراسم به يې سر ته رسول.

د دې شهيدانو د نازک تن په ټوټو قبرونه جوړ شول تر څو يې کورنۍ په



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ليدو تسلي وکړي، دلته يوازې دغه شهيدان نه وو چې د يرغلگرو له لوري ورک شول بلکه د هېواد په نورو سيمو کې هم د يرغلگرو او د هغوی د لاسپوڅو غلامانو له خوا د هېواد گڼ زلموټي داسي ورک شول چې د جسدونو يې هيڅ درک نه معلومېږي د کندهار ولايت په ريگونو کې اوس هم د انسانانو جسدونه وخت نا وخت پيدا شي دا هغه تنکي زلمي دي چې مورکۍ يې اوس هم د راتگ په تکل دروازې ته سترگې نيولې خو خبره نه ده چې دوی د وخت د فرعوني لښکرو له لوري ترې تم دي او کله به بيا رانه شي...



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# لوگر

د لوگر ولايت د هېواد د پلازمېنې په جنوب شرق کې موقعيت لري، مرکز يې پل علم او مساحت يې (۴۵۶۸) کيلو ميتر دی.
ولايت گڼ پوهان او علما لري، دغه راز يې د امريکايي اشغالگرو په وړاندې د غزا ډگرونه تاند ساتلي، د ولايت زياتره سيمې به د حق او باطل د گرمو معرکو شاهدې وې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اوومه بېلګه:

# د اختر په شپه شهيد شو

روسانو به ويل: کله چې موږ له افغانستان ووزو د هېواد ځمکه به ځو کاله جنګ کوي همداسې وشول کله چې دوی د هېواد غېږ کې مات او په ذلت ووتل د دوي هغه ماينونه او مرمۍ چې په غرونو او رغونو کې يې پاشلي وو ځو کاله انفجارونه کول او د هېواد ګڼ ماشومان، ښځې او ځوانان معيوب يا هم په شهادت ورسېدل، امريکايي ښکېلاک هم دلته داسې کړنې تر سره کړې د لوګر ولايت مرکز اړوند د پادخواب شانه کلي اوسېدونکي حاجي شراب ګل ولد دين ګل چې دوه زامن او دوه خورييونه يې د اشغالګرو په مرمۍ کې په شهادت رسېدلي وو داسې کيسه راته وکړه: د شپې زموږ د کلي د عبدالکبير آکا په کور کې د امريکايانو بنګنه طياره ولوېدله، څرخکې له بېز راپورته او د شپې تر يوولسو تاويدلې، بيا دوی له بېز څخه پياده راغلل او کور يې تالاشي کړ، طياره يې ورسره يوړله او دوی بېرته ولاړل د تللو په مهال يې زموږ د کورونو څنګ ته چاوديدونکي توکي اچولي و، سهار ماشومان د کور مخته د ساعت تيرې لپاره راووتل دوی چې کله دغه چاوديدونکو توکي وليدل په لاس کې يې واخيستل او انفجار يې وکړ څلور ماشومان چې دوه مې زامن او دوه مې خورييونه وو په شهادت ورسېدل.

ـ ته کله خبر شوې؟

حاجي شراب ګل: کور کې مو سهار چای وڅښلو بيا وزير کلا ته ولاړم



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هلته د محمد عمر په کور کې پايوازي وه او موږ ورته دعوت شوي وو زموږ د کلي حاجي افغان راته زنګ وکړ ويل يې: صحت عامې ته راشه هلته ورغلم زوی او خوريې مې په بستر کې پراته وو او غوږې يې تولې مرميو وړې وې ډاکترانو ويل: دلته يې علاج نه کيږي کابل ته يې يوسئ، بيا يې موټر راوستلو مشر زوی او کليوال مې ورسره لاړل او ماته يې ويل: ته کور ته لاړ شه زه د کور په خوا روان شوم په لار کې مې اخبنی حبيب الله په مخه راغلو او راته ويل يې: زما زوی هم شهيد شوی او ستا زوی هم.

ـ اول مو په کور کې په چا سترګې ولګېدلې؟

ـ حاجي شراب ګل: اول مې په خپل بچي سترګې ولګېدلې او په ليدو يې سخت ودرديدلم، طبيعت مې زيات خراب شو.

ـ د زخمي زوی په ليدو ډېر دردمن شوې که د شهيد؟

ـ حاجي شراب ګل: د شهيد زوی په ليدلو ډېر غمجن شوم خکه اميد مې و چې الله تعالی قادر دی چې زخمي زوی ته مې شفا ورکړي.

ـ په دې دواړو کې دې کوم يو ډېر يادېږي؟

ـ حاجي شراب ګل: دغه اول چې شهيد شو (محمد نعيم) ډېر مې يادېږي کله به چې له ما سره کېناست داسې خبرې به يې کولې لکه د لوی سړي، علاقه يې هم زياته راسره کوله او داسې مشورې به يې راکولې لکه پلار يې چې خپلو بچيانو ته ورکوي او کله به چې کومه پټه خبر وه د هغه په اړه به يې هم مشوره راکوله.

ـ کله ډېر درته يادېږي؟

ـ حاجي شراب ګل: کور کې چې کله کوم مشکل پيښ شي سترګو ته مې ودريږي چې اوس ژوندی وی د دغه موضوع په اړه به يې ماته خبر کړې وی!



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ـ هغه بل زوی دي چې زخمي و ځنګه شو؟

ـ حاجي شراب ګل: هغه په کابل کې بیستر و زه به دوه یا درې ورځې وروسته د ده پوښتنې ته ورتلم د اختر شپه وه د نورو ماشومانو تر څنګ مو ده ته هم جامې کړې وې چې ماخستن زنګ راغلو او ویل یې: هغه هلک وفات شو بیا ورغلو او رامو وړلو د اختر په ورځ مو د ده جنازه وکړه او د اختر د خوشحالیو ځای د شهیدانو فاتحې خپل کړ او جامې یې اوس هم کور کې ایښې مور یې اوس هم یادوي او هغه بل خوریې مو بیا شپږمه شپه شهید شو.

د دغه شهیدانو نومونه دا دي:

زامن مې هر یو محمد عظیم او محمد نعیم او د خور زامن مې نجم الدین او بلال.

دغه واقعه په ۱۳۸۵ هـ ش کال کې پېښه شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*اتمه بېلګه:*

# په پړوني يې د شهيدو بچو مخونه پاکول!

د لوګر ولايت چې د هېواد په جنوب شرق کې موقعيت لري دا ولايت تولې شپږ ولسوالۍ لري، ولايت د هېواد د نورو ولايتونو په شان له طبعي ښکلا برخمن دی، د دې ولايت مومنې پرګنې د ازادۍ له ليلى سره بې سارې مينه لري؛ که د روسي ښکېلاک په وړاندې دا جنتي سيمې د حماسو سنګر وې بل طرف بيا د ناتوخېلو په وړاندې هم له دې سيمې د الجهاد نارې خاموشې نه شوې بلکه د دې ولايت لر او بر يرغلګرو ته په کلک سنګر بدل شول؛ بل طرف بيا يرغلګرو د خپل معمول له مخې د دې ولايت له احرارو پرګنو د خپلو وژل شويو انتقام واخيست، د همدې ولايت مرکز ته د دې سيمې د پادخواب شانه اوسېدونکې محمد اسماعيل«همت» په ملتيا ولاړو تر څو په سيمه کې د اشغالګرو جنايات ثبت او راتلونکو نسلونو ته يې د تاريخ په پاڼو کې پرېږدو «همت» صاحب د لارې په اوږدو کې د تېر شل کلن اشغال په مهال د ترسره شويو وحشتونو کيسې کولې د ياد ولايت د خوشى ولسوالۍ په لار د پادخابه شانې د کلي په مربوطاتو کې هغه پاټک راوښودلو چې د امريکايانو په لاس جوړې د کابل اداءرې د امنيت مربوط اربکيان وو چې د ولسي خلکو کوم خالي موټر به راغلو دوی به پوستو ته اوبه پرې وړلې عسکرو به د رمضان المبارک په مياشت کې په زور خلک له موټرو راښکته کول او روژې يې پرې خوړې. لږ مخته د ولايت د مرکز اړوند وزير کلا سيمې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د کوچیانو هغه کورنۍ ته ورغلو چې د شپنې چاپې په مهال یې څلور تنکي ځوانان په شهادت رسېدلي وو کله چې د دوی کور ته ورغلو د شهیدانو ورور عبدالقدیم د محمدجي زوی د کور مخته ناست و د شهیدانو ورونو دکیسې په اړه مې ترې وپوښتل ویل یې: زه کور کې وم بنګنې طیارې زیاتې ګرځیدلې سوچ مې څکه نه و چې دا لومړی ځل نه وو بلکه هره ورځ به فضا د دښمن کشفي طیارو اشغال کړې وه، څلور ورونه مې ولایت ته تللي وو ناوخته شول زنګ مې پسې وکړ او ورته مې وویل: حالات خراب دي او ناوخته کېږي کور ته زر راشئ! دوی چې کله راغلي وو د کور مخته مهمانخانې ته ننوتلي وو، کله چې مو چې د خوب غېږ ته ځان وسپارلو طیارې نورې هم را اضافه شوي د شپې دوه بجې کیدونکې وې چې فضا څو رنګه طیارو په سر واخیستله، یوه هلیکوپتر د کور مخته او بله چپ طرف ته کېناستله، ټانګونه هم د خضر له بېز راغلي وو او زموږ د کلي د ړنګې ژرندې سره ولاړ وو، له هغه ځای امریکایان پیاده راغلل او زموږ کور یې محاصره کړ موږ کور کې ویده و چې هلیکوپتر د کلا په سر په ټیټ پرواز راغله زموږ کور کې یې تول راویښ کړل، په دې وخت کې امریکایانو له هر طرف زینې راواچولې او لیزرونه یې بل کړي وو، ترجمان په لاسي لوډسپیکر کې نارې وهلې وبه خوځیږئ! هر څوک په خپل ځای کینئ! شېبه وروسته یې زموږ د کور ورې او لویې دروازې ته ماینونه کېښودل او وایې لوزولې، دوی د مهمانخانې په بام پراته وو او زموږ د کور د کوټو خوا ته یې لیزر برابر کړی و، لږ وروسته یې بیا اعلان وکړ: اسکتونه مو لېرې کړئ، موږ په یوه جوړه کالیو کې د باندې راووتلو دوی زموږ د هر یوه لاسونه اولچک کړل، زموږ د کاکا زامن چې زموږ څنګ ته یې کور دی هغوی یې هم همدلته راوړل او زموږ تر څنګ یې ولچک کړل؛ له دوی سره ښځینه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



عسکرې هم وې هغوی یې زمونږ کوټو ته ورپرېښودلې او زمونږ کور یې پرې تالاشي کړ، په کور کې د ننه یې د زنانو صندقونه هم مات کړل. د شپې دری بجې شوې چې امریکایي عسکر د خپل ترجمان په ملتیا بیا زمونږ څنګ ته راغلل او له مونږ یې یو یو د کور تلخوني(تهکاوی) ته د ننه کول هلته یې شهیدان ورښودل او ورته ویل یې: تاسو دغه پیژنئ؟ اخر یې زه وروستلم او راته یې وویل: دغه پیژنې؟ کله مې چې ورته وکتل چې ټول مې وروڼه دي ورته مې وویل: دا خو مې ټول وروڼه دي! دوی زمونږ څلور وروڼه په مهمانخانه کې په شهادت رسولي وو بیا یې چې کله د دوی تذکرې کتلې وې چې دا خو ټول د یوه پلار زامن دي څکه یې مونږ هر یو هلته وروستلو او پوښتني یې کولې.

امریکایانو راته ویل: دوی څه کار کولو؟ ورته مې وویل: دوه د مازدا موټروانان دي، یو یې کلینر او بل بیا مېرې څروې د قدیم خبرې سلګو واخیستلې او په ژړه غونې غږ یې بیا خبرې پیل کړې ویل یې: امریکایانو راته بار بار ویل: دغه وروڼو دې له طالبانو سره لاس لرلو. ورته مې وویل: له طالبانو سره مو نه دي لیدلي.

قدیم ویل: مولوي صاحب! په کور او ماشومانو مو داسې شپه تېره شوه معمولاً سهار د آرام او خوښۍ پیغام وي چې بیا مو نه ده لیدلې. دغه دردمنه شپه سهار شوه خو دغه سهار بیا د خوښۍ نه بلکه د غمونو یو بل باب و چې خلاص شو دوی چې کله زمونږ له کور د خضر بېز په لور روان شول زمونږ د کور پاتې نارینه یې هم موټرو ته هسک کړل ورته مې وویل: مونږ یو نفر دلته پرېږدئ څکه کور کې مو هېڅوک هم نشته او دلته زمونږ کلیوال هم نشته مونږ د لوګر د ازرې یو یو کور دلته راغلي یو، دوی ویل: ته به ضرور راسره څې په موبایل ده له دوی سره ډېرې رابطې کړې بلاخره سپین ږیرو ورته وویل او زه یې پرېښولم.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



موركى مو كله خبره شوه؟

قديم: كله يې چې دوى په رينجرو كې ورسره بوتلل د كور خوا ته روان شوم موركى په منډه مخې ته راغله او ويل يې: زويه ښه شو چې ته ترې خلاص شوې دا نور به هم الله تعالى راخلاص كړي، ورته مې وويل: مورې د ما غم مه كوه د حجرې غم وكړه ويل يې هلته څه كيسه ده؟ ورته مې وويل: راڅه حجرې ته كله چې حجرې ته د ننه شولو موركى خپل شهيدان بچيان وليدل په زوره يې و ژړل، د خپلو بچيانو څنګ ته كېناسته او په خپل پړوني يې د شهيدانو زامنو مخونه پاكول.

چا ته مو ونه ويل چې ملكيان دي؟

قديم: زموږ سپين ږيري آن د هغه وخت والي جنرال عتيق الله «لودين» ته هم ورغلل چې دغه ملكيان مو ولې شهيدان كړي دوى ويل: تاسو طالبانو ته ډوډۍ وركوى.

كومې خاطرې يې ډېرې درته يادېږي؟

قديم: خاطرې يې ډېرې زياتې دي كله هم چې زموږ په كور كې د خوشحالى مراسم وي يا د اختر ورځ وي دوى مو سترګو ته ولاړ وي او ټول وايي كاش دوى اوس ژوندي واى د ځوانى مرګ به دې تل په زړه داغ وي! د دوى له شهادت وروسته د ډېر غم له امله زموږ مور ته سرطان ناروغي پيدا شوه او درى مياشتې وروسته ترې وفات شوه، كشر ورور مو «محمد امين» هم د ډېر غم له امله سرطان او وروسته بيا وفات شو.

كوم يو ډېر درباندې ګران و؟

قديم: يو لال دين او بل مې كشر ورور (باروكى) ډېر راباندې ګران وو، باروكى داسې هلک و چې د ټول كور د اكمال كار يې كولو، د ټولې كورنى حكم په ده و.

اوس چې مهمانخانې ته لاړ شې هغه صحنه دريادېږي؟



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



قديم: ولې نه اوس هم مهمانخانې ته نه شم د ننه کېدلای کله چې د ډېر مجبوريت په اساس ولاړ شم داسې راته ښکاري لکه زندان، بس مولوي صاحب! په خمکه داسې گرځو لکه تابوت کې چې وو هره لحظه مو د شهيدانو يادونه خوروي!

تقبلهم الله

دغه دردمنه کيسه د ۱۳۸۸ هـ ش کال د جوزا په ۵ مه نېټه پېښه شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نهمه بېلګه:

# په سپین ږیرو مو کلی ښایسته و!

د هېواد په لر او بر کې د امریکایي ښکېلاکګرو جنایات پای نه مومي، د زخمي تبر هره سیمه د نړیوالو تروریستانو د وحشت داسې نمونې لري چې هره یوه یې بیا له هغه بلې خانته وي د لوګر ولایت مرکز اړوند پادخوابه شانې کلي سیمې ته لاړو د کلي خواتان راسره ملګري شول په دې کې زیات هغه کسان وو چې پلرونه یې د امریکایانو له لوري په خورا وحشت په شهادت رسېدلي وو د لویې غونډۍ سر ته هسک شولو هلته څلور قبرونه او یو لوی څلی و چې سپین رنګ یې ورکړی و د شهیدانو په مشهدونو مو لاس لپه کړل او د دوی روح ته مو دعا وکړه د شهید حاجي افغان له زوی میر افغان مو د کیسې په اړه وپوښتل، ویل یې: د آب چکانیو او د خدرانو د قوم تر منځ د غره په سر دعوی وه بیا مو د قومونو ګڼ مشران را دعوت کړل هغوی فیصله وکړه او څلور مشران یې د ځمکې د تقسیم لپاره وټاکل تر څو د ځمکې حدود معلوم کړي دغه نور سپین ږیري د غره په لاندې غونډۍ ناست وو چې د یرغلګرو ډرون طیارې سیمې ته راورسېدې او فیر یې وکړ د دښمن په دغه وحشیانه بمبارد کې څلور سپین ږیري هر یوحاجي افغان، ملا امین ګل، نوراحمد او خاسدار په شهادت ورسېدل.

انا لله وانا الیه راجعون

د دغه شهیدانو مشهدونه د دنګ غره په سر جوړ وو په لیدلو یې د زړه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مراندې پرېکېدل د شهيدانو زامنو راته د دوی د مشهدونو تر څنګ د خپلو پلرونو خاطرې ويلې دوی تولو ويل: د سپين ږيرو په شهادت مو کلی ړنګ شو، په دوی به هر مجلس ښکلی و اوس د کلي د مجلسونو هغه پخوانی ښکلا نه ده پاته...

دغه پېښه د ۱۳۹۸هـ ش کال د حمل مياشتې په ۱۷ نېټه تر سره شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*لسمه بیلګه:*

## نتائج اعلان شول خو په قبر يې بيرغونه رپېدل!

د هېوادوالو ګڼ کورونه د بشر د دښمنانو له لوري کنډواله او هستوګن يې په شهادت ورسېدل د لوګر ولايت مرکز اړوند بابوس ساحې ته ولاړو ساحه د صليبي يرغلګرو په وړاندې دنګ تاريخ لري د دې سيمې په نوميالیو اتلانو شهيد امرالله رهبر، شهيد کريم الله او ... د تاريخ پاڼې زرغونې دي، او د شيخ الحديث شهاب الدين «دلاور»، مولوي انعام الله «صلاح الدين»، قاري کريم الله «ساجد» ملا همايون جهاديار قاري اشرف او... په نومونو مشران يې اوس هم د غازي هېواد په غېږ کې د سپين کاروان د سپېڅلي يون (اسلامي امارت) د رهبرۍ وياړ لري؛ دا جنتي سيمه له طبعي ښکلا برخمنه ده دغه سيمه که د راغلو نا بللو ميلمنو لپاره سور تنور وه بل خوا بيا يرغلګرو د خپلو وژل شويو انتقام د خپل معمول له مخې له ملکي هېوادوالو اخيستی د ساحې مخور او ديني عالم مولوي ذبيح الله راسره ملګرې شو يوې لويې کلا ته يې بوتلو د کلا شاته يې وروستلو او هغه ځايونه يې راوښودل چې د چاپې په مهال وران شوي وو اوسمهال کلا رغول شوې وه مهمانخانې ته يې لاړو د دې کور ځوانان راغلل له مولوي صاحب مې پوښتنه وکړه دلته کومه پېښه شوې؟ ويل يې د چاپې په شپه مو دطيارو د شور او بمبارد له امله ټوله شپه خوب نه دی کړی په همدې انتظار وو چې اوس به يرغلګر راځي او موږ به په شهادت رسوي، چاپه له سيمې پورته شوله سهار وختي د معلوماتو په موخه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



راووتلم کله چې دلته راغلم کوټې ټولې ورانې او کنډواله وې، کور کې هېڅوک هم نه وو ماشومان او ښځې په بل کور کې وې، د دې کور د څلورو کسانو درک نه معلومېدلو مور داسې گومان کولو چې دغه څلور کسان به يرغلگرو له ځان سره وړي وي هر ځاى به مو وکتلو دوى به نه وو، د دې کور ماشومان راغلل ويل يې امريکايانو مو د سترگو په وړاندې د کور په دهلېز کې پلرونه راته په شهادت ورسول، له دې وروسته مو کليوال راټول شول او تراکتور مو راوغوښتلو خاورې مو واړولې دوى له خاورو لاندې راوختل له شهادت وروسته يې اور ورته کړى و ډېرې او جامې يې سوې وې هېڅ نه پېژندل کېدل چې دا کوم يو دى، کله مو چې له خاورو بهر کړل کليوالو ويل د لوگر ولايت مقام ته به يې يوسو تر څو يې دوى ووينې چې دا ملکيان دې په کومه گناه مو په شهادت ورسول، د کابل د اجيرې اداره‌ې له لورې د لوگر والي ورته ويل: مور به ستاسې غم وخورو خو هرڅه دا هسې خبرې وې ځکه دوى غلامان وو کومه پريکړه به چې د دوى د باداءرانو له لورې وشوه هماغه به عملي کېدله دوى به پرې خبر هم نه وو!

د دې شهيدانو والد صاحب مرحوم جمعه گل آکا يو ديندار سړى و تل به يې په مسجد کې د الله تعالى د سپيځلي کتاب تلاوت کولو د چاپې په مهال يرغلگرو د همدې آکا قرآن کريم ټوټه ټوټه کړى و او په خاورو کې پروت و؛ بيا مو کليوال راټول کړل مشوره مو وکړه تر څو د يرغلگرو له لورې دغه وران شوى کور بيا ورغوو، د کلي له مشرانو مو يوه کميټه جوړه کړه او هغوى په کلي کې چندې وکړې او کور مو ورته جوړ کړ.

مجلس کې راسره ... ناست و پوښتنه مې ترې وکړه څرنگه پېښه وه؟ ويل يې: دچاپې په مهال مو پلار په بام پروت و مور په کوټه کې وو امريکايان راغلل دروازې يې په لغتو باندې راماتې کړې بيا يې زمور پلار او ترونه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



راوستل او په دهلېز کې یې زموږ د سترګو په وړاندې په شهادت ورسول موږ هغه وړاندې د یوه کلیوال کور ته بوتلو، محیب الله ولد حاجي عبدالسمیع هم دوی ویشتلی و زخمي و ځان یې همداسې اچولی و او وروسته بیا د کور په اتشخانه کې پټ شوی و، سهار د ملا له اذان سره چې موږ راغلو کور مو ټول وران و.

له حسیب الله مو پوښتنه وکړه (د ده پلار شهید محمد کبیر هم د چاپې په مهال په شهادت رسېدلی و) د چاپې په شپه چېرته وې؟

حسیب الله: کابل کې وم کار مې کولو سهار مې کلیوال راته زنګ وکړ ویل یې: چېرته یې؟ ما ورته وویل: په کابل کې ویل یې کور ته راځه ما ویل: خیرت دی؟ ویل یې خیرت دي خو پلار ته دې یو ځل زنګ وکړه، کله مې چې پلار ته زنګ وکړ موبایل یې بند و بیا مې شهید ورور ته زنګ وکړ د هغه نمبر هم بند و خلاصه دا چې د کور ټول نمبرونه بند وو. میرویس کاکا ته مې زنګ وکړ او د حالاتو پوښتنه مې ترې وکړه ویل یې: مشکل نشته کور کې مو هاوان لګېدلی او کبیر کاکا زخمي شوی؛ بیا بل ملګري راته زنګ وکړ پوښتنه مې ترې وکړه ویل یې: نور مشکل نشته ستاسو د کور منځ کې مرمۍ لګېدلې او ورور مو زخمي شوی! بیا زموږ ماما راته زنګ وکړ ویل یې: ستاسو د کور خواته روان یم مشکل نشته یوازې سلیم (زموږ کاکا) په شهادت رسېدلی دوی پلار، تره، ورور او بل تره ټول راته وښودل نو ځکه مې سودا زیاته شوه.

د کابل نه مې حرکت راوکړ په لار نه پوهیدم همدې سوچونو کې ډوب وم چې اوس به مو کور کې څه حال وي! کله چې دې لارې ته راورسېدلم او کور ته مې وکتل ټول وران و یوازې د دروازې د دیوال لړ ځای جوړ ښکارېدلو نور په ځان نه یم پوه شوی بېهوښه شوی وم لږ په هوښ کې راغلم د کور منځ کې هېڅوک نه و شهیدان یې زموږ د تره په



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کور کې اېښي وو، هلته ورغلم لومړی مې په کشر تره سلیم باندې سترګې ولګېدلې لږ مخته ولاړم په ټولو شهیدانو مې چې کله سترګې ولګېدلې بیا بېهوښه شوم او په ځان نه یم پوهېدلی د جنازې لمونځ رانه تیر شو، کله چې جنازه وشوه بیا په هوښ کې راغلم جنازې یې د هدیرې په لور وړلې د خپل پلار جان د جنازې کټ مې په اوږه کېښود بیا ولوېدلم او کټ رانه خوشې شو، بیا یې موټر کې وړی وم او داسې مهال هوښ کې راغلم چې هدیره کې یې په شهیدانو خاورې اړولې.

د ټولو خاطرې ذهن ته راځي او په یادو یې اوښکې تويوم، کله چې کور کې کوم مشکل وي دوی مې کلک سترګو ته ودرېږي .

زیارت ته یې ورځې؟

حسیب الله: هو زیارت ته یې هره جمعه ورځم.

اوسمهال مو کور کې څو یتیمان دي؟

حسیب الله: کور کې مو د شهیدانو ورونو څخه راپاتې یتیمان آن شلو کسانو ته رسېږي.

تر ټولو دردوونکې داوه چې زموږ ورور اسدالله د کانکور امتحان ورکړی و له یوې میاشتې وروسته یې د کانکور نتایج راووتل اسدالله جان هم د کامیابو شاګردانو په لړ کې د پکتیا پوهنتون ته کامیاب شوی و، د نوموړي نتائج داسې مهال اعلان شول چې په قبر یې سپینو بیرغونو وزرونه رپول.دغه دردمنه پېښه په ۱۳۹۵ هـ ش کال کې د یرغلګرو له لوري تر سره شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یوولسمه بیلګه:

# د ژوند کولو حق نه راکول کېدو!

که وخت راغلو له هر چا به د هر څه پوښتنه وکړو
د سرېو د لړګيو د غمیو د پګړیو

(...)

د یرغلګرو له لوري د هېواد په لر او بر کې ګڼ کورونه په کنډوالو بدل شول د لوګر ولایت مرکز اړوند د بابوس ساحه کې هغه کور ته د ننه شولو چې یوازې د احاطې دیوالونه یې پاتې وو نور ټول د یرغلګرو له لوري د شپنۍ چاپې په مهال نړېدلي و کله چې د ننه ورغللو د بیارغونې کارونه یې پیل شوي وو په انګړ کې مو په یوه نوراني څېره سترګې ولګېدې راسره ملګري مولوي ذبیح الله ویل: ښه ده انعام الله مولوي صاحب هم راغلی په خورا مینه او ورین تندي یې راسره روغبړ وکړ او بیا یې هغه خیمې ته بوتلو چې د رنګې کلا په منځ کې یې د کاریګرو لپاره درولې وه ورسره کېناستلو؛ مولوي انعام الله «صلاح الدین» د فتحې وړاندې اووه کاله د مرکز د کمیسیون عضوه، یو کال د کمیسیون مسوول، د برکي، ازرې او محمد اغې ولسوال؛ له فتحې وروسته د لوګر والي او اوسمهال د پکتیا ولایت مرستیال والي دی، له مولوي صاحب مې د دوی په کور د چاپې کیسه وغوښتله ویل یې د یرغلګرو له لوري په مظلومو اولسونو د وحشت کال و هغه مهال د لوګر ولایت، محمداغې ولسوالی نظامي



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مسؤل وم د کاریزو په نوم ساحه کې مې شپه وه د ماخستن ډوډۍ مو وخوړه د کور څښتن راته ویل: طیارې ډېرې تیتې راغلې خوندي ځای ته لاړ شه هسې نه شهید دې کړي، ورته مې وویل: مه ویرېږه مشکل نشته ان شاءالله، بیا مې د کور څښتن ته وویل: ته یو خوندې کور راته پیدا کړه هلته به لاړ شم، د کور څښتن یو کور راته وښود چې هلته د دوی لور واده شوې وه هلته ولاړم او تر سهاره مې ښه آرام وکړ، سهار چې له خوب رابیدار شوم اودس مې کولو راسره ملګري محمد ته مې وویل: اودس وکړه چې لمونځ په جماعت وکړو د کور څښتن راغلو ویل یې: د شپې چاپه وه او سخت بمبارد و دادو (د کلي نوم دی) یې تول وران کړ؛ مخابره مو چالانه کړه د صلاح الدین، حاجي ملا او... چیغې دي، زموږ یو ملګری کریم جان «صابر» نومېږي په هغه مو غږ وکړ او ورته مو وویل: څه حال دی؟ ویل یې نور مشکل نشته یوازې په کلي چاپه وه مولوي صاحب په سلګو شو او ویل یې دې خبرې ډېر تاثیر راباندې وکړ او ذهن ته مې زموږ کور راغلو چې چاپه به خامخا هلته وي پورته شوم او د سهار فرض مې وکړل د دې توان مې نه و چې جماعت وکړم د کور څښتن ته مې خبر وکړه چې هغه بل کور ته زنګ وکړي او موټرسیکل مې راولي، بیا مې خپل ورور حاجي زرملوک ته زنګ وکړ: د حالاتو پوښتنه مې ترې وکړه ویل یې: نور خیرت دی یوازې شیرین زخمي دی اوس یې کابل ته وړم؛ د کور په طرف راروان شوم هغه مهال کور ته تګ هم سخت و ځکه په لار به امریکایان او اردو درېدل هلته نږدې ملګرو ته مو د رابطې خبر وکړه هغه رابطه راته وکړه او د سرک څخه راتېر شولو کور ته ورسېدم زموږ ځلور وروڼه په یوه کلا او ځلور نور بیا په بله کلا کې اوسېدل اول د وروڼو هغه بلې کلا ته ولاړم ویل مې کور خو ړنګ دی شهیدان به یې هلته ایښي وي د کور په دروازه کې مې غږ وکړ وریره



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مې راووتله ويل يې لا لا سترې مه شې! ورته مې وويل خير يوسې، د کور د نورو خلکو پوښتنه مې ترې وکړه ويل يې؟ دوی هلته دي، د غه خبر يې تعجب راته ښکاره شوه څکه ما خو ويل چې ټول به په شهادت رسېدلي وي، بيا د خپل ملګري سره په موټرسيکل سپور شوم تر سر مې دسمال پېچلی و (هغه مهال به مجاهدينو تر سرونو اکثره وخت دسمالونه پيچل) دغه رنګ کور ته راغلم د کور منځ ته يې اشاره وکړه ويل يې: دغه ديوال، دغه تعمير او دغه تعمير ټول چپه وو، بيا د مير اغاجان (ورور) کور ته راغلم مور مې راووتله او ورسره زما بچيان، وريندارګانې، وريرونه او زما خويندې چې د خسرګنيو له کورونو راغلې وې هم راووتلې د دوی په ليدلو زيات خوشحال شوم او الله تعالی ته مې شکر اداء کړ چې په دومره لوی نعمت يې ونازولو؛ دوی ټولو ته مې توصيه وکړه چې د الله تعالی شکرانه اداء کړي او د کور په رنګېدلو هم بايد سوچ ونه کړو څکه دا ټول د الله تعالی په دين باندې وران شوي!

مولوي صاحب راته زياته کړه د دغه چاپې په مهال مو ورور (شيرين) له زخميتوب وروسته په شهادت ورسېد، د وراره (کليم الله) مو د غوږ پرده وشکېدله او ماشومانو ته مو يې ګڼ روحي تکليفونه ورسول.

سره له دې کړاوونو الله تعالی زموږ د کورنۍ د نورو وګړو عجيب حفاظت وکړ د چاپې څخه دوه ورځې وړاندې مې مورکۍ راته ويل: ناوې ګانو ته ډوډۍ کوو ما ورته پنځه زره پيسې ورکړې دوی په همدې سبا ورته ډوډۍ کړې وه بيګاه ته چاپه شوه څکه خو د چاپې په مهال زموږ کور کې ګڼ کورنې ميلمانه وو په يوه کوټه کې (۱۹) نفر وو الله تعالی روغ ساتلي وو د ورور بچيان مې ټول په يوه کوټه کې وو دواړو څنګونو ته کوټې ورانې وې دوی الله تعالی روغ ساتلي وو.

له دې وروسته د يوه مشر ملګري خوا ته لاړم هلته مې لږ آرام وکړ



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ماسپښین مهال بېرته را روان شوم کله چې بېرته راغلم زموږ د کور څنګ ته ډېر کسان راغلي وو له دوی سره ودرېدلم او تسلې مې ورکړه چې د الله تعالی په دین له دې زیاتو قربانیو ته ضرورت دی موږ نورو قربانیو ته آماده یو کله چې راوانیدلم زوی مې عمر هم راپسې شو ویل یې: زه هم درسره ځم! همدې حال کې مې ودرلو او ورته ومې ویل زویکیه! امریکایان به ولو او کنه؟ ویل یې: هو ولو به یې، زما په غاړه کې توپک ته یې لاس را اوږد کړ او ویل یې: په دغه به یې ولو؛ ورته ومې ویل: ولې یې ولې؟ په ماشومه ژبه یې راته ویل: زموږ کورګی یې راړنګ کړ او جماعتونه مو نړوي. د دې حال په لیدو مې د خدای تعالی شکر اداء کړ او خوشحال شوم چې که موږ په شهادت ورسیږو په بچیانو کې مو د جهاد جزبه تانده ده، بیا مې (۱۰۰) افغانی ورکړې او ورته مې ویل: دغه واخله بل ځل بیا نوی توپک درته راوړم امریکایان به پرې ولو.

د کور بیا رغونه مو اوس پیل کړې مخته مو ولې نه جوړولو؟

مولوي انعام الله «صلاح الدین»: مخته موږ ته د ژوند کولو حق نه راکول کېدلو او دا موقع نه وه چې خپل کورونه ورغوو، موږ او بچیانو مو د مرګ په انتظار شپې سبا کولې.

اوس مو ولې د کور بیا رغونه پیل کړې؟

«صلاح الدین»: مورکی مې راته ویل: زویه دغه کور جوړ کړه تر څو مو سترګې پرې یخې شي او دوهم مو له دې امله ورغولو تر څو د اسلام دښمنان ونه وایي چې دوی مایوسه شول او مات مو کړل.

صلاح الدین مولوي صاحب راته وویل: زموږ کورنی تنها اوس نه بلکه د روسي ښکېلاک په وړاندې هم د مقابلې ډګرونه ګرم ساتلي وو، زموږ دری ورونه هماغه مهال په شهادت ورسېدل چې نومونه یې په لاندې ډول دي. ۱ـ شهید جیلاني له هغو نوموړکو شهیدانو څخه و چې د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کمونیستانو په وخت کې ترې تم شول او وروسته یې نوم د کرزي په وخت په هغو پنځوزرو کسانو کې راووتلو چې دوی شهیدان وو شوي خلکو یې فاتحې واخیستلې.۲ـ شهید بسم الله. ۳ـ شهید سنک.

وحشت د یرغلګرو له لوري د ۱۳۹۸ هـ ش کال د زمري د میاشتې په ۳۰ مه نېټه تر سره شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دوولسمه بیلګه:

# له سیمې ښایست کډه وکړه!

په لوګر ولایت کې یرغلګرو ګڼ جنایات کړي وو ملګرو راته ویل: هغه پورې خوړ کې هم د یرغلګرو ډرون ملکیان په شهادت رسولي او دغه محمدالله د شهید سید شهباز اغا زوی دی له دوی سره روان شولو هغه ځای ته ورسېدلو چې لا اوس هم په کې د ویشتل شوي تراکتور ټوټې پرتې وې. له اغا صاحب مې پوښتنه وکړه دلته څه کیسه تر سره شوې ده؟ ویل یې: دغه ساحه د میرغیاث مربوط د رنېدلي کارېز ساحه ده، دلته پخوا کارېز و هلته اوس هم شنه ونه ولاړه وه اغاصاحب راته ویل: مولوي صاحب هغه ونه ګورې! همدلته کارېز و او ساحه یې ټوله په اوبو باندې آباده وه دکلي ماشومانو ته همدغه د ارام او ساعت تیرې ځای و، دې سیمې طبعي ښکلا لرله هر مازدیګر به د کلي ځوانان همدلته راټلل چا به ګپې کولې، چا به بیا نښې ویشتلې همدلته به کلیوالي لوبې تر سره کېدلې خو کله چې په هېواد امریکایي ښکېلاکګرو هجوم راوړ د همدې سیمې په سر کې یې پوستې واچولې بیا چې کله دلته شهیدان وشول له دې ساحې ښایست کډه وکړه او نور چا هم دې سیمې ته زړه نه ښه کولو ځکه د کابل اداءرې د پوستو له خوا به دوی د برید هدف ګرځېدل او فیرونه یې پرې کول.

زموږ پلار میرشهباز خان په حاجي ګلاب خمکه خرڅه کړې وه یوه ورځ هغوی راغللو او ویل یې: دغه ځمکه راته بیله کړه تر څو موږ پرې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کرونده وکړه، زموږ پلار او د حاجي ګلاب زوی محمدابراهیم، د تره زوی يې عبدالرحمن شهید شو، اوس ټول میراث دي هېڅوک په کور کې نه لري او د تراکتور موټروان عبدالغني روان شول دوی له ځان سره تراکتور هم بوتللو تر څو د ځمکې ویش پرې وکړي کله چې همدې ساحې ته ورسېدل د یرغلګرو طیارو پرې فیر وکړ دلته کاریګر وو او کلا يې جوړوله هغوی کلیوالو ته ویل: ورشئ! هلته يې ملکیان ویشتلي په دې وخت کې بل فیر وشو اخر څلور فیرونه وشول او دوی ټول يې په شهادت ورسول د عبدالغني تراکتور چې څو شپې ورانده يې په (۱۵۰۰۰۰۰) پنځلس لکه اخیستی و هم د اور خوراک کړ، کله چې له کلي خلک د شهیدانو لور ته ور روان شول د کابل اداره‌ي اولس ساتونکو(!) له پوستو پرې فیرونه وکړل او څوک يې نه پرېښودل چې د شهیدانو لور ته ورشي.

ته کله خبر شوې؟

محمدالله: زه ایران کې وم خوب مې لیدلو چې پلار مې راته وایي زویه دغه دانګورو باغ اوبه کړه! ویده شوم چې بیا مې دغه خوب ولیدلو او دریم ځل مې بیا پلار راته خوب کې دغه خبر وکړه، وررور ته مې زنګ وکړ او په موبایل کې يې د مرمیو غږ هم راتللو ما ویل: چېرته يې او څه کیسه ده؟ ویل يې: هېڅ مشکل نشته بیا مې بیګا بیا ورته زنګ وکړ د پلار د شهادت يې راته وویل وطن ته راغلم.

کله چې راغلې کور کې څه حال و؟

محمدالله : کور ته چې راغلم داسې راته ښکارېدلو لکه ړنګ چې وي مخکې به چې کور ته له سفر راستون شوم پلار به مې مخته راغلو او سترې مه شې به يې راسره کول دا ځل چې راغلم کور کې پلار نه و!



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دیارلسمه بیلګه:

# مېرمن او زامن يې را شهيدان کړل!

د لوګر ولايت مرکز اړوند بابوس ساحه کې د همدې سيمې اوسېدونکي مولوي ذبيح الله هغه کور ته وروستلو چې کورواله او دوه بچيان يې په شهادت رسېدلي وو، مسجد ته د ننه شولو هلته حاجي محمد نبي ناست و د مرحوم مولوي محمد امير بجليګر رحمه الله وعظ يې اورېدلو ورسره کېناستلو او د يرغلګرو له لوري د تر سره شوي وحشت په اړه مو ترې پوښتنه وکړه ويل يې: ولايت ته تللی وم د کابل اداءرې تر واک لاندې ظالمو مليشو د شا له طرفه راباندې فير وکړ، ويشتلم يې ترې بچ شوم او کورواله مې يې وويشتله زخمي شوه بيا مو آن تر اتو مياشتو بيستر کړې وه او دواوې مو پرې کولې وروسته بيا له همدې زخمونو په شهادت ورسېدله.

بله ورځ کور کې وو چې طيارې راغلې امريکايان مو د کور په بامونو راوختل او بيا کور ته را د ننه شول په کور کې يې زيات وحشت پيل کړ تالاشی يې کولې او چيغې يې وهلې، دوی ولاړل زوی مې محمدګل نادرک و موږ ويل امريکايانو به له ځان سره وړی وي کله چې سهار شو او دګيراج خواته لاړو چې محمدګل دوی ويشتلی او په شهادت يې رسولی همځته ګراج کې پروت و، تر څنګ يې محمد عظيم هم له کلي راوستلی و او همدلته يې په شهادت رسولی و د هغه يې د راوستلو په مهال لاسونه هم ورمات کړي و.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بل خل هم چاپه زموږ کور ته راغله ماخستن مهال موږ ناست و چې له لېرې طیارو زموږ په کور فیرونه وکړل تر څو مو چې له کور حرکت کولو یرغلګر د کور په بامونو راوختل، د باندې یې ویستلو زما مشر زوی ته یې شمعه په لاس کې ورکړه، د کور ټول وګړي یې د باندې په پټیو کې ودرول او له طیارو یې بمبار؛ ولو ورته مې وویل: موږ ملکي کسان یې نه مو اسلحه راسره پیدا کړې او نه کوم بل شی، دغه ټول ماشومان دي په کومه ګنا مو وژنئ؟ موږ یې پرېښودلو داخل یې بیا بل زوی مې جمعه ګل هم په ګراج کې په شهادت رسولی و.

پېښه د ۱۳۹۷ هـ ش کال په ژمي کې د یرغلګرو له لوري تر سره شوې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*خوارلسمه بېلګه:*

# ډېره سخته ده، مور به بیا غمجن کړئ!

د یرغلګرو له لوري د هېواد لر او بر له ځان سره د دوی د ترسره شوي وحشت ګڼې کیسې لري؛ کلونه وړاندې مې په خواله رسنیو هغه تصویر لیدلی و چې د سعودي عربستان له سفر د راستنیدلي مسافر په وینو دیوال سور ښکاري؛ د لوګر مرکز ته څېرمه د پورک کلي څخه وړاندې دادو خېلو کلي ته لاړم، یوه کور ته چې دروازې یې سپین رنګ لرلو او تر څنګ یې په قبرونو هم سپین بیرغونه باد رپول ودرېدلم دروازه مې ور ټک ټک کړه یوه ماشومه راووتله سترګې مه شي یې راته وویل، پوښتنه مې ترې وکړه کور مو نارینه شته؟ ویل یې نه، ورغبرګه مې کړه کومه زړه مورکۍ نشته؟ ویل یې ولې نه زه به غږ پرې وکړم، شېبه وروسته د دروازې له شا غږ راوشو زامنو سترګي مه شئ! ورته مو وویل: مورکۍ خیر یوسې، ویل یې د چا سره مو کار و؟ ورته مو وویل: مورکۍ اراده مو کړې تر څو د یرغلګرو جنایات کتاب کې ولیکو، ستاسو سره د تر سره شوي وحشت د لیکلو په تکل راغلي یو، مورکۍ ویل: دا خو ډېره سخته ده مور به بیا غمجن کړئ! د دې خبرې په اوریدو مې سترګې له اوښکو ډکې شوې او سلګو واخیستلم ځان مې یو څه کابو کړ او ورته مې وویل مورکۍ دغه کیسه ضرور راته وکړه تر څو ستاسو سره تر سره شوی وحشت تاریخ کې پاتې شي ویل یې: خاوند مې ملارحمت الله یو تکړه مجاهد و د سیمې اوسېدونکي یې پیژني او مجاهدین یې اوس هم دغیرتونو کیسې کوي د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يرغلګرو ټانګونه به يې الوزول بلاخره د مخامخ جګړې په مهال په شهادت ورسېد.
لېور مې (حاجي امين جان) له سعودي عربستان راغلی و زموږ د کور خورلنې يې ستړې مه شي ته راغلې وې هغوی همدلته زموږ کور کې وې، د حاجي امين جان د سفر له راستنېدلو ايله (۱۰) ورځې وتلې وې، ماخستن مهال مو د کور په برنډه ډوډی وخوړه د کور د وګړو تر منځ د خوښۍ مجلس آن تر نه نيمو بجو اوږد شو موږ خپلو کوټو ته ولاړلو لېوره او زوی مې اسامه زما په بل زوی قاري سميع الله پسې د ماخستن لمونځ اداء کړ موږ لا د آرام غېږ ته ځانونه نه و سپارلي چې د آسمان غېږ د څو قسمه طيارو آوازونو په سر واخيستله جيټ، بنګنې او جهاز هم و، لږ وروسته زموږ د کور په ديوالونو يرغلګر راوختل زموږ کره د کابل ښخه هم ميلمانه راغلې وو هغوی چيغې شروع کړې له کور مو د ماشومانو د ژړا اوازونه اورېدل کېدل، امريکايان راغلل ويل يې: له کور ښخه ووزئ! لېوره ته مې يې ويل: ته امين جان يې؟ هغه ورته وويل: هو زه امين جان يم، بيا يې اولچک ورواچول، موږ د باندې روان شولو زوی مې اسامه هم راسره و چې د يرغلګرو ترجمان غږ وکړ ويل يې: دغه کس دې هم نه ځي موږ د باندې د کليوالو د کور ديوال ته ناست وو چې د کلا په منځ کې درووند انفجار وشو، موږ د کليوال حاجي ابراهيم کور ته ولاړو کله چې د شپې په دری نيمو بجو امريکايان له سيمې لاړل کور ته د ننه شوم د کور برنډه، ديوالونه او حويلۍ په وينو سره وه، حاجي امين جان يې د کوټو مخ ته برنډه باندې په ماين کينولی و او انفجار يې ورکړی و، د زوی له غاړې مې يې فرميکاټ پيچلی و او انفجار يې ورکړی و سر يې نه و بل زوی مې بام ته هسک شو او غږ يې وکړ موري دغه دي د اسامه د سر غوښې دلته پرتې دي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مورکۍ ويل: د دغه صحنې په ليدلو موږ داسې چيغې وکړې چې د لنډو کورونو خلکو هم واورېدلې او زموږ کور ته راغلل...

لږ وروسته د دې مورکۍ زوی حکمت الله راغلو او د دې پېښې په اړه مو ترې پوښتنه وکړه، په سلګو شو ويل يې: دغه دردمنه کيسه نه شم انځورولای!

حکمت الله جان د کور منځ ته بوتللو او هغه ځايونه يې راته وښودل چې د دوی کاکا يرغلګرو په ماين کېنولی و او انفجار يې ورکړی و اوسمهال هم هغه د ماين ځای ښکارېدلو دوی يې ترميم کړی و.

دغه دردمنه پېښه د ۱۳۹۸ هـ ش کال د زمري د مياشتې په ۲۸ مه نېټه تر سره شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پنځلسمه بېلګه:

# کاش بچیان مې ژوندي وای!

د زخمي هېواد غېږ د يرغلګرو له لوري د تر سره شويو جناياتو ګنې کيسې لري، د لوګر ولايت مرکز اړوند پورک چاړايي سيمې ته لاړو هلته هغه کور ته ورغلو چې دوه ځوانان يې په شهادت رسېدلي وو په کوټه کې يې کېنولو يتيمان ګرد چاپېره رانه تاو شول له مورکۍ مې وپوښتل مورې بچيان دې څنګه شهيدان شول؟ ويل يې دوهم زوی مې روښان له کور څخه ووتلو په لارو تالاشي وه امريکايان او داخلي غلامان يې ولاړ وو له موټر يې ښکته کړ، له دې ورځې وروسته يې درک ورک شو زندانونه مو پسې وکتل پيدا نه شو هره ورځ مو د ده په لټون کې تيروله په کور کې به يې بچيانو هم ژړاګانې کولې؛ مشر زوی مې عمرې ته وليږم هلته حرم کې مې د ځان لپاره دعا نه ده کړې يوازې مې همدا دعاګانې کولې چې يا الله د زوی حال مې معلوم کړې چې مړ او که ژوندی دی کله چې له عمرې راوګرځيدلم کور کې مې ايله شپږ ورځې پوره شوې وې د ۱۳۹۷ هـ ش کال د ثور د مياشتې ٦مه نېټه وه چې دروازه راوټکېدله ويل يې: هلته پاس ناصرو کې يو مړی پيدا شوی دوی ورغلل او د زوی جسد يې راوړو تر شا يې لاس ورتړلي و او ژوندی يې ښخ کړی و، بيا مو د ده جسد ته قبر وکيندلو او ښخ مو کړ خيرات مو پسې وکړ او فاتحې مو يې واخيستله له دې پيښې شپږ ورځې وروسته مې د شپې خوب کې وليدلو ويل يې: مورکۍ ماپسې دعاګانې کوه! له دې وړاندې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مې د عمرې په سفر کې هم دا رنګه په خوب ولید چې راته ویل یې: ما پسې دعاګانې کوه! په همدې کال د میزان د میاشتې څلورمه نېټه د شپې نه بجې وې چې په کور مو لسمه چاپه راغله زوی مې روښان هم کور کې و، له مورکۍ مې وپوښتل امریکایان له کوم ځای راغلي و؟ لا یې خواب نه و راکړی چې یتیم لمسي داداءلله راته وویل: مولوي صاحب (۰۱) قطعه له کابل راغلې وه امریکایان هم وو مور ته یې دوکه راکړه دوی په سیمه کې تاویدل آن تر جمعه کلا پورې لاړل د شپې ۱۲ بجې وې چې دروازه یې راوټکوله مور له ویرې نه ورتللو چې د راکیټ وار یې په دروازه وکړ او راماته یې کړه، کور کې مو پټ ځای جوړ کړی و پلار ته مو وویل: هلته به ولاړ شو ویل یې زه ځان ژوندی په لاس نه ورکوم څکه زندان سخت دی له دې وړاندې یې هم د باګرام زندان تیر کړی و. امریکایان او ورسره ترجمانان کور ته رادننه شول ویل یې: قوماندان منور څوک دی؟ مور ورته وویل: هغه نه پیژنو، دوی ویل: همدلته پټ دی بیا یې مور ته ویل بل کور ته لاړ شئ مور هلته ولاړو چې د درانه بمبارد غږ شو مور یې کوټه کې یو په بل وروغورځولو کله چې طیارې ولاړې دری بجې به وې چې کور ته ورغلو کور مو ټول وران و د پلار تره مو کوچی هم راغلو زمور پلار ورک و نه معلومېدلو تره مې په خپلو لاسونو خاورې او لرګې راپورته کول لاسونه یې وینې شول اخر ډېر ستړی شو او کېناست ویل یې: که ریښتیا شهید وې ځان به راوښیې همدې وخت کې مو پلار له خاورو لاندې زما مشر ورور ته اواز وکړ ویل یې: عبدالمالک! یوګیلاس اوبه راکړه دری چیغې یې وکړې چې ځای مو رالوخ کړ په شهادت رسېدلی و.

له مورکۍ مې وپوښتل د بچیانو دې کومې خاطرې یادېږي؟ ویل یې: د طالبانو په کامیابی د زړه خوشحاله یم کاش زما بچیان هم ژوندي وای!



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د بچیانو مې دغه خاطره ډېره یادېږي چې کله به مو ورته ووېل چې کور داسې تنګ دی کاش لږ لوی کور مو جوړ کړی وای! دوی به د صحابه کرامو کیسې راته کولې او وېل به يې: صحابه کرامو په دین کې زیات زحمتونه تیر کړي دي اوس مو کور نوی جوړ دی کاشکې دوی هم ژوندي وای!

اوس مو زندګي څنګه دی؟

مورکۍ: ژوند مو ډېر ښه تېرېږي طالبان راسره کومک کوي تېره ورځ یې هم راته دوه غواګانې واخیستلې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*شپاړلسمه بېلګه:*

# غمجن کال و!

د صليبي يرغلګرو وحشتونه پای نه مومي، دوی د هېواد مظلومو وګړو ته خپله خاوره د اور تبی ګرځولې وه، د لوګر ولايت مرکز اړوند پادخواب شانه کلي کې د يرغلګرو له لوري دری عام وګړي په خورا وحشت سره په شهادت رسېدلي وو همدلته ورغلو او د شهيدې ماشومې کاکا نوراحمد مو راپيدا کړ د پيښې په اړه مو ترې وپوښتل ويل يې نيمه شپه وه ټول په خپلو کورونو کې په خواږه خوب ويده وو چې د يرغلګرو طيارې راغلې او د کورونو تر څنګ پټيو کې يې کينولې، دوی راغلل د کورونو د روازې يې په بمونو والوزولې، زموږ د ورور کورکې همسايه ګان اوسيدل هغوی يې د شپې په تياره کې له کور را وايستل او همدغه کورګی يې د څان لپاره سنګر کړ او په بامونو يې مورچې جوړې کړې، کله چې سهار شو په کلي کې يې څوک هم نه پرېښودل چې يو او بل طرف کې وګرزيږي، ورېره مې ايله د (۷) کلونو وه د کلي امام ته د سبق لپاره مسجد ته روانه وه د مسجد نه بېرته راوګرځېدله څکه په امام او اذان بنديز و ه دوی دغه معصومه ماشومه د خپل بريد هدف وګرځوه او شهيده يې کړه، د کور يې څوک نه شو ورته راتللای زه ورغلم او دغه شهيده ماشومه مې خپل کور ته راوړه، زموږ د کور تر څنګ د يارجان کور و هغه هم د تسليت په موخه زموږ کور ته راغلو کله چې خپل کور ته تللو د کور په دروازه کې يې په نښه کړ او په شهادت يې ورسولو



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



همدلته د خپل کور په دروازه کې پروت و کله به هم چې د کور له دروازې څوک راووتل تر څو دغه شهيد کور ته د ننه کړې د دوی له لوري به پرې فيرونه کېدل همدلته پروت و! په مجلس کې سيد غفور هم ناست و ويل يې: مولوي صاحب پلار مې اوبه لګولې کله چې چاپه راغله يرغلګرو شهيد کړ سهار مو چې لمونځ اداء کړ وروو مې عبدالله د پلار په لټه کې له کور بهر شو کله چې فصل ته ورغلو پلار مو شهيد و دی بېرته را وګرځيدلو تر څو مورږ د خپل پلار په شهادت باندې خبر کړي د يرغلګرو له لوري په نښه او په ښه يې وويشتلو اوس يې يوه پښه فلج ده او د بې وسۍ شپې سبا کوي.

له سيد غفور مې وپوښتل دردمنه خاطره مو څه ده؟ ويل يې: له دې به دردمنه خاطره کومه وي چې خپل شهيدان مو په سترګو ليدل او د اخيستلو اجازه نه راکول کيده آن تر ماسپښين پورې مو شهيدان لمر ته پراته و، بيا يې اجازه راکړه او ساحه يې راته وښوده په دې ساحه کې د شهيدانو جنازه وکړئ له دې هغه خوا که ولاړئ ستاسو حال به هم د دوی په شان وي.

څنګ ته مې بل ځوان حکمت الله چې په مخ يې تور خط لا نه و پوره شوی ناست و پوښتنه مې ترې وکړه ستاسو سره کوم وحشت د يرغلګرو له لوري تر سره شوی؟ ويل يې پلار مې ملا امين ګل نوميدلو د سيمې په سطحه سپين ږيری و او د خلکو موضوعات يې حل کول، وروو مو سميع الله د اب چکان په دښته کې ديرغلګرو ډرون طيارې په شهادت ورسول څکه هغه مهال زموږ سيمو کې د چاپې زيات خطر و ډېری ځوانان به خوندې ځايونو ته تلل تر څو د يرغلګرو له حملو په امن شي د وروړک جسد مو کور ته راوړلو د فاتحې او تعزيت لپاره له سيمې ګڼ کسان راتلل پنځمه ورځ وه چې کور ته مو د سيمې تکړه مجاهد او مصلح نور احمد



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



«خادم» راغلو ويل يې د خلکو تر منځ مشکل دی د ميرغياث په ساحه کې هلته د سيمې ګڼ سپين ږيري او مشران راټول شوي تاسو هم راسره لاړ شئ! پلار مې ورسره روان شو، ورځنګ ته شوم ما ويل: لالا چېرته ځې؟ خلک فاتحې ته راځي زه خو کشر يم، ويل يې: زه زر راځم، يو وخت چې دباندې راووتلم د کلينيک په لور پنځه موټر روان ول، نه پوهيدم چې څوک په شهادت رسېدلي سودا مې شوه او ورغلم چې د موټر ډاله يې خلاصه کړه يو مې والد صاحب او بل د مير صاحب نوراحمد «خادم» جنازې په کې ايښې وې.

څرنګه احساس دې وکړ؟

حکمت الله: دا ډېره سخته سحنه وه په ژړا شو او ويل يې په ټول ژوند کې همدا تريخ ساعت و.

د کور سرپرستي مو څوک کوي؟

حکمت الله: اوس د کور ټوله سرپرستي راله غاړې ده د کور د خدمت ترڅنګ درسونه هم وايم او سږ کال مو د تکملې کتابونه شروع کړي.

د پلار له شهادت ايله څلور مياشتې تيرې شوې وې سهار مهال مې مدرسه کې درسونه ويل چې له کور زنګ راغلو ويل يې يو ځل ضرور کور ته راشه کله چې راغلم د کاکا (مير محمد ياسين) جنازه مې ايښې وه، دوی ويل: له کمپاين طيارې راجګې شوې او مير محمد ياسين يې د اوبو لګولو په مهال په خپل فصل کې په شهادت ورسولو.

دغه کال مو د ژوند تر ټولو غمجن کال دی ځکه د کور دری کسان مو په شهادت ورسېدل.

دغه پېښه د ۱۳۹۸ هـ ش کال د غبرګولي په ۸ مـه نېټه تر سره شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# پکتیا

پکتیا ولایت د هېواد په جنوب شرقي کې موقعیت لري، مرکز یې ګردیز، مساحت یې (۶۴۳۲) او اوسیدونکي یې (۴۱۵۰۰۰) دی.
ولایت د غزا او اتلولیو ګنې کیسې لري، همدلته د ناټوګی په وړاندې په لومړي ځل د مقابلې دګرونه ګرم شول او یرغلګرو ورته د (اناکونډا) نوم ورکړ، دې سیمې په هېواد هر یرغلګر ته غابښ ماتوونکي ځوابونه ورکړي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اولسمه بیلګه:

# د کشر ورور خاطرې راته ډېرې يادېږي

د يرغلګرو+ کابل اداري له لوري د هېواد هره برخه د دوی له لوري د ترسره شويو وحشتونو ګنې کيسې له ځان سره لري، د زمرياليو د هېواد کمې سيمې به داسې وي چې د اسلام مبارک دين په دفاع کې به يې قرباني نه وي ورکړې د دې هېواد هره کورنۍ د امريکا او متحدينو له لوري د دردونو ګڼې داستانونه لري د اتل هېواد پکتيا ولايت هم د اشغالګرې نړۍ په وړاندې د جهاد او سرښندنو ګڼ وياړونه د تاريخ په شمله وتومبل دې سيمې که د روسي ښکېلاک په وړاندې د علم او جهاد د سالار شهيد مولوي نصرالله «منصور» په شان ځلانده ستوري لرل بل خوا بيا دې جنتي سيمې د اتل شهيد سيف الرحمن «منصور»، شهيدجواد، شهيد عادل او ... په شان غيرتي زلمي په خپله غيږ کې و روزل، دوی د ناتوګی په وړاندې د بنيان مرصوص (محکم کړل شوي ديوال) په شان دنګ ولاړ وو د دوی تبليغاتو او ټکنالوجی يې عزمونه متزلزل نه کړل د زمريانو په شان يې په دوی حملې وکړې او د مرګ کندې ته يې ټېل وهل خو يرغلګرو بيا د خپل ناولي عادت له مخې د خپلو وژل شوو انتقام له ملکي هېوادوالو اخيستلو دوی د دې سيمې کورونه نه بلکه کلي وران کړل، يو کس نه بلکې کورنۍ يې په شهادت رسولې، د ولايت زرمت ولسوالۍ ته د مفتي عبدالصمد«حليم» او انارګل «محمدي» په ملتيا لاړم دوی دواړه د زرمت اوسېدونکي دي او اوسمهال مفتي صاحب د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



میدان وردگو د سیندیزي حوزې رئیس او محمدي بیا د همدې ولایت د احصایې رئیس دی، شپه مو د مفتي صاحب کره وکړه: مفتي صاحب د شهید مولوي نصرالله «منصور» رحمه الله د تره زوی دی سهار یې د «منصور» صاحب مدرسې ته بوتلو هلته مو لمونځ په جماعت سره اداء کړ، او د «منصور» صاحب زیارت موهم وکړ، دا د هیئت خپلو کلی دی د ۱۳۹۷ هـ ش کال د حوت میاشتې په ٦مه نېټه د همدې کلي د حاجي «بهران» په کور د یرغلگرو له لوري شپني عملیات تر سره شوي او د نوموړي تر څنگ یې (۳) زامن هم د شپنی چاپې پرمهال د یرغلگرو له لوري په شهادت رسېدلي وو د پېښې د ثبت په موخه همدې کور ته ورغلو، کلونه وړاندې مې د دوی د کورنی هغه ویډیو لیدلې وه چې د نوموړي حاجي صاحب تر تولو کشري زوی ایمل د شهیدانو قبرونو ته ولاړ دی او وایي: دا مې د ددک قبر دی، هغه د شاگل دا مې د یوه ورور او دا مې د بل ورور قبر دی د ویډیو په لیدو اوښکو ضرور د سترگو ملتیا کوله، کورته یې داسې مهال ورننوتو چې لا لمر د زرمت په دنگو غرونو زرینې وړانگې نه وې خورې کړې د کلا مخته د شهیدانو مزارونه وو، د شهید حاجي صاحب ورور مومین جان یې څنگ ته ناست و، له روغبړ او ستړي مشي وروسته مو د دوی له کورنی سره د ترسره شوي وحشت په اړه ترې وپوښتل: ویل یې هغه مهال پاکستان کې وم او خپل اولاد ته مې یوه گوله حلاله نفقه پیدا کوله کله چې زنگ راغلو را روان شوم او طورخم ته را ورسېدم د پاکستان حکومت راته اجازه رانه کړه ویل یې د کور واله دې تذکره نشته دری ورځې وروسته داسې مهال کورته را ورسېدم چې دوی یې خښ کړي وو، همداسې یې دیدنه رانه لاړل.

مومن خان ته مې وویل: کله چې کور ته را ورسېدلې څرنگه احساس دې کولو!؟ خبرې یې سلگو واخیستې د سترگو څخه یې اوښکې روانې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شوې او لاسونه يې سترګو ته ونيول په سلګو کې  وويل: درد خو خامخا وي هغه شپې او ورځې هم تېرې شوې چې د يوه ورور مې درې زلمي بچيان په شهادت رسېدلي وو.

ور غبرګه مې کړه: د شهيدانو وريرونو دې کومې خاطرې ډېرې درته يادېږي؟ ويل يې: خاطرې يې ډېرې زياتې دي د ورور خاطرې ځانته او د وريرونو ځانته راته يادېږي ويې ويل مولوي صاحب! ورور مې داسې سړی و چې د مرغۍ زړه يې هم نه و آزار کړی وريرونه هم پدې دستور ټوله منطقه کې يې پوښتنه کولای شې خو د الله ﷻ له طرفه مو هر څه په سر سترګو منلي، بيا مې دوهم ځل ورته وويل: يوه خاطره چې تاته ډېره درياديږي راته يې ووايه! ويل يې: د شهادت يې درې کاله پوره شول خو اوس هم چې کور ته ځم او راځم يو ځل د دوی قبرونو ته خامخا ورځم هېڅ نه راته هېرېږي اوس يې هم غم هماغسې تازه دی، ورغبرګه مې کړه: قبرونه يې ولې د کور مخته جوړ دي؟ ويل يې: د کور مخته مو ځکه جوړ کړي چې سترګې مو ورياندې لګېږي سهار د لمانځه څخه چې ځنګه را وګرځم اول د دوی زيارتونو ته ځان رسوم او کله چې کومه ستونزه راته پېښه شي د دوی مبارکو زيارتونو ته راشم او الله تعالی ته يې وسيله ګرځوم ويې ويل: يوه ورځ د شپې په يوه بجه ورته راغلم آن په دوه بجو هم ورته راغلی يم او د دوی زيارت مې کړی.

مومين جان راته زياته کړه: مولوي صاحب! دغه وريرونه مې تر خپلو بچيانو راباندې ډېر ګران وو هغه مهال مې اولاد نه و، ورور مې شهيد حاجي صاحب راته ويل: دغه انور دې ستا سره وي د بچي مينه پرې ماتوه، انور به له ما سره و آن پاکستان ته به هم راسره تللو، ما به له نازه ورته انجينر ويلو او د انورجان همدا ارمان و چې انجينر شي خو دغه ارمان يې يرغلګرو له خاورو سره خاورې کړ، په دې کال يې راته ويل:



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



زه به جلال اباد کې درسونه ووایم د کانکور له لارې انجینرۍ ته هم کامیاب شو، مور ورته (۱۰۰۰۰) افغانۍ خرڅه او دوه جوړه کالي هم وکړل.

خیال محمد چې د شهید حاجی بهران (برو) زوی او د همدې دریو شهیدانو ورور دی ترې مې وپوښتل د چاپې په شپه څېرته وې؟ ویل یې: پاکستان کې وم د مشر ورور شاه ګل ملګري فیصل راته د جمعې په شپه ۲ بجې واټساپ کې پیغام پرېښی و بیا مو خپلوانو کې حاجي احمد شاه راته زنګ وکړ هغه کشمیر کې و او ویل یې: تذکره دې درسره را واخله پلار او ورور دې په شهادت رسېدلي. را روان شولو اکا مې مومین جان هم راسره و طورخم ته چې راورسېدلو مور یې پرېښودلو او هغه یې وګرځولو ځکه د کورواله تذکره یې نه وه کله چه د شپې په ۱۲ بجو ګردېز ته را ورسېدلو کلیوالو مو راته زنګ وکړ ویل یې: حالات خراب دي امریکایان د پاټک سرک ته راوتلي تاسو سهارته راشئ. بیا مو هلته ګردېز کې له خپلوانو کره شپه وکړه ترسهار ویښ وو خوب څېرته و! سهار را روان شولو کله چه مهمانخانې ته د ننه شوم ډېرې جنازې مې ولیدلې سوچ مې داشو چه کلیوال شهیدان شوي ځکه ما ته یې د دوو نفرو د شهادت ویلي و او دلته بیا (۵) جنازې ایښې وې (۴) زموږ د کور او یوه مو د کلیوال جنازه وه. اول د مشر ورور شاګل سرته ودرېدم بیا د اجمل بیا د کشر ورور سرته او اخر د ورسی څنګ ته مې د پلار جنازه ایښې وه. ورغبرګه مې کړه درد خو د هر یو په خپل ځای زیات و خو بیا هم ته د کوم یوه د جنازې په لیدلو زیات و دردېدلې؟ ویل یې: د مشر او کشر ورور د جنازو په لیدو زیات ودردېدلم ځکه ما ته یې یوازې د پلار او مشر ورور د شهادت ویلي وو او بیا یې په سلګو کې وویل: کله چې د مشر ورور سر ته ودرېدلم دغه صحنه به مې کله هم هېره نه شي همدغه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مې د ژوند تر ټولو دردونکې خاطره ده.
پوښتنه مې ترې وکړه: په وروړانو کې دې له کوم یوه سره ډېره مینه وه؟
ویل یې: ټول راباندې ګران وو خو ډېره مینه مې د کشر ورور انور سره وه، انور چې کله کشر و پاکستان ته به مې له کاکا سره تللو ځکه یې ډېرې خاطرې راته یادېږي.
انور (۱۹) کلن، اجمل (۲۲) کلن او شاګل بیا د (۳۵) کالو و چې شهیدان شول. په اوښلنو سترګو یې وویل: د کشر ورور خاطرې ډېرې راته یادېږي ځکه ډېر آرمان یې دا و چې زه انجینرۍ ته کامیاب شم او خپل تعلیم سرته ورسوم په (۱۲) صنف کې و، چې مور او ملګرو به یې ورته انجینر ویلو خو دی خپل هدف ته ونه رسېد او آرمانونه یې همداسې نیمه خوا پاتې شول د خیال محمد دغه خبر د یرغلګرې نړۍ په مخ تور داغ دي ځکه دوی خو په دې نیت یرغل کړی و چې دلته د تعلیم حق چاته نه ورکول کېږي؛ ورغبرګه مې کړه: قبرونو ته یې کوم وخت ډېر ورځې؟
ویل یې: هر وخت ورته راځو خو د مازدیګر له لمانځه وروسته آن تر ماښام پورې همدلته وو، د شهیدانو مورکۍ بیا آن ماسپښین د مزارونو څنګ ته راشي او همدلته ناسته وي، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې سوړ اسوېلی یې وایستلو او زیاته یې کړه اوس مې هم ذهن کې داسې دي لکه ژوندي چې رانه ورک وي، د یرغلګرو د تر سره شوي وحشت له امله مو اوس هم کور کې همااغه د چاپې شپه خوب کې لیدل کېږي، د تېرې جمعې په شپه زما کشري ورور ایمل خوب کې داسې چیغه وکړه چې ټول یې ویښ کړل اوس هره شپه خوب کې دارېږي.
خیال محمد ته مې وویل: کور کې چې تاته کیسه کوي څه وایي چې دوی څنګه راغلل؟ ویل یې: مورکۍ مې راته ویل: د شپې په خپل کور کې په آرام ویده وو چې ماشومان د جهاز قهرجن آواز راویښ کړل او



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



څو شیبې وروسته د کور شاته دېوال د یرغلګرو له لوري انفجار شو، دوی له همدې لارې کور ته را دننه شول اجمل جان د پلار سره ویده و د باندې یې منډې کړل کله چې له کوټې بهر شو همالته یې په شهادت ورسولو بیا یې موږ ټولې زنانې د کلا سر کې یوې کوټې ته د ننه کړو خاوند او بچیان مې یې په خپلو کوټو کې په شهادت ورسول.

د خیال محمد سترګې له اوښکو ډکې شوې ویل یې: مور مې ویل: انور زخمي و او اوبه یې غوښتلې اوبه مې ورکړې د کور ټول نارینه په شهادت رسېدلي وو د ګاونډي حاجي احمدشا کور ته ورغلم او د زوی د زخمیتوب مې ورته وویل: هغه سراچه موټر راسره راواستلو کله مو چې له خمکې راپورته کړ په شهادت رسېدلی و.

انا لله و انا الیه راجعون

د دغه چاپې په مهال یرغلګرو د معصومو انسانانو په وژنه بسنه ونه کړه بلکه د دوی د کور موټر ته یې هم اور ورته کړ د دوی د کور ترڅنګ عبدالهادي چې عصبي مریضي یې لرله او په سرکونو به ګرځېدلو په خپله بستره کې په شهادت ورسولو.

له خیال محمد مې پوښتنه وکړه ستاسو مورکی ته یې څه ویلي وو چې دا مو ولې وژلی؟ لا نوموړي جواب نه و راکړی چې زموږ سره ملګري «محمدي» صاحب راته وویل: مولوی صاحب دغه د هېواد په سطحه وروستی چاپه وه څکه خو یې هر څوک وژل بیا یې وویل هغه وړاندې د حاجي عزت کور وینې تر دې پورې دا قطار بیرغونه چې ښکاري ټول د همدې شپې د شهیدانو دي دوی ته چې کوم تارګېټ (هدف) ورکړل شوی و، هغه یې پوره کولو! له خیال محمد مې د وروستی پوښتنې په توګه وپوښتل: دغه د شهیدانو بچیان درسونه وایي: ویل یې: هو د شهید منصور صاحب مکتب او مدرسې دواړو ته ځي. د یتیم د پالنې په اړه مې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ورته توصيه وکړه: او د نبي کريم ﷺ په هغه حديث چې ويلې يې دي: بهتره کور هغه دی چې يتيم پکې وي او ښه پالنه يې وشي او بدتره کور هغه دی چې يتيم پکې وي او سمه پالنه يې ونه شي نو ستاسو کور بيا بهترين د کورونو شي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اتلسمه بیلګه:

# تا به ویل د مړو کلي ته راغلی یم!

په هېواد د امریکایي یرغل ورروسته، یرغلګرو په خپل لاس د هېواد له غیرېږ ګڼ ځوانان له ځان سره ملګري کړل، دغه بې ضمیر او وطن فروش ځوانان د ډالرو نشي داسې مست کړل چې د خپلو مقدساتو مقابلې ته یې ملا وتړله دوی د هېواد په غیږ کې مېشت مظلومو اولسونو باندې داسې ظلمونه تر سره کړل چې یرغلګر یې هم له کارنامو شرمېدل دوی له خپلو باداءرانو څو قدمه مخته لاړل د هېواد ګڼ ولایتونه د یرغلګرو له لوري د ترسره شویو جنایاتو ګنې کیسې لري د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې تم کیږو او د ضربیتانو له لوري د تر سره شوي وحشت یوه نمونه د تاریخ پاڼو ته سپارو، د همدې ولسوالۍ د شملزایو په کلي کې هغه کور ته ورغلو چې په یوه شپه یې(۱۲) کسان په شهادت رسېدلي د شهیدانو د جسدونو د را یستلو په تکل ورغلي کسان هم د بشر دوستانو له لوري په شهادت رسېدلي دا د حاجي خاصه دار کورګۍ دی د نوموړي ورور حاجي کواټ مو پیدا کړ او تر کور یې زموږ سره ملتیا وکړه کله چې کور ته ورغلو یوازې په رنګو دیوالونو مو سترګې ولګېدې او د همدې بمبارد شوې کلا په انګړ کې دمه شولو.

له حاجي صاحب مې د کیسې د جریان په اړه وپوښتل؟ ویل یې: ضربتیان د شپې له تعمیر او ښرنې څخه راغلل په لارو کې ورسره ځای ځای نیښتې هم شوې وې کله چې زموږ ساحې ته راورسېدل دلته هم د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor

دې خاورې اصيلو پرګنو ورباندې فيرونه کړل او دوی په ډېر غرور او وحشت مخته روان وو هر څه يې چې ليدل په نښه کول يې نه تنها انسانان بلکه حيوانات او نباتات يې هم د خپل بريد هدف ګرځول، شپه سبا شوه د لمر زرينې وړانګې پيکه ښکارېدلې تابه ويل د زرمت د ښايسته سيمې او مظلومو پرګنو سره د وير لمانځنه کوي، دوی چې زموږ له کورونو يو څه پنا شول ورور مې د غنمو لو ته راوتلی وو آن تر لسو بجو يې لو وکړ کله چې ستومانه شو خپل کور ته د ساه جوړولو په تکل راغلو نګور مې ورته فيرکې پاخه کړې وو او دوی ټول په يوه کوټه کې ناست وو يو دم درز شو او د ورور له کور مې لوخړې پورته شوې، را منډې مې کړل کله چې راورسېدم چې کوټې ټولې ړنګې دي او هېڅوک هم نه ښکاري په زوره زوره مې چيغې وکړې داسې چوپتيا وه تابه ويل د مړو کلي ته راغلی يم، شېبه وروسته کليوال هم راغلل هغه ته مې وويل: تاسو ولاړ شئ! طيارې زياتې ګرځي هسې نه بمبارد وکړي د شهيدانو له قطار څخه حاجي ظاهرشاه راته وويل: موږ به څنګه مسلمانان وو چې شهيدان په خاورو کې پراته وي او موږ له مرګ ډارېږو زه د لومړي بمبارد له امله د کور په رالوېدلې دروازه ناست وم چې طيارې دوره راوګرځوله د بمبارد د انفجار مخته مې دوړه وليده چې راپورته شوه ورپسې لوی آواز شو او غوږونو مې کار پرېښود په همدې دوړو کې مې منډې کړل څپلکې مې هم پاتې شوې او پښې مې د څوز په اغزيو زخمي شوي آن تر پله پورې مې منډه وکړه هلته مې اولادونه ولاړ وو ويل يې: ټول شهيدان شول!؟ ما ورته وويل: هو ټول شهيدان شول.

دغه شپه دومره دردمنه وه چې زامن او ويرونه مې رانه ورک وو، يو او بل مو نه شو پيدا کولای، دومره موقع هم په لاس نه راتله چې خپل شهيدان له خاورو را بهر کړو لا خبر نه وه ختمه چې محمدي صاحب ورته وويل:


Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



حاجي صاحب دغه شپه مو څنګه تېره کړه؟ ویل یې: زما په کور کې څلور کوټې دي او قطار مو جوړې کړې کړې اولادونه مې تقسیم کړل او په هره کوټه کې ویښ ناست وو، موږ ویل: که بمبارد وشي چې ټول په یو ځای ختم نه شي، شپه مو تر سهاره ویښه تېره کړه.

کله چې سهار شو د ورور د کور خواته روان شوم هلته نور کلیوال هم راغلي وو، لومړی مو د څمکې د سر شهیدان چې شپږ کسان وو راپورته کړل او بیا مو ماشین راوغوښتلو تر څو زموږ د ورور د کورنۍ شهیدان له خاورو رابهر کړي، ورته ومې ویل حاجي صاحب اول دې په چا سترګې ولګېدې؟ په ژړا یې پیل وکړ څو شیبې یې د خپلې لونګۍ شمله سترګو ته نیولې وه د حاجي صاحب سپینو سلګو او آهونو موږ هم په ژړا کړو اوښکې یې پاکې کړې او په غریو نیولې آواز یې بیا کیسه پیل کړه ویل یې مولوي صاحب غږیدای نه شم د محشر ورځ وه د ورور په سر مې د کوټې لوی تیر رالوېدلی و او سر یې ټول له منځه تللی و د دوی په لیدو مې حواسو کار پرېښود او د دیوال څنګ ته کېناستم.

له حاجي صاحب مې پوښتنه وکړه دغه شهیدان څو نفر او څوک وو؟ ویل یې ټول (١٦) کسان وو، د دوی څخه (١٢) نفر زموږ د کور وو: (١) مې ورور، (٢) وریرونه (٢) پیغلې وریرې (٣) لمسیان (١) نګور او یوه مې د ورور کډه وه دغه لس نفر تر خاورو لاندې په شهادت رسېدلي وو او (١) مې د تره زوی او (١) د هغې بچی پاس په شهادت رسېدلي وو.

څلور کسان کلیوال چې د شهیدانو د را ایستلو لپاره راغلي وو هغه هم په شهادت رسېدلي وو.

حاجي صاحب ویل: دغه څواکونه دومره له وحشت ډک وو آن تر دې چې زموږ د کور په سرای کې ګل افتاب فرس و، هغه دومره لوی شوی و چې سر یې د کلا له دیوال معلومېدلو دوی یې په لیدو فکر کړی و چې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کوم څوک راګوري سمدلاسه يې په هغه فيرونه وکړل او سر يې له تنې بيل کړ.

حاجي صاحب! هغه کليوال چې د شهيدانو د جنازو په تکل راغلي وو او بمبارد شول نومونه يې او دکوم ځای وو؟ ويل يې لومړی: شاه محمود ولد سمندر د عمرخېلو. دوهم: رسول غني ولد حاجي صفا د شملزيو .دريم: غزني ولد حاجي ځاځی د شملزيو. څلورم: وريښمين ولد لاهور د شملزيو. پنځم: خان محمد ولد معين د شملزينو او شپږم: ظاهرشاه ولد محمد جان د شملزيو دزړې کلا اوسېدونکی.

حاجي صاحب ويل: د دې شهيدانو د شهادت په ورځ زه زيات احساساتي وم او دلته رانه خلکو ويډيو کړې وه بيا هغه د کابل اداءرې سيمه ايزې حکومتولی ته رسېدلې وه زه يې تعمير ته ورغوښتلم لومړی يې راته ويل: د شهيدانو ليستونه راکړه، لا مې جواب نه و ورکړی چې د جنايي مدير يو چاته په موبايل کې وويل: هغه ويډيو راوليږه! زه ډېر زيات ورخطا شوم او له ځان سره مې ويل: اوس کيسه خرابه شوه، خو ښه وشول هغه نفر ورته ويډيو راونه ليږه چې د جنايي مدير راته وويل: يهود او نصاری څوک دي؟ ما ورته وويل: يهود او نصاری هغه کسان دي چې زموږ کورونه بمباردوي او په شهادت مو رسوي ورته احساساتي شوم بيا زما سره تللي ملګري ډاکتر لعل محمد ورته وويل: مدير صاحب! که د يوه سړي دولس غواګانې مړې شي څومره درد به وي! د دې دولس کسه فاميل په شهادت رسېدلي، له دې خبرو وروسته د دروازې ولاړو عسکرو خپل منځ کې يوه هغه بل ته وويل: راځه مړ به يې کړو څوک به يې پوښتنه وکړي...

حاجي صاحب ويل: په دغه شپه په همدې ساحه کې آن تر (۷۵) پورې کسان په شهادت ورسېدل چې يوازې (۱۵) نظامي طالبان او نور ټول بيا



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اولسي وګړي وو. په همدې ورځ د یاد ولایت د احمداباد ولسوالی اړوند یوه لیوا هم مجاهدینو نیولې وه چې پنځلس مجاهدین هلته په شهادت رسېدلي وو که د پکتیا د ولایت په سطحه د ملکي او نظامي شهیدانو احصایه لیکو نو د دې ورځې شهیدان آن (۹۰) کسانو ته رسېږي.

و الی الله المشتکی



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*نولسمه بېلګه:*

# ماشوم د مور په سينه خوله ايښې وه

د يرغلګرو جنايات پای نه مومي د پکتيا ولايت زرمت ولسوالی کې د اشغالګرې نړۍ له لوري د ګڼو وحشتونو په لړ کې دا ځل د حاجي نظراکا د کور کيسه لولو چې يوازې يو کس يې پاتې شوی او د کور ټول وګړي چې ۱۶ کسان کيږي په يوه ځای په شهادت رسېدلي، دغه جنايت د ۱۳۸۷ هـ ش کال د جوزا په ۲۴ مه نېټه د ولايت د زرمت ولسوالی د شملزيو په کلي کې د نړۍ د بشردوستانو (!) له لورې تر سره شوی، همدې کلي ته ورغلو کله چه د پېښې ځای ته ورسېدو يوازې مو د کور په کنډوالو سترګې ولګېدې او کورګی ټول وران شوی و د کنډوالو په منځ کې هغه سراچه موټر ولاړ و چې د يرغلګرو د چاپې په مهال انفجار شوی و او يوازې اسکلېټ يې پاتې و د دې موټر تر څنګ ګڼ قبرونه و چې اکثره شهيدان په کې ماشومان و اوسمهال پرې لوی څوزان(يو نوعه بوټی دی) زرغون و د شهيدانو زيارتونه مو وکړل د دې کورګي دومره څوک نه و چې پوښتنه مو ترې کړې وی، بيا مو د دې کور تر څنګ يو سپين ږيری پيدا کړ ويل يې: محمد حنيف مې نوم دی او د همدې کلي اوسېدونکی يم، کيسه يې پيل کړه او ويل يې د شپې ويده وم د بمبارد درانه غږ له خوارږه خوبه راويښ کړو د بمبارد د شدت له امله مو د کور تيرونه له خپل ځای بې ځايه شول او ګومبدې مو راولوېدلې؛ آکا راته زياته کړه په دې سيمه به تل د وحشي دښمن له لوري شپني عمليات



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کېدل خو دومره لوی غږ مو نه و اورېدلی، کله چې یرغلګر له سیمې لاړل د حاجي صاحب نظر کور ته راغلم لوړی مې په هغه ونه سترګې ولګېدې چې د کور په منځ کې وه له دې وړاندې دغه ونه د باندې نه ښکارېدله ځکه د پکتیا خلک د خپل معمول له مخې د کلا دیوالونه زیات هسکوي یاده ونه د همدې مغرورو دیوالونو تر شا پټه وه دغه کور ته راغلم دلته ګڼ خلک وو کله چې نږدې شوم د کور د کوټو سر بېره یې د احاطې دیوال(فصیل) هم وران و او هر خوا دشهیدانو جسدونه پراته وو، د دوی په مهمانخانه کې تکړه مجاهد عادل او د هغه ملګري په شهادت رسېدلي وو حاجي نظر هم د دوی سره و او د شهیدانو دکاروان مل و، د کور له کونج غږ را وشو دلته د کور ماشومان او زنانه ټول په شهادت رسېدلي، بیا مو د همدې کور خپلوان د حاجي ظاهر کورواله او بچیان را وغوښتل هغه د کور زنانه شهیدان له خاورو راټول کړل. له محمد حنیف آکا مې وپوښتل د شهید حاجي صاحب څوک پاتې دي: هغه په سلګو شو څو شېبې چوپ و بیا یې وویل: مولوي صاحب! د حاجي نظر په کور کې یوازې یوه چرګه او یو خوسی ژوندي پاتې د کور ټول وګړي یې ټوک وو، یوازې یو زوی یې محمد اسحاق چې دغه مهال یې په سعودي عربستان کې د سفر شېبې او ورځې سبا کولې ژوندی پاتې او د کورنۍ ټول غمونه یې په اوږو بار دي، د همدې ویرجنې ورځې په سهار یې راته زنګ وکړ ویل یې: زموږ په کور کې څه حال دی د یو چا موبایل هم کار نه کوي، ورته مې وویل: په کلي کې جنګ شوی و او موږ یې بندیان کړي یو اوس مهال د کولالګو په کمپاین کې یو له کلي حال نه لرو، بیا یې په ګوډلو کې د ماما له زوی پوښتنه کړې وه هغه ورته ویلي و کور مو ټول وران شوی یوازې یوه چرګه پکې پاتې ده.

محمد حنیف اکا راته ویل: هلته سعودي کې مو وریرونه دي هغه کیسه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کوله کله چې محمد اسحاق خبر شو ویل یې: انا لله وانا الیه راجعون د الله تعالی په فیصله باندې راضي یو، څه وخت وروسته دغه کس کور ته راغلو یوازې یې د کور په کنډوالو سترګې ولګېدلې او د خپل کور د شهیدانو زیارتونه یې وکړل.

د پیښې د ښه دقت په موخه د شهید حاجي ظاهرشا کور ته ورغلو د همدې حاجي صاحب کورواله د یاد کورګي د زنانه شهیدانو ټوک ټوک جسدونه لیدلي و د همدې مورکۍ کور ته ورغلو بچی یې محمد داود راووتلو او په ورین تندي یې د کور مهمانخانې ته یې د ننه کړو مورکۍ هم راغله، داود ویل: زموږ پلار هم د یرغلګرو له لوري په شهادت رسېدلی او د مور مې وراره هم شهید شوی له مورکۍ مو وپوښتل مورې ته خو د حاجي نظر کور ته د چاپې وروسته ورغلې وې هلته څه حال و؟ ویل یې: زوکیه! د هغه شهیدانو ټوک ټوک بدنونه مې چې لیدلي له هغه ورځې راهیسې راته عصبي بیماري پیدا شوې له هغه وروسته مې چې وراره او بیا خاوند په شهادت ورسېد دغه مریضي ورځ تر بلې زیاتیږي موږ ورته وویل: مورکۍ صبر کوه او غمونه هیر کړه! ویل یې: غمونه مې په زړه مې لیک دي څنګه یې هیر کړم او دا متل یې راته وویل: سوې یې سینې دي اغوستي یې جامې دي ؛ بیا یې وویل: کله چې هلته ورغلو ومو لیدل چې ټولې زنانه تر خاورو لاندې پرتې دي زوی مې داود جان به له خاورو رابهر کړې او بیا به یې ماته ویل: مورې دا څوک دي؟ ما به ورته د هغې شهیدې نوم واخیست اخر ټول شهیدان پیدا شول یوازې د حاجي نظر لورکۍ چه هغه مهال پیغله وه ورکه وه ماویل: بچیه فلانکۍ نشته، داود بیا ورغلو او یوازې د سر ټوټه یې را اخیستې وه په همغه مې وپېژندله ورته ومې ویل: زویکیه دا فلانکۍ ده د دې شهیدې وجود ټوټه شوی و او غوښې مو یې په یوه څادر کې راټولې کړې، دوه نورې لوراني یې د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شهادت په مهال داسې ښکاريدې لکه ويدې چې وي، مورکۍ سلګو واخیسته ویل یې: بچیانو د حاجي نظر دوه ودونه وو نوې کډه یې داسې مهال په شهادت رسېدلې وه چې ماشوم بچي یې په سینه خوله ایښې وه او همداسې دواړه په شهادت رسېدلي و آن د جنازې په کټ یې هم ماشوم بچی په سینو پورې نښتی و، مورکۍ ویل: بیا ما ترې جدا کړلو، په دې شهیدانو کې حاجي نظر او لور یې ټوټه ټوټه شوي وو.
داود ویل: په دې شپه دومره شهیدان و چې د کفن برابرول هم ورته سخت وو مورکۍ مې دوه کفنونه په ګوتو وګنډل او نور مو بیا د همسایه کور راته برابر کړل.
داود جان راته د شهیدانو کرامات بیان کړل ویل یې: زمونږ یو خپل و کله شهید شو ورونو او پلار یې د جنازې کټ نیولی و کله مو چې ورته وکتل له سترګو یې اوښکې روانې وې او ژړل یې د دې صحنې په لیدلو یې پلار بېهوښه راپرېوتلو، بیا یې ویل: پلار مې حاجي ظاهرشا چې کله شهید شو د شهادت ګوته یې اوچته کړې وه او لاس یې جګ نیولی و آن تر قبر پورې یې دا کرامت ښکاره کړ.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# غزني

غزني د هېواد د پلازمېنې په غرب کې موقعت لري د نفوس له لحاظه پنځم ولايت گڼل کېږي مساحت يې (۲۲۹۱۵) کيلومتر مربع دی، ددې ولايت وگړو د ناتو په وړاندې گڼې اتلولی د تاريخ په حافظه کې ثبت کړې!



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شلمه بېلګه:

# د شهید لاس پاتې دی

د ۱۳۹۷ هـ ش کال خونړۍ ژمی نور وتلی و خو لا هم د هېواد په لر او بر کې سپینې واورې پرتې وې، د حمل دریمه نېټه وه د خپل کلي مسجد ته ولاړو تر څو د یرغلګرو د چاپې په مهال خوندي ځای ته ولاړ شو د شپې لس بجې شوې چې په مخابره کې غږ وشو له لوګر یې طیارې درپورته کړې مونږ هم د کلي په طرف ووتلو چې د چاپې درک معلوم کړو یو څه وخت وروسته بیا غږ وشو او ویل یې: د زنخان خواته جهاز دورې شروع کړې لږ وخت وروسته یې بمبارد پیل کړ، داسې بمبارد چې رڼا یې ان زمونږ له کلي ښکارېدله مخابره کې یې ویل: د ګوګر په مدرسه چاپه ده، دغه ویرجنه شپه سهار شوه مونږ هم خپلو کورونو ته راستانه شولو د لمانځه وروسته یې مخابره کې د شهیدانو ویل یوه ملګري په خورا احساساتي لهجه ویل: دغه واړه طالبان د سرک سر ته یوسئ او هلته د دوی ټوټې ټوټې بدنونه کېږدئ تر څو خلک د کفارو وحشت وویني! یوه بل ملګري غږ وکړ یو ځل ودرېږئ د یوه چړي (واړه طالب) لاس پاتې ده هغه هم ورسره یو ځای کړئ!

همدې مدرسې ته ورغلم اوسمهال یې تعمیر د دې مدرسې د مهتمم مولوي نور الله «مخلص» او مجاهد اولس په هڅو بیا رغول شوی و، دا چې د پنجشنبې ماسپښین و خو بیا هم دری تنه طالبان مدرسه کې وو زمونږ یې اکرام وکړ د چاپې په اړه مو ترې پوښتنه وکړه دوی هغه کتابونه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ته ورستولو چې د چاپې په مهال يرغلگرو بمبارد پرې کړی و، هلته گڼ قران کريمونه او ديني کتابونه وو چې د وحشي دښمن د بمبارد نښې يې لا هم په سينه تاندې وې دوی دغه نسخې په څادر راته هوارې او دوی يې د څادر سر ته داسې کښناستل تا به ويل: د دوی يو ډير نږدې قريب وفات دی او دوی ته يې تعزيت کېږي همداسې وه دغه د اسلام د ستر پيغمبر وارثان وو او په دين خورا زيات وکرېدل.

د همدې مدرسې د مهتمم مولوي نورالله «مخلص» کور ته ورغلو او د همدې دردمن داستان په اړه مو ترې پوښتنه وکړه!

مولوي صاحب مدرسه مو څه وخت جوړه کړه او ولې مو دې کار ته مخه کړه؟

«مخلص»: زه لا طالبی ته نه وم وتلی چې دغه احساس راسره و چې علم به کوم او بيا به مدرسه جوړوم.

د مدرسې د چاپې په مهال چېرته وې او څنگه خبر شوې؟

«مخلص»: د مدرسې د چاپې په مهال مو هجرت کړی و او د پاکستان په کويټه کې مو د هجران شپې سبا کولې سهار مو د اطاق سره نږدې مسجد کې په جماعت لمونځ اداء کړ او ورسته اطاق ته راغلم، اطاق کې د ناستو ملگرو په څهرو کې د خفگان نښې له ورايه ښکارېدلې پوښتنه مې ترې وکړه څه مشکل دی؟ دوی څه راته ونه ويل خو په کيفيت پوه وم چې ضرور څه مشکل شته دی څکه له دې وړاندې يرغلگرو د کاپيسا ولايت کې هم د خالد ابن وليد په مدرسه چاپه وهلي وه، دلته يې تاسن کې هم جامع مسجد والوزولو همدا سلسه جاري وه خو د خدای حمد دی چې له دې وړاندې مې وراره مولوي عبدالله ته د مدرسې د رخصتی خبر وکړه مدرسه رخصت وه يوازې څلور طالبان د مدرسې د حفاظت په تکل پاتې و.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ملګرو راته ويل: ستاسو په مدرسه د يرغلګرو له لوري شپني عمليات تر سره شوي، دوی د مدرسې د رنګ حال عکسونه هم راوښودل دې صحنې ډېر ودردولم او همدې فکرونو واخيستلم چې څومره طالبان به په شهادت رسېدلي وي.

مولوي صاحب په دې وخت په ژړا شو څو شيبې يې سترګو ته لاس نيولی و اوښکې يې د پټکې په شمله پاکې کړې.

په دې څلورو کې څو کسان شهيدان شول او نومونه يې څه وو؟

« مخلص» : په څلورو کسانو کې دری شهيدان او يو په تلخونه (زيرزميني) کې زخمي پاتې و. د شهيدانو نومونه په لاندې ډول دي:

۱ـ شهيد حکمت الله ولد خانجان ولايت غزني ولسوالي زنخان قريه کوتل ۲ـ شهيد احسان الله ولد حاجي محمد رحيم ... ۳ـ شهيد حبيب الرحمن ولد ... ولايت لوګر ولسوالي خروار ۴ - زخمي شيراحمد ولد صاحب ګل ولايت غزني ولسوالي زنخان قريه ډډک.

دغه مهال په سيمه کې موبايل هم سم کار نه کولو دوه هفتې وروسته په دې وتوانيدلم چې له وراره سره مې رابطه وکړم.

کور ته کله راغلې او په شهيده مدرسه مو کله سترګې ولګېدلې؟

« مخلص» : د ۱۳۹۸ هـ ش کال د حمل مياشتې په ۲۰ مه نېټه کور ته راغلم ورپسې مدرسې ته لاړم.

په مدرسه مو چې کله سترګې ولګېدلې څنګه احساس دې وکړ؟

«مخلص» : دغه صحنه زياته دردمنه وه په ليدو يې داسې ودرديدلم چې په ژوند کې مې داسې درد نه ده ليدلی هغه د مدرسې درسونه د طالبانو ازدحام (بير او بار) مې ذهن ته راتلل دغه راز د شهيدو طالبانو خاطرې مې يوه يوه سترګو ته درېدلې په همدې دردمنو شېبو کې احساس هم راسره پيدا شو هغه دا چې د يرغلګرو د دې جنايت له امله بايد مونږ له



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خدمت شا ته نه شو سمدلاسه مې متې راونغاړلې او د مدرسې د بیارغیدو تېنګ عزم مې وکړ، له دې ورځې وروسته مې چندې شروع کړې او د هوا په ښه کېدلو سره مو په مدرسه کې کار پیل کړ.

دا ځل اسانه جوړه شوه که اول ځل؟

«مخلص»: دا ځل له اول نه آسانه او ښه جوړه شوه اول خامه خو دا ځل مو پخه جوړه کړه په سعودي عربستان کې میشتو حاجیانو او د سیمې اوسېدونکو زیات کومکونه راسره وکړل.

په شهیدو طالبانو کې د کوم یوه خاطرې ډېرې درته یادېږي؟

«مخلص»: د شهیدو طالبانو کیسې مې یوه یوه مخته درېږي خو ډېر راته حکمت جان یادېږي ځکه هغه

ډېر ذکي و او له ماشومتوبه ورسره جهادي احساس و.

دغه دردمنه پېښه د ۱۳۹۸ هـ ش کال د حمل په ۳ مه نېټه تر سره شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یو ویشتمه بېلګه:

# وینې یې په جاینماز روانې وې

د زخمي هېواد په غېږ کې تنها مشرانو نه بلکه ماشومانو هم داسې دردونه ولیدل چې اوسمهال یې سړی په اورېدلو د حیرانتیا ټال خوري د غزني ولایت زنخان ولسوالۍ د خواجه خېلو د کلي اوسېدونکي طالب العلم انعام الله جان چې اوسمهال یې د همدې ولسوالۍ د ګوګر کلي د خالد ابن ولید په مدرسه کې زده کړې کولې لا تر اوسه یې د ماشومۍ تانده دوره نه وه تېره په ماشومه ژبه یې د یرغلګرو د جنایاتو بېلګه په دې ټکو راته بیان کړه:

د شپې په مهال مو خپل کور کې خان د خوب غېږ ته وسپارلو لا پوره نه وو خوبیولي چې د یرغلګرو د جهاز قهرجن آواز مو خوبونه وتښتول انا (د پلار مور) مو د تهجد لپاره له خوب جګه شوه په نافهمۍ کې ترې د ګروپ توکمه ولګېدله کله چې ګروپ رڼا وکړه سمدلاسه امریکایي عسکرو د باندې څخه په نښه او ویې ویشتله، انا مې داسې مهال په مرمۍ ولګېدله چې په جاینماز ولاړه وه او د تهجد لمونځ یې کولو وینې یې په جاینماز روانې وې، انګور

(دزوی ښځه) یې چې کله د باندې وتله یرغلګرو په نښه کړه او ویې ویشتله ورسره غېږ کې ماشوم زوی یې هم زخمي شو.

ټوله شپه له زخمیانو سره ویښ وو دومره مو نه شوه کولای چې دغه زخمیان د تداوۍ په تکل شفاخانې ته یوسو، انا مې د سهار د سپېدو راختلو په مهال په شهادت ورسېده.

انا لله و انا الیه راجعون



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# پکتیکا

پکتیکا ولایت د هېواد په جنوب غرب کې موقعیت لري، د دې ولایت مساحت (۱۹۴۸۲) کیلو متر مربع دی، دې ولایت هم د راغلو یرغلگرو په وړاندې د غزا شمله دنگه کړې وه او حماسې یې د تاریخ په شمله وتومبلې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دوه ويشتمه بپلګه:

# د روضة العلوم فاروقيه مدرسې ويرجن ياد

پوره شل کاله وړاندې امريکايي ښکېلاکګرو د خپلو داخلي غلامانو په ملتيا د زمرياليو په هېواد هجوم راوړ، پدې لړ کې يې د هېواد مدارس مساجد او عام المنفعه ځايونه په بارودي اورونو لو لپه کړل، زموږ هېواد د داسې نامرد او وحشي دښمن د حملې سره مخ شو چې هېڅ انساني او بشري اصول يې نه پېژندل، د هېواد د نورو سيمو په شان پکتيکا ولايت هم د نامرده دښمن د وحشت درنې څپېړې خوړلې دلته نه تنها صليبيانو بلکه د دوی لاسپوڅو غلامانو داسې وحشتونه د تاريخ پاڼو ته ثبت کړل چې د چنګيز او ګورګين تاريخ هم ترې شرمېدلو، روضة العلوم مدرسه د همدې ولايت يحيی خېلو ولسوالی د اسد آباد کلي ته څېرمه پرته ده چې د بنسټ ډبره يې د علمي او روحاني شخصيت خليفه اسدالله «حق شناس» له لوري اېښودل شوې، د دې مدرسې د افتتاح پرمهال هغه سپين ږيری چې دې مدرسې ته يې ځمکه وقف کړې وه داسې وويل: اتلس کاله د مخه مې خوب ليدلو چې نبي کريم ﷺ همدلته را ښکته شوی وي نن يې تعبير رېښتيا شو هوکې دلته ګڼو طالبانو او د قرآنکريم حافظانو علمي تنده ماتوله او د علميت له چينې سېرابېدل کله چې صليبي نړۍ د ګلونو په تاتوبي د بيا رغونې په نوم هجوم راوړ دلته يې بيا رغونه نه بلکه بياړنګونه ترسره کړه، هغه مهال زه د همدې مدرسې شاګرد وم ابتدايي کتابونه مو لوستل ښه مې ياد دي چې د (فتنې) پرغونډۍ چې د پکتيکا



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مرکز ته څېرمه پرته ده د امريکايي يرغلگرو له لوري پرې توغوندي و ويشتل شول زموږ استاذانو به د احتياط له امله ويل: څراغونه مړه کړئ! هسې نه چې د ظالم د ښمن د بريد هدف شئ! کله ناکله به د لماخستن د لمانځه پرمهال څرخکې راغلې موږ به له وېرې د مدرسې څنگ ته تېښته وکړه او پناه به مو واخيسته بالآخره يرغلگرو د شپې پرمهال د مدرسې په افق داسې مهال هجوم راوړ چې د مدرسې طالبان او حافظان په خواږه خوب ويده وو، دوی له زيات اطمنان برخمن وو. څکه دوی ويل موږ د نوي گلبڼ گلان يو اسلامي امت به مو په گلونو ناز واخلي، خبر نه و، چې د هېواد اجير او پلورل شوي غلامان به يې د يرغلگرو په ملتيا په بارودي اورونو د تن غوښې کباب کړي همداسې وشول د مدرسې تعمير د اغيارو د بريد هدف وگرځېد بې پروا او غافل طالبان او حافظان په خواږه خوب ويده وو، دوی د بمونو درزا له خواږه خوب را ويښ کړل، څوانيمرگو په سپينو لاسونو خپلې سترگې پاکولې او په نازنينو لاسونو يې خپل تور وېښته د غوږونو شاته اړول، څکه دوست چې کله د يوه دوست ملاقات ته ورځي نو ځان ورته يو څه ښکلی کوي، د ځوانيمرگو سملاسي ښکلا په حقيقت کې مهربان رب ﷻ د ورتلو په تکل وه، سمدلاسه يې د نجات او ځان ساتنې په تکل د مدرسې د دروازې په لور منډې کړل همالته يې د بريد هدف وگرځول او (۱۴) کسان په شهادت ورسېدل.

انا لله و انا اليه راجعون

په اطاقونو کې پاتې کسان تر لرگيو لاندې پراته و.

که څه هم اوس په هېواد اسلامي نظام واکمن دی او مدرسه د «حق شناس» صاحب په هڅو بيا رغول شوې خو په انگړ کې يې د شهيدانو



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مزارونه او د هغوی مشهدونه د دارالحفاظ په دروازه د مشهد شهداء نوم د زړه مراندې پرې کوي؟ د فاجعې کلونه اوړي خو د مدرسې د شا گردانو د معنوي پلار «حق شناس» په زړه د دوی هر یو یاد لا هماغسې تاند دی او خاطرو یې د ژوند په چارو منفي اغېز کړی هوکې هماغه مدرسه او ژېړ مازدیگری دی لکن تللي گلابونه به بیا رانشي د هغوی هر یوه یاد به په اوښکو لمانځو.

دغه ویرجنه پېښه د ۱۳۸٦ هـ ش کال د غبرگولي په ۲۸ مه د شپې په لسو بجو تر سره شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# کندوز

کندوز ولایت د هېواد په شمال کې موقعیت لري، مساحت يې (۱۲۸۳) کیلو متر مربع دی، دلته د یرغلگرو په وړاندې د غزا او اتلولیو سنگرونه گرم و.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



درويشتمه بېلګه:

## د کندوز فاجعه، که دويمه يمامه؟

مدرسه د علم او پوهې ځای دی، همدلته د معرفت ډيوې بلېږي، د مدرسې له غېږې اسلامي ټولنې ته په پوهه او اخلاقو سمبال ځوانان وړاندې کېږي، د مدرسو سرچينه آن له صفې پيلېږي، صفه د مسجد نبوي تر څنګ هغه ځېره وه چې د اسلام د ستر پيغمبر ملګري به د دين د زده کړې په موخه همدلته راټول وو، دوی د دنيوي ژوند سره خدای پاماني کړې وه او ټول ژوند يې د اسلام د اشاعت لپاره وقف کړی و، لله الحمد اوسمهال په څوارلسمه صدۍ کې هم د اصحاب الصفه لار پالل کېږي او مدرسې تاندې دي؛ هلته هم د نبوي ګلبڼ ګلان د ظالمانو له حملو په امن نه وو ډېری وخت به د شهادت له کاروان سره مل شول لکه د يمامې په ستره معرکه کې؛ يمامه داسلامي تاريخ يوه له سترو معرکو څخه ده.
مسيلمه کذاب چې د نبوت دروغجنه دعوه يې کړې وه له ډېر لوی لښکر سره د مسلمانانو په وړاندې ديمامه ميدان ته راوتلی و الله تعالی مسلمانانو ته فتحه ورکړه او مسيلمه په دې جنګ کې هلاک شو.
په دې جګړه کې په سلهاوو حفاظ او قاريان شهيدان شول او په نتيجه کې يې د قرآن کريم دجمع کولو عظيم الشانه کارنامه سر ته ورسيدله.
کله چې د يمامه په جنګ کې حفاظ قران کريم او قراء شهيدان شول نو حضرت عمر رضی الله علنه حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته راغی او ورته يې وويل چې ډير حافظان شهيدان شول که دا سلسله همداسې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



جاري وه نو داسي نه چې قرآن کريم د حافظانو په سينو کې قبرونو ته ښکته شي کاشکې مو دا قرآن کريم جمع کړی وای چې حضرت ابوبکررضی الله عنه زيد بن ثابت رضی الله عنه ته دنده وسپارله چې قرآن راټول کړه او سره يو ځای يې کړه هغه و چې قرآن کريم د لومړي ځل لپاره جمع شو.

دلته هم د علم ګلبڼونه په امن نه وو دوی د وخت د فرعوني لښکرو له خوا تر حملو لاندې راغلي او په شهادت رسېدلي، د هېواد په ډېرو ولاياتو کې د ناټو تر چتر لاندې راغليو د بشريت تش په نوم مدعيانو له لوري په ګڼو مدارسو شپنې عمليات او بمباردونه تر سره شول او ګڼ طالبان او حافظان په کې په شهادت ورسېدل چې تر ټولو لويه فاجعه د قندوز ولايت د هاشميه مدرسې وه چې د۱۳۹۷هـ ش کال د حمل په ۲۲ مه نېټه يې د دستاربندۍ محفل د خپل بريد هدف وګرځولو. په قندوز کې د حافظانو او علماوو د دستاربندۍ مراسم شروع و چې د وخت فرعوني لښکرو دخپل چاپلوسانو په ملتيا ورباندې بمبارد پيل کړ او لسګونه تنکي حافظان او علماء يې شهيدان کړل په داسي حال کې چې لاسونو کې يې سندونه او په غاړه يې د دستار بندۍ هارونه پراته وو، په دوی داسې مهال درانه بمونه غورځېدل چې د الله تعالی د سپېڅلي کتاب د تنکيو حافظانو مبارکو سينو تازه د سپېڅلي کلام د حفظ غوټۍ سپړلې وه د دوی سينې په مرميو غلبيل شوې. او هغه نوراني څېرې چې تازه يې تربيت په قال الله او قال الرسول شوی و او د اسلامي ټولنې د اميدونو سترګې د دوی په لور کړې وې د فاسفورس په بمونو وريت کړل.

د خوښۍ دا مراسم په څو شېبو کې د نړۍ د سرې خورو له لوري په غم واوښتل او د حافظانو سپين پټکي په وينو سره شول، هر طرف د مبارکو حافظانو غوښې پرتې او د الله تعالی سپېڅلی کلام د دوی په وينو رنګ



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



و، تابه ویل یو خل بیا عثمان شهید شوی او قران یې ښنګ ته پروت دی، د حافظانو او علماءکرامو د میندو ارمانونه له خاورو سره مل ول، دوی هغه هارونه چې د خپل زړه د ټوټې لپاره یې لاس کې نیولي و د دوی په کفن هوار کړل، د فارغینو سپن پټکي کفنونه او د دستار هارونه په کفن هوار شول.

انا لله و انا الیه راجعون

د په وینا په دغه بمارد کې آن تر ۱۷۰ پورې حافظان، علماءکرام او غونډې ته راغلي عام مسلمان په شهادت ورسېدل؟
هلته که یمامه کې د حفاظ کرامو شهادت د قران کریم د جمعه کیدو سبب شو دلته بیا لوی رب د همدې تنکیو حافظانو له وینو رود نیل جوړ کړ او د وخت فرعون په کې هلاک شو، د دې سپېڅلو شهادتو په وینو کې لوی رب فتحه نغښتې وه او دا دې اوس مو هبواد د بشپړ اسلامي نظام ښخه برخمن دی.[1]

(۱)په دغه لیکنه کې مې د مولوي غلام محمد له لیکنې هم استفاده کړې چې ئن تکی آسیا ویب سایټ نشر کړې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خلرويشتمه بېلګه:

# مسجد هم د تروریست په نوم بمبارد شو

د یرغلګرو د راتلو له امله دلته ټولې خوښۍ له سیمې کډه شوې، د کلي د مازدیګر خوند پیکه شو او ځوانانو مو د ډرون له ویرې مجلسونه پرېښول، زموږ د کلي مسجد او د جماعت لمونځ کوونکي هم دهشت ګرد وو، د کلي مسجد مو د تروریست په نوم بمبارد او مناره یې ړنګه شوه د هېواد د نورو سیمو په شان د فراه ولایت هم دی چې یرغلګرو پرې د وحشت درنه ازموینه کړې، د دې ولایت د خاکسفید ولسوالی د ننګ اباد د کلي اوسېدونکي قاري عصمت الله «مدثرفراهي» راته په دې لړ کې لاندې دردمنه کیسه وکړه:
د فراه ولایت د خاکسفید ولسوالي اړوند د ننګ آباد کلي کې خلک د ماسپښین د لمانځه لپاره مسجد ته راټول وو تر څو لمونځ په جماعت اداء کړي، یو دم د یرغلګرو د چورلکو آوازونه شول، شببه وروسته یې همدغه مسجد په نښه او فیرونه یې پرې وکړل د کلي خلکو د مسجد د حجرې او ځینو بیا د خپلو کورونو په لور منډې کړل د حاجي عبدالظاهر په نوم سپین ږیري غوښتل چې د خپل ورور کور ته ولاړ شي تر څو دیرغلګرو له ګوزار بچ شي په همدغه وخت کې یرغلګرو له چورلکو حاجي صاحب په نښه شو چې لومړی زخمي او وروسته بیا په شهادت ورسېد.

انا لله و انا الیه راجعون



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د یرغلګرو دا یو برید نه و بلکه په کلي کې یې چې څوک هم د باندې لیدل په نښه کول یې او فیرونه یې پرې کول صوفي شماد کاکا چې د همدې کلي بل سپین ږیری و او غوښتل یې تر څو تر خپل کور څان ورسوي وحشیانو له طیارو په نښه او په پښو یې زخمي کړ، د ګل محمد په دروازه یې له طیارې فیر وکړ او دری زامن یې ژوبل شول، د کلي یو ژرند ګړي چې غنم یې اوړه کول دوی د برید هدف وګرځولو او ورسره ژرنده کې یې څلور نور کسان هم زخمیان کړل، مدثر «فراهي» صاحب راته وویل: په دغه ورخ یې زموږ په کور هم بمبارد وکړ چې چا ته په کې کوم زیان ونه رسېد خو د کاکا کور مو ټول د بارودو له امله وسوزېدلو، په کلي کې دوه نور کسان هم ژوبل شول چې په همدې ورخ ټول زخمیان (۱۲) کسان ژوبل شول او یو په کې په شهادت ورسېد.

د طیارو له تللو څخه وروسته موږ هم کلي ته راورسېدلو او ژوبل شوي کسان مو روغتون ته انتقال کړل.

په کلي کې د مازدیګر اذان داسې مهال وشو چې خلک د یرغلګرو له وحشت کړېدل د دې کلي ډېری کسان د شهید د جنازې او تدفین په مراسمو بوخت وو څینو بیا د خپلو ژوبل شوو کسانو سره زړه خوږلو دوی نهپوهېدل چې هغوی به روغ او که په شهادت ورسېږي د وحشي دښمن زړه یخ نه و بلکه بیا یې د دغه کلي فضا د طیارو تر پرواز لاندې کړه خو له نیکه مرغه تر څو چې دوی بمبارد کولو ټول کلیوال د کورونو په لور لاړل او لله الحمد چاته زیان ونه رسېد.

دغه دردمنه پېښه د ۱۳۹۶ هـ ش کال د لړم میاشت کې تر سره شوه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دویم خپرکی

# اتــــلولی



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لومړۍ بیلګه:

# د زمریالیو د کاروان له سرلاري سره

الحاج مولوي عبدالباقي«قانت» چې د جهاد په ليکو کې په حاجي ملا سره مشهور و د الحاج مولوي عبدالغني زوی او د مولوي محمدالدین لمسی د میدان وردګو ولایت، سیداباد ولسوالی د جنګ جای د کلي په یوه علم پروره او نیکه کورنۍ کې دې فاني دنیا ته سترګې وغړولې، ابتدايي زده کړې يې له خپل والد مکرم څخه تر سره کړې، د هبواد په مختلفو سیمو کې يې ديني زده کړې سر ته ورسولې، د شمالي وزیرستان په میرامشا کې د دوو جهادونو د قائد الحاج مولوي جلال الدين«حقاني» رحمه الله د مدرسې د شاګردۍ له وياړ هم برخمن و، وړه دوره يې په کویټه کې له مفتي عبدالرؤف او لويه دوره يې په چمن کې د شيخ الاسلام علامه عبدالغني صاحب څخه وکړه او د ممتاز په درجه د فراغت له وياړ برخمن شو.

شخصيت: شهيد حاجي ملاصاحب په اولس او مجاهدينو کې په ښو اخلاقو او حليم طبعيت، نرم مزاج او لوړه حوصله شهرت لرلو؛ زړور، باجرأته، باتدبيره او د پوره پوهې او بصيرت څښتن و.

جهادي خدمتونه: دا چې سپېڅلی نظام له حجرې را پیل شوی څکه خو حاجي ملا صاحب هم د طالبانو د پخواني امارت سره د میدان وردګو ولایت، سیداباد ولسوالی د هفت آسیاب د شابې له مدرسې یو ځای او په جهادي خدمت يې پیل وکړ او په میدان ښار او چهارآسیاب کې يې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د شهید سیدعبدالمالک آغا تر قیادت لاندې د شر او فساد په وړاندې په لومړیو جهادي کرښو کې خدمت پیل کړ. نوموړي د شمال په پُل صیاد، شکر دره، گل دره، کلاکان، قره باغ، جبل السراج او د کندوز په خان آباد، جمعه بازار، اشکمش او د بامیانو په لومړیو خطونو کې په پوره میړانه او اخلاص جهادي خدمتونه تر سره کړل.

کله چې په هېواد صلیبي یرغلگرو له ټولو اصولو خلاف یرغل وکړ نوموړي د شهید عبدالمالک آغا تر قیادت لاندي یو ځل بیا سپېڅلې مبارزه پیل کړه او د ۱۳۸۴ هـ ش کال په مهال د شهید سیدعبدالمالک آغا تر شهادت وروسته د هغه ځای ناستی وټاکل شو او د نوموړي تر رهبری لاندې ځواکونه یې منظم او جهادي خدمت یې مخته وړلو.

د شهید «قانت» تر قیادت لاندې د میدان وردگو ولایت په مختلفو ساحو کې د اشغالگرو امریکایي ځواکونو او د هغه د گوډاگیانو په گڼ شمیر فوځي مرکزونو، اکمالاتي کاروانونو او نظامي قطارونو مخامخ وسلوال بریدونه او بمي چاودنې تر سره شوې چې له امله یې دښمن ته د سر او مال درانه زیانونه واوښتل، یوه جنگي الوتکه، لسگونه زغروال ټانگونه او اکمالاتي موټر یې د اور خوراک شول، د نوموړي د بې ساري جرأت او زړورتیا له امله د یرغلگرو په خلاف د جهاد روحیه لا پیاوړې شوه.

د نوموړي شهید ورور «کرامت» صاحب راته وویل: شهید حاجي ملاصاحب ډېر بهادر و یو ځل یې د میدان وردگو ولایت، سیداباد ولسوالی د هفت آسیاب په خواجه احمد سیمه کې د یرغلگرو جنگي چورلکه وویشتله او د اور خوراک شوه دغه راز یې په لومړیو کې د سیداباد په ماشین کلا سیمه کې د یرغلگرو یو ټانگ وویشتلو او دوهم ټانگ یې د سالارو د ژرندې په ساحه کې وویشتلو، «کرامت» صاحب زیاته کړه په کوم کال چې حاجي ملاصاحب په شهادت رسېږي د دوی



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تر مشری لاندې یوازې د سیداباد په ولسوالی کې (۱۰۷) ټانګونه په کمینونو او ماینونو باندې له منځه تللي.

«کرامت» صاحب د شهید حاجي ملاصاحب کیسې داسې انداز کې راته بیان کړلې چې د نوموړي شهید هر یوه یاد یې په زړګي لاهم هماغسې تازه و کله نا کله به د شهید اشنا یادونو ترې د خبرو لوری بدل کړ او د خبرو ځای به اوښکو او سلګو ځپل کړ زیاته یې کړه په ۱۳۸۵ هـ ش کال کې د یرغلګرو له لوري پرې اوله چاپه ولوېدله چې زموږ بل ورور قاري حمیدالله او حاجي ملاصاحب یې دواړه ورسره یوړل دا چې نوموړي په اولس کې بې ساری محبوبیت لرلو ځکه خو د سیداباد اولسونه د ولایت لور ته ورغلل او ویل یې: تر هغه نه خو تر څو مو زموږ بندیان نه وي را ازاد کړي هغوی مجبور شول او دواړه یې ازاد کړل په حاجي ملاصاحب د دښمن له لوري آن تر ۱۳ پورې چاپې ووهل شوې چې هر ځل به لوی رب په ځانګړي نصرت د نوموړي حفاظت او ساتنه کوله بلاخره د جهاد او شهادت هسک مېنار د خپلو ځلورو ملګرو هر یو مولوي محمد عارف چې په (خلیفه صاحب) مشهور و، ملا امیرجان «متقي»، ملا محمد عارف «آغاجان» او قاري احمدشا سره یو ځای د ۱۳۸۸ هـ ش کال د چنګابښ د میاشتې په ۴ مه نېټه د پنجشنبې په ورځ د سیدآباد ولسوالی د شیخي په کلي کې د اشغالګرو امریکایانو په یوه وحشیانه چاپه کې له نیم ساعت مقاومت وروسته د شهادت لوړ مقام ته ورسېد.

انا لله و انا الیه راجعون

نحسبه کذالک والله حسیبهم[1]

(۱) دغه معلومات د شهید حاجي ملا صاحب ورور مولوي اسدالله کرامت صاحب راکړل



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*دویمه بېلګه:*

# د امریکایي پښه په ونه کې ځوړنده وه!

د لوګر ولایت پادخواب شانه اوسېدونکي مجاهد مولوي شمس الرحمن «طه» د دې ولایت د اتلو پرګنو د غیرتونو اړوند کیسه په لاندې ډول بیان کړه:

امریکایان را روان وو کله چې دې هسکې غونډۍ ته راورسېدل مورډ جنګ وریاندې پیل کړ او درې نفر ولګېدل، امبولانس راغلو دوی یې یو وړل شاته امریکایان پیاده روان وو چې په دوی کې د امریکایانو د فوځ ښځینه عسکرې هم وې د پادخواب شانه مربوط کلي اتوکلا ته راورسېدل دلته یوه دیوال ته ولاړ وو چې د دې کلي اوسېدونکي نومیالي مجاهد زرقاوي (چې درې ورونه یې له وړاندې په شهادت رسېدلي) ورته ویشتونکی توپ برابر کړ انفجار یې وکړ او دوی یې والوزول د امریکایي عسکرې پښې، د سر ویښته او د طیلا بنګړې همدلته پاتې وو. زرقاوي د امریکایي عسکرې پښه د مزار جامع جماعت سره په ونو کې راځوړنده کړله د دې پښې په لیدلو د مظلوم او کړېدلي اولس تنده ماتیدله، امریکایانو د دې سیمې خلکو ته اخطار ورکړ چې پښه راولیږئ کنه کلي بمبارد کوو، بیا طالبانو ورته اجازه ورکړه او دصحت عامې امبولانس راغلو دغه پښه یې ولایت ته یوړه او د هغه وخت والي ارسلاح «جمال» بیا امریکایانو ته تسلیم کړه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دریمه برخه:

# تر سهاره د خطر زنګونه کېدل

د لوګر ولایت مرکز اړوند پادخواب شانه اوسېدونکي مولوي شمس الرحمن «طه» د جهادي اتلولیو اړوند خپله کیسه داسې بیان کړه:
۱۳۹۰ هـ ش کال و یوه ورځ مو په خضر باندې د هشتاددو عملیات وکړل د لوی رب د ځانګړي نصرت له امله مرمۍ د تیلو په ذخیره ولګېدله امریکایان هم ولګېدل دوی آن تر سهاره د بېز منځ کې د خطر زنګونه کېدل زموږ سره یو هشتاددو و هغه مو هم د بلې ډلګۍ ځخه راوړی و، لږ وروسته طیارې راجګې شوې د کلي مسجد یې بمبارد کړ د وحشي دښمن په بمبارد کې یو مجاهد زخمي او بل شهید شو لله الحمد کلیوالو ته کوم زیان ونه رسېدلو. امریکایانو کلي ته ټانګونه هم راوستل سهار چې له کلي تلل لار یې بدله کړه تر څو د مجاهدینو له ماینونو ځان وساتي، د کلي په بره لار روان ول چې د روسانو د وخت په ماین د دوی ټانګ وختلو او انفجار یې وکړ دوی ټول په کې د اورو خوراک او ټانګ یې تخریب شو.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*څلورمه بېلګه:*

# کور مې دې له تاسو قربان وي!

د لوګر ولایت مرکز اړوند پادخواب شانه اوسېدونکي مولوي شمس الرحمن «طه» راته د جهادي ژوند په لړ کې د مؤمن اولس د قربانیو بېلګه داسې بیان کړه:

د اختر شپه وه ملګري له وړاندې ننګرهار ولایت ته تللي وو تر څو هلته په دواعشو او خوارجو عملیات تر سره کړي هغوی لوی رب بېرته روغ راستانه کړل موږ د هغوی د راتګ له امله خوښ وو کله چې شپه شوه موږ د لوګر مرکز اړوند دوشنبې کې له خپل مرکز ووتلو څکه کشفي طیارې زیاتې ګرځېدلې او بل دغه ځایونه دښمن تر زیات تعقیب لاندې ساتل، زه او راسره ملګری یوې لېرې سیمې ته لاړو هلته دمه شولو ملګري راته ویل: دلته هم د دښمن څارګرې الوتکې ګرځي، له دې سیمې بېرته راوګرځېدلو موټرسیکل مو لېرې ودرولو  او یوه کور ته ورغلو، ملګري ته مې ویل: ته فیره وکړه زه زیات ستړی او مریض یم لا شپه نیمایي ته نه وه رسېدلې چې ملګري راپاندې غږ وکړ او ویل یې: چاپه ده، کله چې رابیدار شوم د همدې کور شانه د یرغلګرو طیارې کېناستلې، اسلحې مو برابرې کړې او ملګري ته مې وویل: «کاروانه» اطمیناني اوسه که یرغلګر د ننه راغلل حمله به ورباندې وکړو په همدې انتظار وو چې د یرغلګرو درک ورک شو، نیم ساعت وروسته ملګري راته ویل: زه به د بام څخه یرغلګر وڅارم کله چې بام ته وختلو ویل یې: دلته هېڅ مشکل هم نشته



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په دې وخت کې د کور څښتن هم راغلو ویل یې: څه کیسه ده مورې د چاپې ورته وویل: ده ویل همدلته اوسئ! هیڅ مشکل نشته که دوی راغلل مرګوني عملیات پرې وکړئ! تاسو چې په شهادت رسیږئ زما کور دې له تاسو قربان وي.

امریکایانو په دې شپه د احمدخان کلا د نامیندانو په کلي کې دوه دهقانان داسې مهال په شهادت رسولي وو چې په خپلو فصلونو کې یې اوبه لګولې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پنځمه برخه:

# (۳۴) امریکایان د اور خوراک شول

افغانستان هغه هېواد دی چې تل یې یرغلګر او پردیپال په خپله غېږ کې مات کړي، دغه خاوره لوی رب قدرتي داسې جوړه کړې چې یرغلګر په کې د مرګ ترخه غوړپونه څکي، دلته انګریزان، روسان او د ناټو لښکرې لوی رب داسې شرمنده کړې چې سیالانو ته یې سترګې مړې او په ذلت له دې خاورې ولاړل؛ د جهادي کاروان د سترو لارویانو د هر لاروي قرباني او اتلولي په دې ارزي چې تاریخ ته وسپارل شي تر څو دا جهادي جذبه نه تنها د افغان بلکه د نړۍ د مسلمه امت په راتلونکو نسلونو کې تانده شي د لوګر ولایت پادخواب شانه اوسېدونکي مولوي شمس الرحمن «طه» راته د خپلو جهادي اتلولیو مهمه خاطره داسې بیان کړه: د ۱۳۸۷ هـ ش کال پسرلی و د هېواد دښتو او غرونو تازه د ښکلا شنه څادرونه اغوستي وو بل طرف بیا د حق د لارې غازیان په دې خوښ و چې ونو شنې جامې په تن کړې نور په یرغلګرو د ځپانده حملو وخت رارسېدلی، زه او راسره ملګری محمد ګل «فدایي» چې یو لاس یې له ورانده د هېواد آزادۍ ته نذرانه کړی و په دې تکل روان شولو تر څو په خضر بېز کې میشت امریکایانو باندې ځپونکی برید وکړو د خضر بېز په یونیم کیلومترۍ کې مو میزایل په هدف برابر کړل د ترصد ملګرو ته مې وویل: انتظار شئ ان تر ماښامه هغوی انتظار شول کله چې د کلي له هسکو مینارو د تکبیر ملکوتي آوازونه پورته شول مونږ هم د تکبیر په



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لړزونکي آواز سره ميزايل د دښمن د مرکز په لور شارت کړل. سبحان الله! په دې سپيځلې خاوره کې د تکبير په ملکوتي نارو شيطانان او د شيطان لارويان يې دواړه په اور سوزيدل.

«طه» مولوي صاحب راته زياته کړه له دې وروسته موږ داسې مهال خوندي ځای ته د تللو تکل وکړ چې له سر مو دسمالونه پيچلي وو او په سترګو مو تورې عينکې وې يو څه مخته ولاړو او هلته دښته کې دوه کورونه و د هغه څنګ ته ځنګل کې مو له سر دسمالونه خلاص او له سترګو مو عينکې لرې کړې بېرته د خپلو کورونو په لور راروان شولو.

لار کې مې ملګري ته وويل: طيارې ولې نه راپورته کوي لکه چې عملياتو کې چې دوی ته زيان نه دی رسېدلی، څو شېبې وروسته د بيز څخه ډرون او څرخکې راپورته شولې د کورونو په سر يې ګرځولې او ساحه يې څارله موږ خوندې ځايونو ته ورسېدلو په همدې شپه يې په نږدې سيمه کې دری ځايه شپني عمليات تر سره کړل وروسته د دقيقو معلوماتو په اساس معلومه شوه چې په يادو کاميابه عملياتو کې د امريکايي ځواکونو (۳۴) نفر او د اردو (۷) نفر لوړ رتبه قوماندان وژل شوي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شپږمه بېلګه:

# د غارِ ثور یادونه تاند شول

د جهادي بهير په لړ کې د هېواد شازلميو په لوړ عزم د يرغلګرو په وړاندې د مقابلې ډګرونه وپالل، دوی د سختو چاپو په مهال د دنګو غرونو په غارونو کې شپې سبا کولې او موږ ته يې د غارِ ثور تاريخ را يادولو ، د ميدان وردګو ولايت، چک ولسوالی اوسېدونکي منصور راته د جهادي تکليفونو په اړه خپله خاطره داسې بيان کړه: زموږ دری ملګري وو چې د امريکايانو لپاره يې يوه کلا له ماينونو ډکه کړې وه او په هغه کې يې زندان جوړ کړی و، دغه دريو مجاهدينو د ژمي په سخته هوا کې د سيمې په يوه واړه غار کې د دې لپاره شپې سبا کولې تر څو يرغلګر د دوی انفجار ته برابر شي، له دې مجاهدينو يو ملګری قاري زاهد د ياد ولايت، سيداباد ولسوالي د تنګي د شهيد پرورې درې اوسېدونکی و چې ډېر وخت بندي و، کله چې له زندان ازاد شو بيا يې دې قربانۍ ته ملا وتړله وروسته لوی رب د شهادت په وياړ هم ونازولو، دوه نور ملګري لا تر اوسه ژوندي دي!



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اوومه بېلګه:

# له زخمي مجاهد يې لاسونه تاو کړل

محمد اسماعيل «خاکسار» د لوګر ولايت د پادخواب شانه اوسېدونکي د تېر اشغال په مهال د اولس د قربانيو په لړ کې خپله خاطره داسې راته بيان کړه:
د پادخواب شانه د ټغرو خواته پوسته وه د زلمي په نوم مجاهد د دې پوستې تر څنګ لار باندې تېريدلو چې د پوستې له لوري په نښه او په ښه ولګېدلو تر څو چې د پوستې کسان ورته راتلل د سرک تر څنګ کور څخه يوه بهادره او مېړنۍ خورکۍ راووتله او له زخمي مجاهد يې لاسونه تاو او په غېږ کې يې کور ته د ننه کړ او له خپل کور يې بل کور ته هغه بل کور ته يوړلو...



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*اتمه بېلګه:*

# ملالۍ خويندې

۱۳۹۶هـ ش کال و په هېواد د نړيوالو يرغلګرو له لوري په مظلومو هېوادوالو هر ځای بمبارد او شپنۍ چاپې اچول کېدې د تېريګرو نړيوالو بدمعاشانو مقابلې ته اتلان شازلمي راوتلي وو وخت ناوخت به يې په دوی تندريز ګوزارونه کول دغه غيرتي شازلمي په دغه سپېڅله مبارزه کې يوازې نه وو بلکه تر شا يې د ملالۍ خورکی هم وې دوی يې نه تنها د جهاد او مقابلې لپاره آماده کول بلکه کله نا کله يې وسلواله مبارزه هم کوله راځئ قدرمنو لوستونکو تاريخي بېلګه يې ولولو:

د ميدان وردګو ولايت نرخ ولسوالی د دادل درې د اعتبارخېلو کلي اوسېدونکي شامحمد(تورابي) ولد شهيد حضرت محمد کيسه کوله :

د ۱۳۹۵هـ ش کال د مرغومي د مياشتې ۱۲مه نېټه وه د ژمي سړې شپې وې، د هېواد د نورو سيمو په شان ميدان وردګ ولايت هم له زيات يخ او واورو برخمن و، معمول داوو چې صليبي يرغلګرو به هغه مهال په مظلومو ولسونو د وحشت او تيري شپنۍ چاپې اچولې چې يخ به زيات و په همدې شپه د خپلې خسرګنۍ کره تللی وم د شپې لس بجې وې چې چاپه مار عسکر د چورلکو په مټ سيمې ته راورسېدل کوم کور کې چې زما شپه وه دغه کور د دوی څخه يو څه لېرې و، داچې چاپه وهونکي به تل د چاپې له سيمې لرې کښته کېدل خپل هدف ته به پياده تلل څکه زه هم مخابرې ته غوږ وم بل طرف مې د کور له لوړې بالاخانې د دوی



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لار څارله کله چې پوه شوم چې یرغلګر رانږدې شوي د کور انګړ ته راغلم د شپې یوه بجه وه چې د کور دروازه وټکېدله دغه مهال زموږ مشر شهید قاري محمدي (چې دغه مهال شهید و) راته راغلو ویل یې: جنګ ورسره شروع کړه ورته تسلیم نه شي هیڅ مشکل نشته، کله مې چې قاري صاحب ولید زړه مې نور هم مطمئن شو پوه شوم چې لوی رب به فتحه راکوي، ما د کور په سرای کې د کوهي په غاړه د ایښودل شوي بیلر څنګ د خان لپاره انتخاب کړ، کله چې دوی دروازه په زور راخلاصه او حویلی ته د ننه شول د تو پکو شپیلی یې د کور د اطاقونو په لور اړولې وې دوی هغه طرف ته متوجه وو، ما د خپل توپک شپیلی د دوی لور ته وروګرځوله د تکبیر په ملکوتي نارې مې د دوی په لور فیرونه پیل کړل پنځه تنه همدلته ووژل شول او یو تن زخمي شو، زه بیا پاس بالاخانې ته وختم هلته یوې کړکی ته کښیناستم دا چې په دې شپه د ربیع الثاني څوارلسمه نېټه وه سپوږمی خپله رڼا پوره کړې وه دوی ماته ښه معلومېدل د ام پورتوپکونو دوربینونه یې لګولي وو دوه کسان بیا د کور سرای ته د ننه شول ما بیا ورباندې فیرونه وکړل یوتن بیا ولګېدلو دغه بل کس د کور لاندې منزل کوټو ته دې ننه شو هلته یې زما اوښیان ګیر کړل هغوی یې له وړې ورسی د باندې ویستل دغه یرغلګر هم ورسره لاړ، له دې وروسته یې په لوډسپیکرونو کې آوازونه پیل کړل ویل یې: راووزئ! د کور خلک ور ووتل بیا دوی راغلل: یو جاغور مې بیا پرې خالي کړ په دغه فیرونو یو کماندو عسکر زخمي او بل ووژل شو په دغه عملیاتو کې زما کورواله هم برخه واخیسته مرمی یې راته برابرولې او د یرغلګرو په لور یې فیرونه هم وکړل، د بالاخانې له کړکی دوی ښکارېدل د دغه کور له څنګ سره غونډۍ وه دوی هلته وختل د راکټ دری فیرونه یې د کور لور ته راوکړل، په لومړیو دوه فیرو یې زموږ لور ته کوم زیان ونه رسولو



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



موږ د بالاخانې د بلې کوټې لور ته ولاړو د راکټ دریمې مرمۍ زما کور واله زخمي کړه، امریکایانو هلته محبس کې زموږ اوښیانو ته ویلي و ستاسو له کور څخه یو کس نه بلکه ډیرو کسانو جنګ وکړ.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*نهمه بېلګه:*

# د ډبرې په ګوزار موټر چپه شو!

د میدان وردګو ولایت، سیداباد ولسوالۍ د یوسف خېلو اوسېدونکي مجاهد روح الله«ملنګ» راته وویل: د خالد ابن ولید په لیسه کې مو زده کړې کولې یوه ورځ د تفریح په مهال د باندې راووتلو چې د کابل اداءرې د اکمالاتو لوی قطار د کابل په طرف روان و، له موږ سره شهید «ماچی» شهید عبدالرحمن او شهید مسعود هم وو؛ کله چې دغه قطار د لیسې څنګ ته راورسېد ټول موټر لاړل یوازې یو موټر ترې پاتې شو «ماچې» ویل کاش اوس یو ټوپک وی! په دې کې ما ډبرې ته لاس کړ او د څنګ په شیشه مې یې ګوزار وکړ، شیشه یې ماته او په څنګ روان شو لاندې پولچک ته ورولوېدلو؛ شهید جاوید ورمنډې کړل په موټر کې پشمي شیشه بار وه نوموړي یې تختې ورماتې کړې، دلته یو دوکاندار و د هغه سره به تل د پطرولو ډک بوتل اېښي وو. جاوید ترې دغه بوتل واخیستل موټر ته یې تیل وروشیندل او اور یې ورته ور کړ، دغه موټر د اور په لمبو کې لولپه شو او موټروان یې قطار ته چې د سپین کلینیک سره وو وروتښتیدلو.

ملنګ زیاته کړه یوه ورځ د امریکایانو قطار زموږ له لیسې سره تیریدلو موږ ورباندې د ډبرو ګوزارونه وکړل او وروسته ترې په پولچک کې پټ شولو، دوی زموږ د مکتب مدیر راوایستلو او ورته ویل یې: دا لسم ځل دی چې د همدې لیسې څخه زموږ په قطار د ډبرو وارونه کیږي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*دولسمه بیلګه:*

# غازي جمپ

دلته لر او بر د یرغلګرو لپاره سنګر و هره ورځ به د راغلو نابللو میلمنو ټانګونه د ځمکنیو ماینونو په واسطه انفجار کېدل د میدان وردګو ولایت، سیداباد ولسوالی چې د هېواد په سطحه له هغو دریو ولسوالیو څخه ده چې یرغلګرو ته په کې د سر او مال ډېر تاوان اوښتی او دوی بیا د خپل انتقام په موخه همدلته زیاتې حملې کړې او ملکي خلک یې د خپلو بریدونو هدف ګرځولي.
(غازي جمپ) چې د کابل او کندهار د لویې لارې اړوند د سیداباد ولسوالی هفت آسیاب د کلي څنګ ته موقعیت لري د یرغلګرو ګڼ ټانګونه همدلته د اور خوراک شول د همدې ولسوالی د جنګ جای د کلي اوسېدونکي مجاهد مولوي سید حبیب راته وویل: په دې جمپ د یرغلګرو ګڼ ټانګونه تخریب او په کې سپاره اشغالګر د مرګ کندې ته غورځار شول ځکه ورته غازي جمپ وایي، مولوي صاحب زیاته کړه:
یوه ورځ مې په خپلو سترګو ولیدل چې د اشغالګرو ټانګ همدلته په ماین انفجار شو...



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*دیارلسمه بیلګه:*

# فتحه او نصرت به مو ملتیا کوي

د غزني ولایت مرکز اوسېدونکي حافظ بدرالدین «شهیدخېل» چې له فتحې وړاندې د نظامي کمیسیون مسؤل و او د فعالې دلګۍ مشري یې هم کوله د اتلولیو په لړ کې خپله خاطره داسې راته بیان کړه:
مخکې له دې چې د حافظ صاحب خبرو ته ځو ځو شېبې به د غزني په وياړلي تاریخ تم شو، غزني ولایت چې د تاریخ پاڼې یې ښایسته کړې همدلته سلطان محمود «غزنوي» اوسیدلو او په نوره نړۍ یې راج چلولو ، د دې سپېڅلې خاورې په غېږ کې ګڼ اولیاء کرام دمه دي د دوی انوار، برکات او فیوضات اوس هم یاد ولایت کې مشاهده کېږي له دې وياړلې سیمې به د اسلام لښکر آن د هند په لور خوځېدل دا سیمه په علماوو، شاعرانو او ادیبانو ښکلې وه؛ د غزني متدین اولس د خپلو اسلافو لار پاللې همدغه سیمه د راغلو نابللو میلمنو په وړاندې د اور کنده وه له دې سیمې د ابویوسف رحمه الله په شان غازیانو سرونه دنګ کړل او د یرغلګرو په وړاندې د بنیان مرصوص (محکم کړل شوي دیوالونه) په شان دنګ ولاړ وو د یرغلګرو زر او زور یې عزمونه متزلزل نه کړل، د مکار دښمن له لوري جوړې شوې کابل اداءرې د مظلومو اولسونو د کړولو په تکل د هېواد ګوټ ګوټ کې داسې کسان په دندو ګمارل چې اولسونه وکړوي دوی ولایت ته هم د خپلو شومو موخو د رسېدلو په تکل د فرید «مشعل» په نوم قوماندان وټاکلو تر څو دغه مظلوم اولسونه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



وکړوي، قوماندان په ۱۴۳۹ هـ ق کال کې یوه ورځ په ډېر غرور او تکبر د غزني ولایت اړوند د مرکز مربوط د نوغي ساحې ته یوه لویه قوه روانه کړه چې پولیس، اردو او صفریک په کې وو، موږ چې کله خبر شولو هغه مهال دوه گروپه ساحه کې وو چې ټول تعداد یې تر (۲۰) کسانو پورته نه و، موږ مشوره وکړه چې دښمن یو څه مخته راشي عملیات به وریاندې وکړو، همداسې وشول دوی راغلل او باغونه یې ونیول موږ د کلي بر سر کې کمین کې کېناستلو کله چې دوی رانږدې شول عملیات مو پیل کړل د یوه گروپ مسؤل شهید حذیفه او دبل گروپ مسؤل بیا معاویه و زموږ په ملگرو کې دوه تکړه ملگري شعیب او عاصم ورمخته شول د دوی له لوري په ډزو کې شعیب شهید او عاصم بیا زخمي شو هملته ورپاتې شو حذیفه ور وړاندې شو او د راکیټ فیر یې پرې وکړ نوموړی هم زخمي شو په دې وخت کې ځینو ملگرو ویل تکتیکي شاتگ به وکړو ځکه د دښمن تعداد زیات او موږ بیا کم یو هسې نه نورو ملگرو ته زیان ونه رسېږي، «شهیدخېل» ویل په دې وخت کې مې ملگرو ته د صبر، استقامت او ثبات په اړه د مخابرې په څپو کې لنډ پیغام واورولو او دوی ته مې وعده ورکړه چې فتحه او نصرت به ضرور زموږ ملتیا کوي، نصرمن الله وفتح قریب .الایة.

همداسې وشول یو ځل بیا د تکبیر په ملکوتي نارو د جگړې ډگر گرم شو د غزني له مرکز تازه دمي غازیانو هم داتلولۍ میدان ته راودانگل په دښمن کارنده بریدونه روان و بلاخره دوی د تېښتې لار خپله کړه، مجاهدین له شا پسې روان وو د نوغي د کلي د (عرفان) په نوم مسجد سره د دوی یو ټولی محاصره شو د دوی یو ټانگ هم مجاهدینو وویشتلو او همدلته پاتې شو د دې ټانگ سره د دوی وژل شوي کسان هم پراته وو همدارنگه د لته یوه بله کلا هم مجاهدینو محاصره کړه دوی تېښته



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



وکړه یوه کور ته د ننه شول مجاهدین همالته پسې ورغلل د اردو قوماندان او دری نور عسکر یې ژوندي ونیول په دې عملیاتو کې د مجاهدینو لاس ته دوه امریکایي فیکاوې، یو راکیټ او دوه (M16) ټوپک او یو اګاییز ورغلل. دا چې د اسلام مبارک دین د ژوند د هرې برخې لپاره ځانګړي اصول لري، په دې دین کې د بندې لپاره هم اصول وضعه شوي د هغه اصولو په بناء څلور بندیان د مجاهدینو سره دوه شپې وو د دوی سره د بند په مهال داسې غوره چلند وشو تا به ویل دغه د مجاهدینو خپل ملګري دي د تللو په مهال دوی ته جامې او د لارې خرڅه هم ورکړل شوه، د مجاهدینو د اخلاقي چلند له امله دوی وعده وکړه چې نور به په خپلو کورونو کې د یوه عادي افغان په شان خپل ژوند ته اداءمه ورکوي. د پیښې د استناد په موخه ښاغلي حافظ صاحب د هغه صحنې ویډیوګانې هم راسره شریکې کړې .د یادونې وړ ده چې په دې عملیاتو کې دښمن ډېر مغلوب شو او الله تعالی مجاهدین په ستره بریا ونازول.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*څوارلسمه بېلګه:*

# انتظار شئ! تر څو ځای درته جارو کړو

د یرغلګرو له لوري به هره شپه د هېواد په لر او بر کې په مجاهدینو شپني عملیات کېدل، مجاهدینو ته د مشرانو له لوري هدایت وشو تر څو د ځان د حفاظت لپاره ځایونه ترتیب کړئ، ډېری مجاهدینو همداسې وکړل او د شپې به هماغه ځایونه ته تلل؛ مولوي حبیب الله «احمد» په دې لړ کې د مجاهدو خویندو جهادي خدمت او خاطره په دې خوږو الفاظو شریکه کړه:

زموږ په ساحه کې مشکلات ډېر زیات وو د شپې په مهال به نورو ځایونو ته تللو په دغه کال کې مو ایله دری شپې کور کې وکړې، یوه ساحه وه چې له کلي (۶۰۰) میتره لرې وه هلته یو باغ و د دې کور خلکو زموږ لپاره یو صوف (غار) جوړ کړی و تر څو د چاپې په مهال موږ هلته لاړ شو او پنا واخلو، یوه ورځ چې د یرغلګرو شپږ ځارونکې طیارې په فضاء کې ګرځېدلې زه او راسره ملګری همدلته ولاړو خو کله چې دې باغ ته ورسېدلو غار کې لږ رڼا ښکارېدله ملګري ته مې وویل: دغه ځای هم لکه چې افشا شوی خپه شولو کله چې ورننوتلو دې شولو زنانه راباندې غږ وکړ او ویل یې: مولوي صاحب! تاسو لږ ماتل شئ تر څو ستاسو ځای جارو کړو، دغه خبرې په ما ډېر زیات تاثیر وکړ یو شل دقیقې په باغ کې ماتل شولو چې دوې ښځې رابهر شولې ویل یې: مولوي صاحب! ستاسو ځای زیات خراب شوی و هغه مو صفا کړ، یوه کمبله مو هم درته هواره



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کړه او ډوډۍ او چای مو هم درته برابر کړل مور نورې ولاړو.
دوی ته مو وویل خورکی! طیارې زیاتې ګرځېږي له ځان سره پام وکړئ هسې نه ومو ولې.
مور خپل ځای ته د ننه شولو کمبله هواره وه، ډوډۍ په دسترخوان کې تاو وه، ترکاري او چای هم ایښی وو.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*پنځلسمه بیلګه:*

# د ناوکي بستره یې راباندې واچوله

د سپېځلي جهاد په مهال د هېوادوالو قرباني د هېرېدلو نه دي، د یرغلګرو د شپنیو عملیاتو په مهال چې له پاسه ډرون طیارې ګرځېدلې او د کور د ړنګېدلو، بچیانو د شهادت او... ویره به وه بیا هم د غازي اولس غېږ د مجاهدینو په مخ خلاصه وه په دې لړ کې د میدان وردګو ولایت، نرخ ولسوالۍ اوسېدونکي مولوي حبیب الله «احمد» چې له فتحې وړاندې د نظامي کمیسیون معاون او اوسمهال بیا د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د امنیه قوماندان په حیث خدمت کوي د همدې لړۍ اړوند خاطره داسې راسره شریکه کړه:
یوه ورځ د یرغلګرو طیارې زیاتې ګرځېدلې او فضا یې اشغال کړې وه، راسره ملګري حمیدالله «بلال» راته وویل: دلته ساحه کې زموږ نږدې ملګري دي نن به د هغه کور ته ورشو ور روان شولو او همله ماخستن تیاره کې ورسېدلو د دغه کور څښتن نوی واده هم کړی و، د ناوې کوټې ته یې بوتلو د ژمي موسم و او هوا ډېر سړه وه، دا چې د باندې ډېر وخت وګرځېدلو زموږ هم زیات ساړه شوی و کله چې ویده کېدلو همدې خوان راباندې د ناوکي بستره واچوله ما ورته ډېر وویل دغه نه راباندې اچوم ده ویل دغه به نن شپه ضرور درباندې اچوې زه والله که په کې ویده شم.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*شپاړسمه بيلګه:*

# د واده نوې بستره هواره وه

د تېر شل کلن اشغال په مهال د هېواد غازيانو او اتلو پرګنو د قرباني ګڼ داستانونه د تاريخ پاڼو ته وسپارل، دلته غازيان تنها نه وو بلکه تر څنګ يې مجاهد اولسونه ولاړ وو د ميدان وردګو امنيه قوماندان الحاج شيخ الحديث محمد شريف «حليمي» په دې لړ کې خپله خاطره داسې شريکه کړه:

۱۳۹۰ هـ ش کال و د ژمي ده رارسېدلو له امله ګڼو ملګرو د هجرت لار خپله کړه او موږ څو کسان په سيمه کې پاتې وو، کله چې د سيمې په هسکو غرو او ميرو واورو خپل سپين څادر خور کړ مکار دښمن شپنې عمليات پيل کړل داسې شپه به نه وه چې د عملياتو شاهد به نه و په همدې ژمي کې يې د ميدان وردګو ولايت، جغتو ولسوالۍ کې د شپنې چاپې په لړ کې زموږ ملګرى مولوي ولي مرجان «فياض» چې اوسمهال د جغتو ولسوالۍ امنيه قوماندان دى ونيولو همدارنګه قوماندان محمد جان يې هم ونيولو؛ فضا به هېڅ څارګرو الوتکو نه پرېښودله يوه شپه په خپل کلي (سبزسنګ) کې وم د ماختن له لمانځه وروسته د کور نه روان شوم څکه طيارې زياتې ګرځيدلې زموږ د يوه کليوال کور ته ورغلم کله مې چې دروازه ور ټک ټک کړه د دې کور هغه ځوان راووتلو چې دوه مياشتې وړاندې يې واده راوړى و راته ويل يې: مولوي صاحب راځه کور ته، پسې روان شوم کور کې يې خپلې کوټې ته بوتلم هلته يې د واده



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نوې بستره هواره وه ویل یې همدلته ویده شه! ما ورته وویل: دلته نه ویده کېږم خو دغه څوان وویل: خامخا به همدې بستره کې ویده کېږې ورسره مې ومنله کله چې دغه څوان له کوټې بهر شو په خپل څادر کې مې ځان ونغښت او ویده شوم.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اولسمه بېلګه:

# کاش مرمۍ نه وی خلاصې!

د زمریالیو په هېواد د صلیبي یرغلګرو مقابلې ته ګنو ځوانانو په اوږو ټوپک او تر سینو چانټې وتړلې دوی د راغلو یرغلګرو په وړاندې سینې سپه کړې او دبنیان مرصوص (محکم کړل شوې دیوالونو) په شان دنګ ولاړ وو، د دوی تبلیغاتو، زر او زور یې عزمونه متزلزل نه کړل بلکه دنګو همتونو یې په مکار دښمن د سختو حملو تابیا نیوله، دوی د (من المؤمنین رجال صدقوا ما عاهدوا الله علیه) غوره مصداق بلل کېدل، همدوی وو چې له الله تعالی سره کړې وعدې یې د سرونو په قربانی رېښتیا کولې او وفا یې پرې کوله.

د میدان وردګو ولایت چې د هېواد په اُفق یې د اتلولیو کارنامې ځل وهي د همدې غیرتي ټاټوبي د یوه اتل سره څو شېبې پاتېږو د ده په کارنامو جهادي تنده خړوبوو او د تاریخ پاڼو ته یې په دې تکل سپارو تر څو د جهاد او سربښندنو د لارې راتلونکي لارویان د دوی له غیرتونو الهام واخلي او په لار یې د تللو کلک هوډ وکړي.

شهید ملا عزیزالله «طارق» د حاجي نصرالله زوی د میدان وردګو ولایت، جلریز ولسوالۍ د ذیولات سیمې د اخند خېلو کلي په یوه دینداره، مجاهده او شهید پروره کورنۍ کې دې فاني دنیاګۍ ته سترګې پرانیستلې.

د نوموړي شهید ورور مولوي روح الله «طارق» (چې له فتحې وړاندې د نظامي دلګۍ مسؤل پاتې شوی او اوسمهال د میدان وردګو ولایت امنیه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



قوماندانی کې د جنایي جرمونو په وړاندې د مبارزې مدیر دی) د خپل شهید ورور د ژوند او کارنامو په اړه داسې مهال معلومات راکول چې په زړه یې د ده هر یو یاد لا تر اوسه هم تاند و، که به یې په غیرت ځومره ویاړیدلو بل طرف به یې په فراق سوې ساندې بدرګه کولې کله نا کله به یې د شهید ورور یادونو ترې خبرې ایسارې کړې او د زګیرویو او سلګو د کاروان ملتیا به یې کوله راته یې ویل: ملاعزیزالله «طارق» نه تنها د صلیبي بلکه د روسي ښکېلاک په وړاندې هم د غزا ډګر ګرم ساتلی وو ان له دارالهجرت څخه د ننګرهار ولایت ته راغلو هلته یې په طورخم، ثمرخېلو او بتي کوټ سیمو کې جهادي خدمتونه تر سره کړل د ننګرهار د ویاړلې فتحې برخوال و. نوموړی یو ځل د شر او فساد د لښکرو له خوا د کابل او ننګرهار په لارو ونیول شو چې د لوی رب په نصرت څو هفتې وروسته ازاد شو، نوموړي اتل ځوان هېواد کې د خپلمنځي جګړو په مهال په دارالهجرت کې خپلو درسونو ته اداءمه ورکړه تر وړې دورې یې درسونه ورسول د لویې دورې لپاره یې تابیا نیوله چې د هېواد په غېږ کې سپین لښکر د رڼا څرکونه ووهل دا د مرحوم امیرالمؤمنین په مشری خوځښت و چې له کندهار د شر او فساد د مقابلې په تکل پیل شو نوموړي ځوان چې څرنګه د دې کاروان آواز تر غوږو شو سمدلاسه یې کتابونه په دسمال کې وپیچل او د کویټې له لوري د سپین بولدک په ساحه کې له دې سپین کاروان سره ملګری شو، د میدان وردګو او لوګر په محاذونو کې یې برخه واخیسته او د هېواد له فتحې وروسته بیا د هېواد شمالي ته لاړ هلته یې د جګړې لومړی لیکه د خان لپاره انتخاب کړه.

کله چې په ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په ۷ مه نېټه صلیبي یرغلګرو د زمریالیو په هېواد هجوم راوړو د دوی مقابلې ته د هېواد له غېږې د ګوتو په شمار اتلانو ملا وتړله شهید ملا عزیزالله «طارق» هم په هغه سرښندونکو



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خوانانو کې و، مولوي روح الله «طارق» وېل: کله مو چې جهاد پیل کړ په دوه ملګرو مو یو ټوپک ګرځولو او «طارق» بیا راکټ ګرځولو.

اتلولي:

«طارق» وېل: موږ ته د اشغال په دوهم کال د جلریز نظامي مسؤلیت راوسپارل شو یوه ورځ د شهیدانو د ببز لورته په ګزمه وتلي وو کله چې د شپې په مهال کور ته را وګرځېدلو او د کلي په مسجد کې دمه شولو د شپې یوه نیمه بجه وه چې هوا د طیارو غومبار په سر واخیستله لږ شیبه وروسته دوه چورلکې مسجد ته مخامخ پټې کې کېناستلې د دیوال شا ته ولاړم ټوپک ته مې مرمۍ تېره کړه او مورچه کې کېناستلم امریکایان له څرخکو راښکته شول او منډې یې شروع کړې په همدې وخت کې د راکېټ فیر وشو لږ شیبه وروسته بل فیر وشو د امریکایانو چیغې مې په غوږنو اورېدلې، طیارو پروازونه لوړ کړل او بمبارد یې پیل کړ داسې بمبارد وو تا به وېل سیمه کې به څوک هم ژوندي نه وي پاتې د ونو په بیخونو کې ولاړم لږ وروسته څرخکې دومره راټیټې شوې چې د تیزې هوا له امله یې بیالې ته وغورځولم، ملا عزیزالله «طارق» هم حمله ولاړ و کله یې چې ولیدم را منډې یې کړل او ویل یې: کاش د راکېټ مرمۍ نه وی خلاصې طیارې ته دومره ورنږدې شوم ان د میګاروف توفنګچې فیرونه مې هم پرې وکړل په دې عملیاتو کې دښمن ته درونډ زیان واوښتلو او مجاهدین لوی رب وساتل یوازې یې څو کلیوال له ځان سره د باګرام کرغېړن زندان ته یوړل.

ملا عزیزالله «طارق» د خپلې جهادي ورتیا له امله د دلګي مشر او د ملګرو مسؤلیت ورته وسپارل شو.

د نوموړي د سربښندنې دویمه بېلګه په لاندې ډول ده:

«طارق» صاحب وېل: د ۱۳۸۸ هـ ش کال د اوړي موسم و له ملګرو سره



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د کور لاندې باغچه کې ناست وو، چې د بنګنې او ډرون طیارو غږ مو د اسمان له کنارو تر غوږوشو، مبایلونه مو بند کړل، څارګرو طیارو لویه دوره پیل کړه چې ټوله ساحه یې څارله د شپې طیارې ډېرې راټیټې شوې او د دورې ساحه یې هم محدوده شوه، د مخابرې په ذریعه مو ملګري یوخوا بل خوا ځای په ځای کړل او فیره مو ترتیب کړله، د شپني دوربین په واسطه ملګرو ساحه څارله، شپه پخه شوه چې ښکته ملګرو مخابره کې غږ وکړ: "یو غټ قطار د نرخ له دوسرکې راواوښت مجاهدینو بیداره اوسئ"، تقریباً د شپې ۲:۰۰ بجې وې چې د یرغلګرو عملیاتي قوه د مامکیو ساحې ته راورسېدله ټوله ساحه د ټانګونو رڼاوو، او ویشتل شویو پشنګونو روښانه کړه دوی ډېر په احتیاط راتلل تر څو د مجاهدینو له ماینونو ځانونه بچ کړي، په کلیو،باغونو او ټوله ساحه کې خپاره شول، ځینې یې د ذیولات بېز ته د ننه شول، د یرغلګرو د طیارو اوازونو او بمبارد چې لرې غرونه او باغونه یې د خپل امنیت په خاطر ویشتل له امله مو شپه په ویښه تېره کړه، د سهار له لمانځه وروسته ملا عزیز الله له څو نورو ملګرو سره یوځای راغلو او ویل یې د عملیاتو ترتیب مو برابر کړی ده، اجازې او مشورې ته راغلی یم، د پیکا مرمۍ هم کمې دي ته یې له چا راته راواخله، په تندي مې ښکل او خدای پاماني مو سره وکړه، له دریو ملګرو (شهید قاري وحیدالله خطاب،شهید محمد طاهر هلال او یو تن مسافر مجاهد اقبال) سره د معرکې میدان ته پداسې حال کې چې یو راکټ،یوه پیکا، او دوه کلاشنیکوف ورسره وه لاړل.

کله چې د یرغلګرو ستر قطار د ذیولات ساحې ته راورسېد، د پورک د غونډۍ پوستې ته وختل، قطار یوپه بل پسې روان وه د غونډۍ نیمایي ته چې ورسېدل، د غازي عزیزالله له غازي پیکا څخه مکمل شرید ضربه شو، څوتنه یرغلګر ځای په ځای راپرېوتل چې ددوی له جملې یو په



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



غونډۍ را رغړیده یوه امریکایي رامنډه کړه چې پورته یې کړي هغه یې هم وویشت په همدې وژل شوي ورولیدلو دریم راغلو چې پورته یې کړي هغه یې هم وویشتلو او ددوی په سر ورولېدلو، عجیبه خوندوره او احساساتي صحنه وه.

جګړه دومره شدیده شوه چې ټوله فضا د مرمیو غږ او بارودو بوی نیولې وه، یو ساعت نه و پوره شوی چې د یرغلګرو څلور قسمه طیارې (جیټ،B52،او امبولانس څرخکې) راغلې دومره زورور بمبارد یې وکړ چې مکمل ځنګلونه او باغونه یې له خارو سره خاورې کړل، ټوله منطقه د بارودو بوی او لوګیو نیولې وه، کله یې چې فرصت پیدا کړ دوه ځلې یې طیارې ورته کینولې او خپل وژل شوې یې پکې پورته کړل.

تر ماذدیګره جګړه روانه وه د ملاعزیزالله او ملګرو مرمۍ مکملې ختمې شوې وې دوی په نهاره د سنګر غېږ تانده ساتله دومره موقع هم نه وه چې ډوډۍ وخوري، ماښام و چې بېرته د ناصر رب په نصرت روغ رمټ راوګرځېدل، د شپې یرغلګرو غوښتل چې وتښتي ډېر وارخطا روان وو چې په یو الوزول شوي پلچک کې یې زغروال ټانګ ولویده.

ټوله شپه غازي ملاعزیزالله د مرمیو په پیداکولو سبا کړه، د پیکا څلور پنځه شریده او څو د راکټ محدودې مرمۍ یې پیدا کړې.

سهار وختي چې یرغلګر د خپل ټانګ په راایستلو مصروف وو، ټوله ساحه یې نیولې وه او ګڼ شمیر ټانګونه یې ځنګ پرځنګ درولي و، غازي جانان یوځل بیا ددې وحشي درنده ګانو د ښکار هوډ وکړ، د اسماعیل خېلو دپاس کلي په خوړ کې په لسګونه پیاده امریکایان ددمې په پار پراته وه او نور د لوېدلي ټانګ په راایستلو لګیا و چې ناڅاپه رڼا ورخ پر توره شپه شوه، او د غازي عزیزالله غازي پیکا یوځل بیا د لسګونو یرغلګرو ژوند په څو ثانیو کې واخیست، مکمل شرید یې پردمه شویو



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یرغلگرو تش کړ، د جنگ شدت خپل اخري اوج ته ورسېدلو ټوله فضا مرمیو نیولې وه،B52 او څرخکو طیارو بمبارد وکړ، دوه ساعته وروسته محمدطاهر «هلال» شدید زخمي، او د جگړې له صحنې راوویستل شو، دیرغلگرو طیارو داسې سترستر بمونه غورځول چې مکمل باغ یې په بل مخ اړولو او ونې یې له بیخه ایستلې.

د معرکې پدې حساسو شېبو کې د راکټ مرمۍ د زغروال ټانگ په دروازه ولگېدله او لمبې پرې بلې شوې، بله مرمۍ د ټانگونو منځ کې چې پیاده پوځیانو دځان لپاره سپه گرزولې وه ولگېده.

ملاعزیزالله راکټ او پیکا دواړه خپله چلول،څوځلې یرغلگرو کوشش وکړ چې خپل وژل شوي د طیارو له لارې پورته کړي خو د راکټ عزرائیلي کړنگ یې مخه نیوله، دری مسلسل د راکټ ډزونه یې په څرخکو وکړل او کنبیناستلو ته یې پرېښنبودې.

ترماسپښینه د حق او باطل دا تاریخ ټاکونکې معرکه په پوره خوږ سره روانه وه، د اسلحو مکملې مرمۍ خلاصې شوې، د جگړې له صحنې دوه ځلې ملاعزیزالله ملگری راولیږه چې له ډیر کوشش سره سره مو هېڅ مرمۍ ونه موندلې، هماغه و چې اتلان بېرته راستانه شول، وروسته بیا یرغلگرو دری ځله طیارې د بورک په غونډۍ کښېنولې او خپل وژل شوي او زخمیان یې پکې پورته کړل.

ترماښام ناوخته یرغلگر د خپلو وژل شویو او تخریب شویو ټانگونو په ټولولو لگیا وه، ترڅو چې ناوخته یرغلگر بېرته روان شول، د شپې یې یو زغروال ټانگ د مجاهدینو د اینبودل شوې بوشکې ښکار او ټوټه ټوټه شو، دا شپه هم د خپلو وژل شویو په انتقال پرې سبا شوه.

پدې دری ورځنې تاریخي او غلیم ځپونکو عملیاتو کې لسگونه امریکایي ځواکونه ووژل شول، او یو تن مجاهد شهید محمدطاهر



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



«هلال» شدید زخمي شو چې څه موده وروسته الله تعالی کامل صحت ورنصیب کړ، یو عام وګړی په خپل کور کې د یرغلګرو له لوري شهید شو.

شهادت:

د رمضان المبارک میاشتې په ۲۰ مه نېټه د خواجه صاحب په بېز او پوستو د یو لړ سترو عملیاتو پلان ونیول شو، د نرخ او مرکز څخه هم مجاهدین راغلل د روژې په ۲۴ مه نېټه له پیشلمي وروسته عملیات پیل شول، مکمله ورځ سخت جنګ وشو چې په پایله کې بېز او اړونده پوستې په مکمله توګه فتحه شوې، د بېز د بېرته نیولو په پار د کماندویانو یو ستر قطار چې هوایي ملاتړ یې هم مل و راوخوځېدل، په لاره څو ټانګونه د مجاهدینو د ایښودل شویو ماینونو خوراک شول، سهار وختي پرې د ذیولات او اسماعیل خېلو په ساحه کې شدیده جګړه پیل شوه، لسګونه ټانګونه او اکمالاتي انټرنیشنل موټر یې د اور په لمبو وریت شول، په دریمه ورځ جګړې نور هم زور واخیست هوایي څواکونو په پوره زور سره غوښتل چې څمکنیو قواوو ته د بېرته تګ لاره هواره کړي خو ونه توانیدل، کلیوالو د مجاهدینو لپاره د اسماعیل خېلو مسجد ته روژه ماتی راوړ د روژه ماتي لپاره مجاهدین ډلې ډلې راتلل او د اذان په انتظار لاس په دعا ناست وه، مخابره کې غږ وشو چې د ذیولات له کلینیک سره یو ټانک درمخکې شو، ملاعزیزالله ددې ټانګ ویشتلو په هوډ د خپل ملګري شهید زبیر «یونس» په ملتیا له مسجده ووتلو خپله یې راکټ او شهید زبیر ته یې پیکا ورکړه، د اسماعیل خېلو د بازار د پوستې سره په لږ فاصله کې د دیوال شاته په لرګي د ټانګ په انتظار ناست وه، چې د نوموړې پوستې له شا د ګوډاګی اداءرې یو نامرد اجیر د پیکا فیر وکړ او



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دغه اتل یې له مورړ د تل لپاره بیل کړ، هو دغه اتل د ۱۳۹۴ هـ ش کال د روژې په ۲۷مه نېټه داسې مهال چې خلکو د ثواب په تکل مالونه قربانی کول نوموړي خپل تن الله ته وړاندې کړ او داسې مهال یې د شهادت جام نوش کړ چې روژه یې په خوله وه مورړ امید لرو چې د نوموړي شهید تنده به لوی رب د کوثر په جام ماته کړي ان شاءالله .
سهار جنازه تیاره شوه، سربیره پردې چې سرک باندې ستره قوه ولاړه وه بیا هم په زرګونو خلکو د نوموړي اتل په جنازه کې برخه واخیستله؛ نامرد دښمن د دې شهید د جنازې د مراسمو اعزاز نه شو زغملای ځکه خو یې په دې مراسمو هم فیرونه وکړل څو نفره شدید زخمیان شول خو بیا هم جنازه چا نه پرېښودله او د اولسونو وینه په جوش شوه د الله اکبر په ملکوتي اوازونو جنازه پورته او خاورو ته وسپارله.
نحسبه کذالک والله حسیبه!



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*اتلسمه بېلګه:*

## مجاهدینو ته یې شربت او شیدې ورکولې

د غزني ولایت، دهیک ولسوالی د بالي سیمي تکړه مجاهد او د شپږو شهیدانو وارث ملا عبدالقادر «دلاور» د اولس د قربانیو اړوند خپله جهادي خاطره داسې راسره شریکه کړه:
د دهیک ولسوالی په علي خېلو کې جنګ و، د جنګ د شدت له امله په کلي کې هېڅوک هم نه معلومېدل، غرمه شوه د جګړې په ډګر کې ستړي غازیان نور له لوږې او تندې سره مخ شول، لږ وروسته مو ولیدل چې د کلي منځ کې زنانه رواني دې په لاسونو کې یې جګونه نیولي او مجاهدینو ته یې په کې  شربت او شیدې جوړې کړې، دغه یې ستړو غازیانو ته ورکول تر څو دوی پرې سیرابه شي. هو دلته آرامي نه وه بلکه څمکه د راکیټونو، هاوان او بېلا بېلو مرمیو تر حملو لاندې وه بل طرف بیا په فضا د بې پیلوټه طیارو درانه آوازونه بدرګه کېدل او په دوی یې د وژونکو حملو انتظار کولو؛ دوی د ملالی خویندې وې د همدې سپېڅلې لار یې په دنګ عزم پالله.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نولسمه برخه:

# د وژل شوو انتقام يې له لېسې واخيست

د جهادي خاطرو او اتلوليو د کيسو په لړ کې د ميدان وردگو ولايت، جغتو ولسوالۍ د سليمان ښار د کلي اوسېدونکي مجاهد نجيب الله «ابراهيمي» راته خپله جهادي خاطره داسې بيان کړه:
د ۱۳۸۷ هـ ش کال په پسرلي کې د ياد ولايت جغتو ولسوالۍ له کمپاين څخه د امريکايي ښکېلاکگرو پياده عسکر د همدې ولسوالۍ اړوند غازي محمد جانخان د مکتب ساحې ته را روان شول، په دې وخت کې زه او دوه نور ملگري د مکتب په بازار کې وو، يوازې تفنگچې راسره وې نوره کومه لويه اسلحه مو له ځان سره نه وه راوړې، امريکايي ښکېلاککگر مو وليدل چې د دې سيمې په لور را روان دي او لوېې بسترې يې په شا کړې، موږ يوې او بلې خوا په ملگرو غږونه وکړل، دې کې ملگرو يو راکټ او يوه فيکا راوړل، دوه نور ملگري هم راغلل چې کلاشينکوفونه يې له ځان سره راوړي وو، موږ د لاغريو د کلي د زيارت څنگ ته ورغللو تر څو عمليات ورباندې وکړو، امريکايان د فصل خوا ته لاړل هلته يې داسې پروتونه وکړل چې له موږ څخه ورک شول او چاته هم معلومات نه کېدل چې دوی څه شول، موږ پسې کتل د مازديگر وخت شو ومې ليدل چې دوه نفر د فصل په منځ کې د يوه پوشته په سر ناست دي او د ولسوالۍ طرف ته يې د خپلو توپکو شپيلۍ سيخې کړې دي، ملگرو ته مې وويل: دغه دوه کسان مکمل ښکاري خو دوی نه ليدل



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



فیکا مې له ملګرو واخیستله او ضربه مې پرې وکړه، دوی دواړه ولګېدل او را پرېوتل، ټوپکونه یې له ورایه وبرېښېدل دې وخت کې ملګرو هم ولیدل؛ له دې فیرونو وروسته حالت عادي شو او د دوی له لوري هېڅ فیرونه نه کېدل، همدلته د کلي ماشومانو میړې هم څرولې ملګرو راته ویل د کلي ماشومان دې ویشتلي، موږ یوه ځای ته راټول شولو او د همدې موضوع په تړاو مو خبرې کولې، له لږ ځنډ وروسته د دوی له لوري ډېر شدید فیرونه پیل شول ما شهید «شهامت» ته وویل: د راکټ فیر پرې وکړه! هغه په چې سر ورهسک کړ ویل به یې: هېڅ هم نه معلومېږي، راکټ مې ترې راواخیست دوی نه رامعلومېدل توکل مې په الله کړاو د راکټ ماشه مې راکش کړه د فصل خوا ته مې فیر کړ؛ کله چې دوی له دې ساحې د خپل کمپاین په لور وخوځېدل همدې ځای ته ورغلو هلته مرمۍ په عجیب هدف لګېدلې وه د یوه لوی پټي لاندې دوی پراته وو مرمۍ راغلې وه او په همدې جګ ځای لګېدلې وه پارچې یې د دوی لور ته ورغلې وې همدلته زیاتې وینې او بنداجونه پراته وو.

یرغلګرو څو شېبې وروسته سیمې ته طیارې راوغوښتلې او د خپلو مړو انتقام یې د همدې سیمې له لویې لیسې واخیست د غازي محمد جانخان د لیسې نوی تعمیر یې هدف وګرځولو او بمبارد یې کړ چې په پایله کې یې د سیمې ګڼ زده کوونکې له زده کړو محروم کړل.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شلمه بېلګه:

# د زنخان په سر درو کې

الله تعالی په خپل مبارک کلام کې فرمايي: من المومنين رجال صدقوا ما عهدو الله عليه. يعني له مؤمنانو څخه شته نران سړي چې له الله سره يې کړې ژمنې رېښتيا کړې، ځينو له دوی خپل نذرونه پوره کړل او ځينې انتظار باسي، دوی کړې وعدې بدلې نه کړې.
د زمرياليو هېواد هم په خپله غېږ کې ګڼ شا زلمي روزلې دوی د هر دور فرعونيانو ته غاښ ماتوونکي ځوابونه ورکړي، همدوی د خالد لارويان وو چې تل يې يرغلګرو ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې، راځئ د هېواد د نورو سيمو په شان د وياړونو، سربښندنو او کراماتو تاتوبي د غزني ولايت ته سر ورښکاره کړو او ځو شيبې د ياد ولايت د زنخان ولسوالۍ په هسکو سر درو کې د هغه اتل سره اشنا شو چې د سربښندنو تاريخ يې د هېواد پر جبين د ښکلا پرک وهي.

زوکړه:
شهيد ملا محمد داود «قانوني» (عبدالرحمن) ولد مرحوم الحاج مولوي عبد الحليم، په ۱۳۵۱ هـ ش کال کې يې د غزني ولايت، زنخان ولسوالۍ د الله يار کلي په يوه ديندار او مجاهده کورنۍ کې دې فاني دنياګۍ ته سترګې پرانيستلې، د نوموړي کورنۍ د سيمې په کچه يوه ديندار، عالمه او مجاهده کورنۍ ده، پلار يې د روسي ښکيلاک پر مهال د زنخان



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ولسوالۍ لپاره د حرکت انقلاب اسلامي له لوري د دې ولسوالۍ عمومي آمر وه، د جهادي خدمتونو سر بېره يې د اولس د هېواد د بچيانو د تربيت په موخه د بهلوليه په نوم د مدرسې او ليسې د بنسټ ډبره کېښوده، دغه راز يې د اولس د هوساينې په تکل د کلينيک د تعمير بنياد هم کېښود.

زده کړې:

نوموړي اتل د نورو نوميالیو په څېر خپله علمي سلسله د کلي له مسجد پيل او وروسته يې د سيمې د پردل کلا درس، بهلوليه مدرسه، د دهيک، رامک او زرمت په مدرسو کې خپله علمي تنده خړوبه کړه.

جهادي زنده ګي:

کله چې د روسي يرغلګرو د ماتې وروسته هېواد د پرديو په لمسون د جګړې په تود ډګر بدل شو، دلته د شر او فساد لښکرو حاکميت کولو او د شهيدانو ارمانونه له خاورو سره خاورې شول د دوی په وړاندې په ۱۳۷۳ هـ ش کال د ملا محمد عمر «مجاهد» تر مشری لاندې سپېڅلی خوځښت پيل شو د ملا محمد داود «قانوني» پلار کندهار ته د علماوو يو هيأت وليږو او د اسلامي تحريک مشرانو ته يې د پوره همکاری ډاډ ورکړ، کله چې غزني ته د سپين کاروان لښکرې راورسيدې دوی ورته د خپلې جبهې ټول امکانات وسپارل او له همدغه ځای څخه يې خپل مشر زوی ته په اسلامي تحريک کې د جهاد او خدمت سپارښتنه وکړه، شهيد ملا داود د خپل پلار دغه وصيت په خورا ښه توګه سر ته ورسولو.

مسؤليتونه:

شهيد ملا محمد داود «قانوني» د غزني د ۱۴ فرقې د تشکيلاتو قوماندان



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



و، ډېرې وخت به یې د جګړې په لومړیو کرښو کې تیراوه لکه د میدان ښار او چهار آسیاب جنګې لیکې.

کله چې د شهید ملا بور جان په مشرۍ په پکتیکا، سپینې شګې او ازرې ولسوالۍ کې عملیات کېدل، شهید ملا محمد داود «قانوني» د غزني د فرقې د نورو تشکیلاتو سر بیره د غزني د ۱۴ فرقې توپچې هم رهبري کوله، د هماغه کاروان په لاسونو الله تعالی جلال اباد او آن کابل هم فتحه کړل، شهید ملا محمد داود «قانوني» د کابل له فتحې وروسته د کابل د شمالي جبل السراج، د کاپیسا ولایت نجراب او السای په لومړیو کرښو کې هم په پوره بهادرۍ او میړانه خپل جهادي فعالیت کولو، د نوموړې د وړتیا له کبله به ډېرې وخت مشرانو ورته د عملیاتو رهبري هم سپارله، کله چې د بغلان ولایت فتحه شو د احمد شا «مسعود» له لورې د سالنګ تونل انفجار شو او مجاهدین په بغلان کې محاصره شول، شهید ملا محمد داود «قانوني» له خپلو ملګرو سره څلور میاشتې نادرکه شول چې بلاخره مجاهدینو د اسلامي امارت د بهرنیو چارو اوسني وزیر مولوي امیر خان «متقي» په مشرۍ له بغلان څخه په کندوز ولایت کې د شر او فساد په مراکزو عملیات پیل کړل چې په پایله کې یې د کندوز ولایت د اسلامي امارت د مجاهدینو په لاس فتحه شو د یاد ولایت هوایي ډګر هم د مجاهدینو لاس ته ورغلو او د هوا له لارې د طیارو په مټ نوې تشکیلونه ورغلل، نوموړی د کندوز له فتحې دوه میاشتې وروسته له خپلو ۱۴ ملګرو سره د تبادله په پایله کې آزاد شو.

د غزني د قره باغ د زردالو، ناهور او جاغوریو د ویاړلو فتوحاتو برخوال و، همدارنګه د میدان وردګو ولایت د دایمرداد او بهسودینو د ویاړلو فتوحاتو په نتیجه کې نا اشنا میړانه ښکاره کړه.

کله چې د اسلامي امارت په تیره دوره کې د بامیانو ولایت د فتحې لپاره



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د ګرديز دريم نمبر قول اردو د قوماندان شهيد ملا محمد اخند په مشرى عمليات پيل شول د هغه وخت تر ټولو زړور قوماندان شهيد ملا محمد داود «قانوني» و چې شهيد ملا غلام نبي «جهاديار» يې ملګرتيا کوله چې له بده مرغه ملا محمد اخند شهيد شو د شهيدانو په وينو کې فتحه نغښتې د نوموړي له شهادت وروسته ياد ولايت فتحه شو، د مشر تابه له لوري دوى ته چورلکه ورولېږل شوه او دواړه قوماندانان يې خپل حضور ته وروبلل، اميرالمؤمينين مرحوم ملا محمد عمر «مجاهد» رحمه الله دوى ته لازمې سپارښتنې وکړې او د شهيد ملا محمد اخند فاتحه يې ورته وکړه.

د پکتيا د دريم نمبر قول اردو د ۱۸ سرحدې غونډ قوماندان هم و.

د امريکايي يرغلګرو په وړاندې:

کله چې په ۲۰۰۱ م کال کې امريکا او ملګرو يې په افغانستان يرغل وکړ، د شمال څخه يې د مجاهدينو خطونه را مات کړل او د غزني ښار هم د مخالفينو لاس ته ولويدلو شهيد ملا داود «قانوني» به د کندهار او هلمند مجاهدين د زنځان او خروار له لارو په خورا تکتيکي ډول خپلو ولاياتو ته رهبري کول، د امريکايي اشغال پر مهال د هېواد ډېر روڼ اندي او پوهان لاس تر زنې کېناستل او دا ناري به يې بدرګه کولې چې له دې لوى قوت سره مقابله هيڅ ممکنه نه ده، دوى له هوا څو انچه شى ويني، ځينې خو دې تبليغاتو دومره وارخطا کړل چې آن د يرغلګرو صف ته ور وړاندې شول خو شهيد ملا داود «قانوني» له هغه اتلانو وو چې د يرغلګرو تبليغاتو يې عزم متزلزل نه کړ بلکه په دوى يې د سختو عملياتو تکل وکړ، د غزني په ترک حضرت غونډۍ، د سيداباد په بيده که او سلطان خيلو بيز کې په ميشتو امريکايانو يې مرګوني ګوزارونه کول.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د جهادي کاروونو د لاښه انسجام په موخه د دوو جهادونو د رهبر مرحوم الحاج مولوي جلال الدين «حقاني» او د هغوی د زوی د فدایانو د سر تاج خلیفه سراج الدين «حقاني» خوا ته ورغلو چې هغوی د کاروونو د ښه والي په موخه اړینې مشورې ورکړې.

په ۲۰۰۲ م کال کې د پاکستان د اجیرو ملیشو له لوري د خپلو څو ملګرو سره شپږ میاشتې بندي شو، کله چې له زندان آزاد شو د هېواد په لور راوخوځېدل دلته بیا د ملګرو په ملتیا په الهي نصرت سره د زنخان ولسوالي د یو لړ عملیاتو په ترڅ کې فتحه کړه چې په نتیجه کې یې ۱۷ میله اسلحه غنیمت کړه.

د خپل ولایت سربیره یې د خوست ولایت په ګڼو بیزونو د خلیفه سراج الدين «حقاني» په هدایت د خپلو مشرانو ملګرو لکه شهید مولوي احمدجان «مخلص»، ملا عبدالمنان «احمد» او قوماندان غني محمد په ملتیا تندریز بریدونه کول، چې د مثال په ډول د ترخوبي، مستلبر، بتی، شینکی او مغلګی بیزونه یادولای شو.

د نوموړي جهادي بهیر د کورنیو چارو د اوسني وزیر امیر الاشتهاد الحاج خلیفه سراج الدين «حقاني» تر مشرۍ لاندې و، او د جهاد د لارې مشهور ملګري یې شهید مولوي احمد جان «مخلص» ، شهید ملا سنګين «فاتح»، شهید مولوي کلام «نافذ»، مولوي محمد عمر «مخلص»، شهید ملا عبدالله جان«ابو منصور»، او شهید ملا عبدالمنان «احمد» وو.

شخصیت:

نوموړی که د یرغلګرو په وړاندې څومره سخت و، بل طرف بیا په مظلوم او کړېدلي اولس زیات مهربان و، دغه اتل د الله تعالی د دې قول غوره مصداق بللی شو، اشداء علی الکفار رحماء بینهم.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د ملګرو خدمت یې فطرتي خاصیت و، عادي ژوند یې کولو او امتیاز یې نه خوښولو، کله به هم چې یو نا اشنا څوک راغلل نه به پوهېدل چې د دې کاروان مشري کوم یو کوي څکه ټول به د ورونو په شان سره راټول او جهادي بهیر به یې مخته وړلو، د جهادي بهیر په لړ کې به چې کله هم موقع ورته پیدا شوه سمدلاسه به د خپلې معشوقې کتاب او مدرسې لور ته ور وګرځېد، په همدې حساسو حالاتو کې لسګونه احادیث یاد کړي وو، دقران کریم ترجمه او تفسیر یې هم د شا منصور له مولانا صاحب څخه بشپړ کړل.

نوموړی ډېر خوشطبعه و، یوه ورځ خلیفه صاحب سراج الدین «حقاني» د دښمن تر سخت تعقیب لاندې و، د شهید ملا داود مرکز ته د شپې تیرولو لپاره راغلو، شپه په خیر او سلامتي باندې تیره شوله، سهار چې کله رخصتېدلو شهید ملا داود ورته د امکاناتو د نه شتون خبر وکړه، ورته ویل یې: موږ ته دوه میله اسلحه پرېږده! هغه ورته ویل: دغه مو د خان د حفاظت لپاره ده، ملا داود ورته وخندل او په ټوکه کې یې ورته ویل یې: موږ هم حفاظت ته اړتیا لرو، خلیفه صاحب مبارک اسلحه ورته پرېښوده په خندا او خوشحالی ترې رخصت شو.

شهادت:

هغه مهال ابتدایي حالات و، د دلګیو او د عملیاتو د ساحو د تعین ترتیبونه نه و برابر شوي، شهید ملا محمد داود به د غزني، لوګر او خوست په بېلابېلو سیمو کې عملیات کول نو څکه دښمن ته ډېر مطلوب او تل به یې تعقیبولو، تر دې چې هغه مهال یې په نوموړي شپني عملیات تر سره کړل چې چاپه چا ته پیژندله د شپې پر مهال یې د زنخان ولسوالی د خواجه خیلو کلي د محمدالله پر کور شپني عملیات تر سره کړل خو لوی



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



رب دغه اتل او ملګري يې ترې وساتل څکه دوی لړ مخته له ياد کور څخه وتلي وو.

د ۱۳۸٦ هـ ش کال په پسرلي کې د لوګر ولایت خروار ولسوالی ته د دښمن یوه لویه قوه راغله، دا چې د سپین کاروان لارویانو په یوه صف او تر یوه قیادت لاندې د جهاد فریضه مخته وړله نو څکه شهید ملا محمد داود د خروار ولسوالی د کوټکي سیمې ته خان ورسولو او د خپلو ملګرو شهید ملا جنت خان «ممتاز»، مرحوم ملا عزت الله «هدایت» او ... په ملګرتیا یې پر راغلي دښمن خورا تکتیکي او پیچلي عملیات تر سره کړل چې په پایله کې یې د دښمن درې عراده رینجر او اتلس میله اسلحه غنیمت او ۲۳ عسکر د خپل شوم عمل په سزا ورسېدل او قتل شول په دې بریمنو عملیاتو کې د سنګرونو اتل نه ستړی کېدونکی مهاجر مجاهد ملا محمد داود «قانوني» د شهادت لوړ مقام ته ورسېد او د هغه اتلو شهیدانو په نوملړ کې ثبت شو چې ټول مسلمه امت یې د احساناتو پوره وړی دی او تاریخونه به تل پرې وياړي، دا چې امریکایانو ته زیات مطلوب و نو څکه د نوموړي جسد د شهادت وروسته نه ورځې د لوګر ولایت، خروار ولسوالی د عرفان کلي د خواړک په سیمه کې وساتل شو او له هغه وروسته یې خپل کلي ته راوړو. (1)

نحسبه کذالک والله حسیبهم

معلومات مو له لاندې کسانو اخیستي:

(1)مولوي عبدالکریم «حقاني»، د میدان وردګ د مرافعه محکمې عمومي رئیس

مل پاسوال احمد طه «فاروق»، د کورنیو چارو وزارت د انتقالاتو لیوا رئیس

الحاج مولوي کلیم الله «قانت»، د عدلیه وزارت د قضاء امارت د کمېسیون عضوه

الحاج حاجي عبدالنعیم «عاصم»، او د شهید ملا داود قانوني ورور



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یو ویشتمه بېلګه:

# د کتواز په میرو کې

اسلامي امت له رجالو مالا مال دی، د دې ویاړلي ملت بچیانو تل د خپلو سرونو او وینو د قربانی په بدل کې د اسلام ډیوه بله ساتلې ده، دوی د قربانی او مېړانې داسې داستانونه تر شا پرېښي چې د دې ملت بچیان به تر ډېره د قربانی د لمانځه اقتدا پسې کوي؛ دوی د هغه ایت غوره مصداق بللی شو: من المؤمنین رجالٌ صدقوا ما عهدو الله علیه فمنهم من قضی نحبه و منهم من ینتظر. ژباړه: له مؤمنانو څخه شته نران سړي چې له الله سره یې کړې ژمنې پوره کړې، ځینو خپل نذرونه پوره کړل او ځینې بیا انتظار باسي، دوی کړې ژمنې بدلې نه کړې.
د پکتیکا ولایت چې د شملو او اتلولیو سیمه بلل کیږي، د زمریالیو په دې سیمه کې څو شیبې د یوه اتل سره پاتې کیږو.

زوکړه:
شهید قوماندان ملا راز محمد «خنجري» په ۱۳۵۳ هـ ش کال کې یې د پکتیکا ولایت ډیله ولسوالی لوړګي سیمې د حاجي خان محمد په کاله کې دې فاني دنیاګی ته سترګې پرانیستلې.

زده کړې:
نوموړي درسونه له خپل کلي پیل او د سیمې په بېلا بېلو مدرسو کې یې تر وړې دورې درسونه بشپړ کړ، دغه راز یې په تصوفو کې د سیمې د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ديسي د خليفه صاحب عبدالرازق څخه بيعت وکړ او په نقشبنديه شريفه کې يې د غزني د قره باغ اوسيدونکي بشير خليفه صاحب ورته د دستار مبارک ولونه ورته په سر کړل.

جهادي زنده گي:

راز محمد «خنجري» د ياد ولايت له هغه نوميالو اتلانو څخه دی چې د روسي اشغالگرو په وړاندې يې هم د سنگر غيږ گرمه ساتلې وه، نوموړي په دې سپيڅلې مبارزه کې څو څله ټپونه هم وخوړل، د خپلې ميړانې او اتلولی له امله يې په لږ وخت کې زيات شهرت خپل کړ، تر دې چې د ملگرو مسؤليت ورته وسپارل شو. کله چې اسلامي تحريک د مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر «مجاهد» تر مشرۍ لاندې د شر او فساد په وړاندې پيل شو، نوموړي د مرحوم ملا صاحب سره بيعت وکړ او د دې سپيڅلي کاروان ملگری شو، د نظامي قوماندان په صفت يې خدمت کولو څه وخت وروسته د خوست ولايت د (۲۵) پلې فرقې مسؤليت ورته وسپارل شو، د لغمان ولايت (۱۰۰) فرقې مسؤليت يې هم په خورا ښه ډول انجام کړ، کله چې پر ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په ۲۷ نېټه امريکا او ملگرو يې د هېواد په سپيڅلي حريم يرغل وکړ او دلته يې سپيڅلی امارت ونړولو له څه وخت وروسته يې د پکتيکا په کتواز سيمه کې پټ حرکات پيل کړل او مجاهدين يې د اشغالگرو د مقابلې په تکل انسجامول تر دې چې مجاهدين را ټول او دلگی جوړه شوه، د وخت په تيريدلو سره وروسته بيا محاذ جوړ شو، د نوموړي په مشرۍ د وازيخوا، خوشامند او تروه ولسوالی له منځه لاړې او فتحه شوې؛ له ۲۰۰۲ م تر ۲۰۰۴ م کال پورې چې حالات زيات اضطراري وو او ملگري کم پيدا کېدل خو دوی د الله تعالی په نصرت زيات کارونه وکړل.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کله چې حالات سخت شول نوموړی د خپل کور څخه د وازیخوا د نهاري سیمې ته وکوچید او هلته یې کوچیاني ژوند په خیمو کې کولو.

شهادت:

هغه مهال چې د دښمن استخبارات خورا فعال و، نوموړی یې تر څار لاندې ونیو او ځای معلوم کړ، د نوموړي د شهادت په تکل یې د یوې لویې حملې تابیا ونیوله، د نوموړي اتل زوی وزیر محمد «خنجري» چې اوس مهال د وازیخوا امنیه قوماندان دی راته وویل: سهار نه بجې وې زه له غونډۍ راښکته شوم چې چورلکې راغلې یوه یوې خوا او بله بیا بلې خوا ته کیناستله، یوې چورلکې له پاسه دورې کولې، له ناستو چورلکو یې عسکر پیاده کړل، زموږ پلار مخته و، زه او یو بل ملګری ورپسې و، د غونډۍ سر ته هسکېدلو چې موږ او امریکایي عسکر سره مخ شولو په دوی مو فیرونه وکړل بیرته ښکته شول، د هوا په چورلکه زموږ والد صاحب د راکټ فیر وکړ یو څه ولاړه وروسته د مرږو په میدان کې راوغورځېدله او په کې سپاره امریکایان د اور خوراک شول.

«خنجري» راته ویل: وروسته دښمن په سیمه ړنده بمباري پیل کړه چې په نتیجه کې یې زموږ د کورنۍ اته تنه شهیدان او دوه تنه چې یو زه او یو بل هلک و زخمیان کړل.

شهید ملا راز محمد «خنجري» هم هغه معشوقه تر لاسه کړه چې لا لهانده پسې ګرځیدلو او د شهادت لوړ مقام یې تر لاسه کړ. له شهادت وروسته یرغلګرو د نوموړي اتل جسد له ځان سره یوړلو، ان تر اته ورځو یې له ځان سره ساتلی و چې وروسته بیا سپین ږیري ورغلل او د نوموړي جسد یې راوړ، له جنازې وروسته د خپل کلي په هدیره کې دفن شو.

انا لله و انا الیه راجعون



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دوه ویشتمه:

# نن مې په امریکایانو زړه یخ شو

اتل شهید قوماندان مولوي فدا محمد «جواد» د مرحوم سید محمد زوی چې په ۱۳۴۴ هـ ش کال کې د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ د سهاکو په علیم خېلو کلي کې نړۍ ته سترګې وغړولې.
نوموړي خپلې لومړنۍ دیني زده کړې د کلي په جومات کې پیل کړې لاتنکی زلمی و، چې په هېواد کې د ثور کرغېړنه کودتا وشوه نوموړی هم له خپلې کورنۍ سره دارالهجرت (پاکستان) ته مهاجر شو او هلته یې په جامعه نورالمدارس کې خپلو زده کړو ته داوام ورکړ، نوموړی د شهید مولوي نصرالله «منصور» خوریی او د هغه په زړه کې یې ځانګړی ځای لرلو.
شهید جواد منصور صاحب ته ځانګړې پاملرنه وکړه، تر دې چې په لږ موده کې یو ذهین طالب او د یو نظامي استاذ ترې جوړ شو، په هېواد کې د کمونېستي رژیم تر ړنګېدو وروسته نوموړي د خپلو زده کړو لړۍ چټکه کړه چې وړه دوره یې له شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب سره تر سره کړه او ۱۳۷۷ هـ ش کال کې د دارالعلوم حقانیه څخه فارغ او د دیني علومو دستار یې په سر کړ.
د طالبانو د اسلامي تحریک له تأسیس سره سم له خپلو تولو ملګرو سره د شهید قوماندان سیف الرحمن «منصور» په مشرۍ له یاد تحریک سره یو ځای او مبارزه یې پیل کړه، له غزني د کابل تر فتحې پورې د طالبانو



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د اسلامي تحريک د يو زړور قوماندان په حيث د تحريک په ټولو فتوحاتو کې ښه وځليد، په ۱۳۸۰هـ ش کال کې چې کله د امريکا په مشرۍ د ناټو ځواکونو د افغانستان په سپېڅلې خاوره ير غل وکړ، شهيد جواد صاحب له شهيد ملاسيف الرحمن منصور او ملګرو سره يوځای د شاهکوټ په غرونو کې د مريکايي يرغل په وړاندې د جهاد مهاذ پرانيست، کله چې امريکايانو د ۱۳۸۰ه ش کال د کب د مياشتې په ۱۰ نېټه په شاهي کوټ باندې يرغل وکړ، شهيد جواد او ملګري يې په خورا ميړانه مقابله وکړه، له دې امله دوی د امريکا په وړاندې د مبارزې وياړ خپل کړ په اصطلاح دوی همغه و چې د ټيکنالوجی په نيشه مستې نړی ته يې افغاني ګوزارونه ورکړل او دوی يې پوه کړل چې د زمرياليو د خالي نيول اسانه نه دي.

همدوی و چې يو ځل بيا يې د جهاد او شهادت يو بل باب پرانيست، په داسې حال کې چې عمومي قومانده د شهيد ملاسيف الرحمن «منصور» په غاړه وه او شهيد جواد د معاون او د تعروضي قوماندان په حيث خپله وظيفه په ډير اخلاص او صداقت سره په مخ وړه.

د جواد صاحب د ملګرو په وينا نوموړي يوازې په يوه حمله کې له ۲۲ څخه زيات امريکايان په خپل درازنوف ټوپک سره وويشتل دا خاطره داسې بيانوي:

د شاهيکوټ د جګړې ۳ ورځ وه، په يوه باغ کې له ملګرو سره ناست وو، امريکايي طيارو سخت بمبارد کاوه، د لماسپيښين يوه بجه وه، په دې وخت کې يې شهيد عتيق ته وويل: تاسو لاړ شئ په قرارګاه کې وګورئ که وچه ډوډئ او چای وو، را يې وړئ، موږ لاړو له قرارګاه نه مو وچه ډوډی او چای راوړل، د خوړلو لپاره چې ورته کېناستلو، پدې وخت کې امريکايي طيارو د باغ شا او خوا بمبارد کړه او موږ الله ﷻ بچ کړو.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په دې وخت کې قوماندان صاحب سيف الرحمن «منصور» غږ وکړ اورې خالده!

خالد د جواد صاحب مستعار نوم و.

جواد صاحب غږ پرې وکړ

اورم ثابته!

ثابت د منصور صاحب مستعار نوم و.

څه حال دی؟

الحمد لله تراوسه مشکل نشته

امريکايان د نري په سر کې طيارو ډېر ښکته کړي دي، د تعرض پلان لري خو موږ(۸) نفره ملګري د قرارګاه سره د قطعې په شکل انتظار يو چې کوم طرف ته مشکل پېښ شي ځانونه ور رسوو تشويش مه کوه.

له رابطې ورسته «جواد» صاحب د يوې غونډۍ سر ته وختلو په دوربين يې ساحه ځارله او بېرته په بيړه راکوز شو، ويل يې: د نانوی سره ډېر امريکايان پياده راغلي تاسې بيدار شئ! ده چې کله له درازنوف ټولې مرمۍ وويشتلې د هاوان په ملګرو يې غږ وکړ مرمۍ ژر ژر ورواچوئ چې خلاصې نه شي، کله چې د هاوان فيرونه وشول موږ ورته کتل، يو ټولی امريکايان په غونډۍ پراته وو، د هاوان مرمۍ د امريکايانو په سر ولګېده.

جواد صاحب غږ پرې وکړ مرمۍ زر زر پرې وولئ! ډېر ښه هدف ده، نورو ملګرو له هرې خوا امريکايان و ويشتل.

«جواد» صاحب په دې وخت کې د درازنوف شاجور ته رسام مرمۍ ور واچولې، داوخت ماښام نيږدې و، کله يې چې څو نورې مرمۍ وويشتلې هلته امريکايان ښکاريدل چې په خاورو کې راپريوتل.

په ملګرو يې غږ وکړ درځئ! بمبارد شروع کيږي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بس ده نور فوځیان نه شته، کله چې راجګ شو په ملګرو یې غږ وکړ ۲۲ نفره وژل شوي امریکایان زمادي او نور ستاسو، خپل څادر یې تک وهلو، ماته یې وویل: یاره فلانیه (ملا عبدالله عزام) نن مې په امریکایانو زړه یخ شو نور که شهید هم شم په زړه کې مې کوم آرمان نشته دا هغه ورځ وه چې په سهار کې د امریکایانو دوه هلیکوپترې هم ولوېدې.

نحسبهم کذالک والله حسیبهم



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دروېشتمه بېلګه:

# مزار يې هم د ازادۍ ليلى ته نذرانه کړ

د صليبي يرغلګرو مقابلې ته د هېواد له غيرې هغه تنکي زلمکي هم راپورته شول، چې له عمرونو کم خو همتونو يې د پامير او شمشاد سره دغرې وهلې، دوی د جهاد او شهادت په عشق او مينه کې داسې غرق وو چې دنيوي خوښۍ يې تولې ترشا کړې، دهمدې سپېڅلي يون په مسير لاړل او دې لاره کې يې د شهادت خواږه جامونه وڅکل.

راځئ! داخل دهغه شهيد ژوند ته سر ورښکاره کړو چې د هېواد د آزادۍ ليلى ته يې ځواني نذرانه او مزار يې هم له خپل کلي لرې جوړ شو، شهيد قاري بلال ولد حاجي عبدالنصير چې اصلي د جوزجان اوسېدونکی و وروسته د کندهار په ژړۍ مرکز کې اوسېدل.

بلال په (۱۳۷۰) هـ ش کال کې د کندهار په ژړۍ ولسوالۍ کې دې دنياګۍ ته سترګې پرانيستلې، وروسته له دې يې کورنۍ غزني ولايت ته وکوچېدله شهيد بلال د موی مبارک په مدرسه کې د قرآنکريم حفظ کولو او ترڅنګ يې مکتب هم تر اتم پورې وويلو، تر څنګ يې د غزني د اتلو مجاهدينو سره رابطه وکړه او چورکې بريدونه يې هم کول، بلال به وخت ناوخت د کابل اداري عسکرو د مکتب او مدرسې په لارو درولو او تالاشي به يې ترې اخيستله بلاخره د ميدان وردګو جغتو ولسوالۍ د ابطلې د عبدالله ابن زبير دارالحفاظ ته لاړ او هلته يې د سيمې د تکړه مجاهد قاري عبدالرازق «مجاهد» سره جهادي خدمت پيل کړ.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بلال د قرآنکريم (۳۰) سپارې حفظ کړې يوه ورځ سيد آباد ولسوالی کې يو لوی قطار را روان و، بلال له نورو ملګرو سره د همدې قطار د مقابلې لپاره لاړو د مخامخ جګړې پرمهال په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې د دښمن له لوري د اوتړيو په سيمه کې د درازنوف په مرمی ولګېد او په شهادت ورسېد.

انالله و انا اليه راجعون

مزار يې اوس مهال د ميدان وردګو ولايت جغتو ولسوالی د لعلکي د کلي په هسکه غونډۍ د دوهم ښکبلاک په وړاندې د شهيدو زلمکيو په څنګ کې موقعيت لري.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ځلور ویشتمه بېلګه:

# له مولوي سنګین فاتح سره

زینت الله (سپین طالب) چې د خوست ولایت، تنګي ځدران اوسیدونکی دی او د شهید مولوي سنګین «فاتح» سره نیږدې پاتې شوی، د اتل شهید مولوي سنګین «فاتح» خاطرې یې داسې راسره شریکې کړې:

د پکتیکا ولایت د مرغه په کمپاین تعرض و، مجاهدین په عملیاتو بوخت و، چې یرغلګرو بمارد پیل کړ، مجاهدینو په مولوي صاحب په رابیتړ کې غږ وکړ ویل یې: مولوي صاحب شهیدان وشول تابوتونو ته ضرورت دی! مولوي صاحب ورته وویل: لس بس دي بیا ورته وویل شول (۱۱۰) نفره شهیدان شوي دي، مولوي صاحب حرکت وکړ ویل یې راځئ! چې ورشو، په یوه خوړ کې ودرېدلو ویل یې: زه لږ چکر ته تېرېږم! بیا ورک شو ورسته په یوه شنه مازدا کې تللی و، او پراشوټ یې په ځان اچولی و، وروسته موږ ویل مولوي صاحب ورک شو! دا چېرته ولاړو! لار مو بنده کړه، په لاره کې د مازدا موټروان یو طالب ته اشاره کړې وه، چې دلته راشه! کله مې چې وکتل چې مولوي صاحب هلته ناست دی او پراشوټ یې په ځان اچولی، ورغلو او مولوي صاحب ویل: ما ځان امتحان کولو چې (۱۱۰) طالبان شهیدان شوي او بېز نه فتحه کیږي، بیا هم ور روان و او طیارې زیاتې ګرځېدلې، موږ زارۍ ورته وکړې او را ومو ګرځولو.

په ۲۰۱۱ م کال کې د پکتیکا په زېروک ولسوالی عملیات وو، د مولوي



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سنګين «فاتح» خپل ورور جنګي قوماندان و (وارث حيدري) چې کله بمبارد شروع شو په مخابره کې مجاهدينو غږ وکړ چې شهيدان وشول، مولوي سنګين «فاتح» په خپل ورور حيدري غږ وکړ چرته يې؟ وړاندې خه چې شاته رانه شې، ځان به رسوې او خامخا به دغه مرکز فتحه کوې!
مجاهدينو ورته ويل: مولوي صاحب سخت بمبارد دی او ته په خپل ورور حيدري غږونه کوې چې وړاندې لاړ شه!
بيا ملګري غږ پرې وکړ چې (حيدري) شهيد شوی مولوي صاحب په مخابره کې د شهادت مبارکي ورکړه! کله چې په هديره کې شهيدان خاورو ته وسپارل اول د نورو شهيدانو طرف ته ورغلو پلار يې ورته ويل: د وارث قبر ته ولې ورنه غلې؟ ده ويل: دغه نور مې هم وروڼه دي.
کله چې امريکايي بندي بريګډال د مجاهدينو له ميشت ځای څخه وتښتيدلو او تر پنځلسو ورځو ورک و، مجاهدين پسې ګرځيدل او پيدا يې کړ، کله يې چې خپل ميشت ځای ته راورسولو د مولوي سنګين پلار لاس پورته کړ او څپېړ يې ورکوله، مولوي صاحب يې لاس ونيولو او ورته ويل يې: اغا! دغه اوس راسره بندي او مظلوم دی موږ بايد ترحم پرې وکړو!
کله به چې مولوي سنګين «فاتح» د نوموړي بندي خوا ته ورغلو، هغه به ويل: This is a lion يعنې دغه يو زمری دی، مولوي سنګين فاتح به په مړی له ځان سره کينولو او مجلس به يې ورسره کولو.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پنځه ویشتمه:

# شهید آمر غلام علي «راشد»

شهید آمر صاحب غلام علي راشد ولد شهید حاجي غلام جیلاني د میدان وردګو ولایت چک ولسوالۍ د خوات ښکلې درې زمانخېلو د کلي په یوه دینداره کورنۍ کې په ۱۳۵۳هـ ش کال دې فاني دنیاګۍ ته سترګې پرانیستلې، ابتدایي درسونه یې د خپل کلي له مسجد څخه پیل او د سیمې د حضرت عمر فاروق په لېسه کې یې آن تر ۱۲ زده کړې بشپړې کړې په ۱۳۷۳هـ ش کال کې یې له همدې لېسې څخه د فراغت سند واخیست.
کله چې هېواد د خپلمنځي جګړو په ډګر بدل شو او په وړاندې یې د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ خوځښت پیل شو کله چې د میدان وردګو ولایت ته را ورسېدل د همدې سپین کاروان لاروی شو، کله چې طالبان کابل ته د ننه شول د شپږمې حوزې دریم ماموریت، د کورنیو چارو وزارت لومړي نظام قراول او د استخباراتو ریاست لومړي نظام قراول آمر پاتې شوی، له همدې وروسته د یې د آمر صاحب لقب خپل کړ.
د طالبانو ترسقوط پورې د کابل خیرخوانې د استخباراتو د ۱۵ حوزې مسؤل پاتې شوی، کله چې امریکایي یرغلګرو په هېواد هجوم راوړ آمر صاحب له هماغه اولې ورځې د دوی مقابلې ته ملا وتړله ورو ورو یې ډېر کسان د ځنګ ملګري او لویه دلګۍ یې جوړه کړه، د چک په ولسوالۍ به یې مرګوني ګزارونه کول تردې چې د کابل اداري عسکر یې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د همدې ولسوالۍ په احاطه کې محاصره کړل، د نوموړي شهيد ورور او خای ناستي آمر غلام معروف راشد راته وویل: شهيد آمر صاحب الله تعالی په ښو اخلاقو نازولی و، شجاعت او بهادري يې ځانګړې خاصيت و، ترديې چې له دښمن هيڅ نه ېېرېدلو کله چې په ۱۳۸۳هـ ش کال د چک په ولسوالی لوی عمليات ترسره شول د خبيب په نوم مجاهد سخت ټپي او دښمن ته په پنځه مېترۍ کې ورپاتې شو، چا هم جرأت نشو کولای چې راپورته يې کړي، آمر صاحب ورغلو او په شايې تر مجاهدينو راورسولو. دغه مجاهد اوس هم ژوندی دی، سخاوت او خوش طبعي يې داسې عادت و، چې کله هم نه سره بيلېدل، په ولسي وګړو يې داسې ترحم او شفقت کولو چې ساری يې نه ترسترګو کيږي، د ولسي وګړو سره به يې د مخامخ کېدو پرمهال داسې چلند کولو تابه ويل د کلونو وروسته يې مسافر ورور را ستون شوی، ملګرو ته به يې تل توصيه وه چې د ولسي وګړو سره ښه چلند کوئ.

نوموړی امريکايانو ته دومره مطلوب و، چې په کورنۍ ۱۴ چاپې واچولې بلآخره دغه اتل او سر ښندونکی مجاهد د ۱۳۹۱هـ ش کال د يکشنبه ماښام په ۷ بجو د چک ولسوالۍ د ګوده درې د پيوند په سيمه کې د امريکايي بې پيلوټه او جيټ تيارو په بې رحمانه بمبارد کې په شهادت ورسېد او هغه سترګې يې پټې شوې چې په ليدو به يې مظلوم اولس د خوښی احساس کولو.

نحسبه كذالک والله حسيبهم



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لومړۍ بیلګه:

# مجاهدین په سکینه ونازول شول!

خوب او آرام معمولاً هلته کیږي چې اعصاب آرام او امن وي، له چا ډار او ووېره نه وي؛ کله چې کوم ځای وېره او ډار وي هلته بیا خوب او آرام کله کوي، د جهاد په ګرم ډګر کې د عقل غوښتنه او تقاضا دا وي چې خوب تېښته وکړي ځکه هلته د مرمیو شور او د زندان، زخم او شهادت احتمالات وي خو د جهاد په میدان کې بیا لوی رب ﷻ ډېر ځله د خپل دین لارویان په سکینه او اطمینان نازولي لکه د بدر مجاهدین چې الله تعالی په دوی د خپلو انعاماتو په لړ کې داسې فرمایي: اذ یغشیکم النعاس امنة.. سورة انفال (۱۱) .

ژباړه: هغه وخت (درپه یاد کړئ) چې الله ﷻ تاسو له خپله طرفه د ډاډ درکولو د پاره په پرکالۍ (نري خوب) باندې پټ کړئ!

عزیز التفاسیر د دې آیت لاندې لیکي: تاسو د جنګ په میدان کې سخت وارخطاء وی او اضطراب مو ډېر زیات وه نو الله ﷻ په تاسو باندې پرماښی نازله کړه او په نازک (نري) خوب باندې یې ویده کړئ، خو ځنګه مو چې د دغې پرماښی ځخه سترګې وموښلې او را ویښ شوئ نو ذکر شوې وارخطایي او اضطراب مو ټول د منځه تللی وه او مورال مو ډېر زیات قوي شو چې همدغه د مورال قوت مو د فتحې لپاره یو سبب جوړ شو. عزیز التفاسیر پنځم جلد ۱۴۳ مخ

د بدر په تاریخي غزا کې صحابه کرام لوی رب ﷻ په داسې سکینه او



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اطمینان ونازول چې له لاسونو د گرم جنگ په ډگر کې توري ولوېدلې په دې اړه بخاري د حضرت څخه روایت کوي: ان اباطلحة قال غشینا النعاس ونحن فی مصاپنا یوم أحد قال فجعل سیفی یسقط من یدی واخذه ویسقط واخذه.

حضرت انس رضی الله عنه وايي: اباطلحة وویل: موږ باندې پرمانبې (نري خوب) راغلو او موږ په جنگ کې وو تردې چې توره به زموږ له لاس ولوېده بیا به مو راواخیستله بیا به ولوېدله او بیا به مو راواخیستله. تفسیر المظهري ۱۵۸ مخ، مکتبة الشاملة

راځئ! په څوارلسمه صدۍ کې د هېواد له غیرې د ثاني بدر په ډگرونو کې د یوه مجاهد د همداسې سکینې او اطمینان نندارہ وکړو!

د میدان وردگو ولایت مرکز اړوند دې افغانانو اوسېدونکي میارسول د شاه رسول زوی د یاد ولایت د مشر مجاهد حاجي زلمي ملگري راته په جهادي ډگرونو کې د سکینې او اطمینان اړوند جالبه کیسه په لاندې ټکو بیان کړه:

۱۳۹۶هـ ش کال د لړم میاشت وه د مرکز اړوند دو سرکې سره د خاک پشيي پوسته باندې (چې اربکیان پکې دېره وو) تعرضي عملیات وو، څینو ملگرو په سرک ماینونه خښول او نور بیا د تعروضي عملیاتو برخوال وو، زموږ د تره لمسی حشمت «بدر» د زلمي زوی هم د همدې تعروضي عملیاتو برخوال و، کله چې تعروض خلاص شو او ملگري د جنگ له صحنې را ووتل «بدر» نادرکه شو.

مور یې سهار راغله ویل یې زوی مې څه شو؟ چا ویل زخمي او چا بیا ویل شهید دی...

موږ همدې تالاش کې وو چې یوه مورکۍ او «بدر» را دننه شول؛ د دې صحنې په لیدلو د ټولو ملگرو په څهره کې خوښي ښکاره شوه، کله مو



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



چې ترې تپوس وکړ چېرته وې؟ «بدر» خبرې لا نه وې پیل کړې چې مورکۍ خبرې شروع کړې ویل یې: د لمر ختلو سره له کور را ووتلم ومې لیدل چې د دوو پوستو لاندې دښته کې یو کس معلومېږي ورنږدې شوم ومې لید چې یو کس داسې مهال چې په اوږو یې ښایسته څنو تالونه خوړل او گردونه پرې پراته دي او تر څنګ یې توپک او مخابره هم ایښې ویده دی، پوه شوم چې طالب دی غږ مې پرې وکړ، پورته شه! هغه چې کله راپیدار شو وار خطاء شو زر یې خپل توپک او مخابره راواخیستل، مورکۍ ویل: دا چې له پوستو ښکارېدلو څکه خو د پوستو طرف ته زه شوم او دغه طالب مې تر څنګ روان کړ، توپک یې هم ما تر خپل پړوني لاندې پټ کړ.

«بدر» ویل: زه داسې ویده شوی وم چې له جګړې وروسته د پوستو د ګزمې تانګونه دری خله زما څخه په څو مېترۍ کې تېر شوي وو، لوی رب ﷻ زه د دوی له سترګو پنا کړم.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دویمه بېلګه:

## شپېته ورځې وروسته پیدا شو!

په هېواد کمې داسې شپې وې چې د صلیبیانو او د هغوی د لاسپوڅو غلامانو له لوري به په مظلومو اولسونو شپني عملیات نه تر سره کېدل، دوی د دغه وحشیانه عملیاتو په لړ کې هر ډول جنګي اصول تر پښو لاندې کړي و، کلینیک، مدرسه، مکتب، مسجد او... دوی ته یو وو، هر ځای به یې چې زړه وغوښتل عملیات یې کول، د میدان وردګو ولایت، سیداباد ولسوالی د تنګي شهید پروره دره هغه دردمنه ساحه ده چې د یرغلګرو له لوري یې ګڼ وحشتونه ولیدل، د دې سیمې یو مجاهد فرید احمد «غورځنګ» راته د یرغلګرو له لوري د تر سره شوي وحشت په اړه داسې ووېل: د ۱۳۹۸هـ ش کال و، هوا زیاته سړه وه ټوله ورځ د تنګي دره د یرغلګرو د کشفي الوتکو تر څار لاندې وه، کله چې شپې د دې درې هسکې او هوارې تر خپلو پېښکو لاندې کړل د دښمن ډرون الوتکې هم راپیدا شوې د دې سیمې وګړې ټول په دې انتظار وو چې بیا به د کوم مظلوم کورګی نړېږي او د یرغلګرو تر برید لاندې به راځي، شپه پخه شوه د دغې درې د دولت خپلو کلي ته جهاز، جنګي چورلکې او ډبلډبنې چورلکې هم را ورسېدې او فیرونه یې پیل کړل څوک هم نه پوهېدل چې اوس به کوم مظلوم د یرغلګرو په فاسفورس بمونو سېزل کیږي، د دې سیمې کلینیک ته هم ورغلل او ډاکتران یې ټول زولنې کړل، دا د بشر حقوق دي(!) د دوی د بشر حقوقونه یوازې هماغه وو چې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مطبوعاتي ډګر يې پرې ګرم کړی و نور په عمل کې دوی نه بشر پېژندلو او نه يې حقوق!.
د دې کلينيک د امبولانس ډاکتر يې هم له کلينيک را ايستلی و؛ سهار چې کله ساحې ته ورغلم د نورو ځايونو تر ځنګ زموږ کور هم وران و.
د دې سيمې خلک راټول شول ويل يې ډاکتر يې له ځان سره وړي، بيا يې سپين ږيرې برابر کړل او هغه ډاکتران يې راخوشې کړل، د امبولانس ډرېور مجاهد نادرکه و او دوی د پيدا کولو په تکل يې کورنۍ ډېرې هڅې وکړې په يوه او بله خبر به يې غلطول او هر زندان ته به چې دوی لاړل هلته به نه وو بلاخره موږ هم د خپل کور د بيارغولو تکل وکړ او اسکواټر مو راوستلو کله مو چې کار پيل کړ لږ وروسته د بمبارد شوې کوټې منځ کې له شيټو ورځو وروسته د امبولانس ډرېور مجاهد ښکاره شو او راومو ايستلو نوموړی د يرغلګرو له لورې په برچو وهل شوی وو نور يې مبارک جسد هيڅ تغير نه و خوړلی او همداسې تازه او پاک په خاورو کې پروت و.
«غورځنګ» راته وويل: زما د شهادت اعلان يې هم کړی و خو الحمدلله تر اوسه هم ژوندی پاتې یم...



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دریمه بېلګه:

# د مجاهدینو دعاګانې قبلېدلې

الله تعالی فرمایي:
وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ
ژباړه: او ستاسې رب وايي، تاسې له ما څخه غوښتنه وکړئ! زه يې درته قبلوم.

د پکتیکا امنیه قوماندان شیخ محمدشریف «حلیمي» په دې اړوند داسې وویل: ۱۳۸۸ هـ ش کال او د هېواد ګنې سیمې د یرغلګرو تر اشغال لاندې وې، هره ورځ به د هېواد په لر او بر کې د رحمان او شیطان د لښکرو تر منځ د مقابلې ډګرونه تاند وو، په دې لړ کې به څینو ملګرو خپلې ګلابي څوانی نذرانه او د لوی رب سره به يې وعدې پوره کړې، څینو به بیا داسې مهال د زخمونو هار غاړې ته کړ چې د تداوی او علاج لپاره به يې امکانات په نشت حساب و، حلیمي صاحب ویل: د ورځې ویده وم په خوب کې مې ولیدل چې زبیر مې له څنګ سره ویده دی او د جنت خوشبويي ترې پورته کېږي، کله چې له خوبه را بیدار شوم د مخابرې له لارې مې له ملګرو سره رابطه وکړه، هغوی ویل په ولسوالی خپونکي عملیات پیل شول نور ملګري جوړ دي یوازې زبیر د درازنوف په مټ په ستوني باندې لګېدلی دی او مرمی ترې شا طرف ته وتلې وه دوی راته ځای په نښه کړ، او هلته ورغلم مازدیګر مهال زبیر جان مرمی



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په ستوني باندې خوړلې وه او وینې ترې روانې وې ما چې د دې مسافر نوجوان زخمي حالت ولید د تداوۍ طریقه یې هم نه وه ورسره مجاهدینو ته مې وویل تاسو ټول قبلې ته مخ کړئ لاسونه پورته کړئ زما په دعا پسې آمین و وایاست لوی رب ته مې دعا پیل کړه، یا الله ﷻستا لوی دربار ته مو لاسونه لپه کړي هماغه دین دی چې د نبي کریم ﷺنصرت او امداد ته د ملائکې رالیږلې هماغه دین دی چې صحابه کرامو به وریاندې قرباني ورکولې! هلته د کومک کړی و، زموږ سره هم کومک وکړې او دغه زخمي ته شفا ورکړې موسی د په اوبو کې وساتلو او ... ته زموږ دغه زخمي مجاهد جوړ کړې.

ټولو مجاهدینو په اوښلنو سترګو او سلګیو دغه دعا بدرګه کړه او آمین، آمین یې ویل.

دغه زخمي ملګری مو له نورو مجاهدینو سره پرېښود او هدایت مو ورته وکړ تر څو یې د دایمردادو د تنګي سیدانو شفاخانې ته انتقال کړئ، دوی همدې شفاخانې ته انتقال کړ او سبا مې ملګرو ته زنګ وکړ زبیر څنګه دی؟ دوی ویل: هغه اوسمهال جوړ دی که غواړې خبره ورسره وکړه، ما ورته وویل: ته تلیفون ورکړه کله یې چې تلیفون ورکړ خبر مې ورسره وکړه ویل یې: اوس جوړ یم الحمدلله، درې شپې وروسته یې زبیرجان له شفاخانې څخه را انتقال کړ او زموږ کور ته یې راوستلو په یوه هفته کې لوی رب ﷻ شفا ورکړه زخم یې یوازې شا طرف ته معلومېدلو، تر دې چې ډوډۍ یې هم خوړله او خبرې یې هم کولې.

د تعجب خبر همدا وه چې یو زخمي په داسې حساس ځای لګېږي او لوی رب ورته په دریو ورځو کې شفا ورکوي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*څلورمه بیلګه:*

# د شهیدانو جنډیو د دښمن لور راښودلو

د اتلانو د تاتوبي هره دښته، سمه او غر د غزا او اتلولۍ ګنې کیسې لري، د دې هېواد په لارو به د مزلونو په مهال د شهیدانو ګڼ بیرغونه په نظر درشي؛ دوی د انګرېزي، روسي او امریکایي ښکېلاک په وړاندې د مبارزې د ډګر هغه اتلان شازلمیان دي چې خپل نذرونه یې پوره خو په خاوره یې هېڅ یرغلګر ونه شو زغملای، د دوی ګلابي وینو د هېواد په اُفق د شرعي نظام جلوې ځلانده کړې، دې اتلانو له شهادت وروسته هم د یرغلګرو په وړاندې د مقابلې ډګرونه نه دي پرېښي او د کراماتو ځلي یې دنګ کړي راځئ په دې تړاو لاندې کېسه ولولو!

د میدان وردګو ولایت امنیه قوماندان الحاج شیخ الحدیث محمد شریف«حلیمي» راته وویل: د میدان وردګو ولایت په جغتو ولسوالۍ کې مېشت د یرغلګرو لوی نظامي مرکز جوړ و چې ګڼ امریکایي ښکېلاکګر په کې دیره وو، د دې مرکز له لوري به هره ورځ د مظلوم اولس کورونه، فصلونه او لارې په نښه کېدلې؛ موږ به د دوی په وړاندې د مېزایلو عملیات کول، عملیات مو چې له کوم ځای کول هلته خوږ و او د کمپاین لور ته د روسي ښکېلاک په وړاندې د یوه شهید په مشهد شناخته وه موږ به له یادې شناختې د شاخص(هغه شی چې هدف پرې معلومېږي) کار اخیستلو، کله به مو چې په یاده شناخته هدف وتړلو سیده به د یرغلګرو مرکز ته مرمۍ برابره شوه او هلته مېشت اشغالګر به یې په نښه کړل.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



«حلیمي» صاحب زیاته کړه: یوه ورځ په یاده ولسوالۍ د عملیاتو پلان ترتیب شو، موږ ته یې د هاوان عملیات راوسپارل او د دښمني په لور لاړو، شپه وه او زیاته تاریکي وه، موږ هاوان برابر کړ او په ولسوالۍ تعروضي عملیات پیل شول، عملیاتو ته مې سودا شوه او د معلوماتو په تکل د هاوان له ځای وخوځېدم تر څو د دښمن حال معلوم کړم، څو شېبې وروسته بېرته د هاوان لور ته راغلم دغه ځای راڅخه ورک شو، په تیاره کې مې یو سړی ولید مافکر وکړ چې زموږ دلګی مشر قاري عبدالرازق دی کله چې هلته ور روان شوم چې هاوان مخامخ ایښی او سړی نه معلومېږي سهار مې چې د دهنې د کلي له سپینږیرو څخه پوښتنه وکړه، ویل یې: دلته د روسانو پرمهال شهیدان شوي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پنځمه بېلگه:

# دوهم ځل شهيد

د دين د دفاع او حفاظت په تکل د اسلامي نړۍ له غيرې ګڼو اتلانو د قرباني دنګ ميناروونه جوړ کړي، دوی بيا لوی رب ﷻ په کراماتو نازولي، د زمرياليو د ټاټوبي نازولو شهيدانو د کراماتو داسې کيسې د تاريخ پاڼو کې ثبت کړې چې اورېدل يې سړی د حيرانتيا په ټال زنګوي. راځئ! دا ځل د ميدان وردګو ولايت د سيداباد ولسوالۍ د تنګي شهيدپرورې درې له غيرې د هغه شهيد ياد ته سر ورښکاره کړو چې لوی رب ﷻ د دوهم ځل لپاره پرې د شهادت وياړ لورولی د دې شهيد د جسد په ليدلو يو ځل بيا د ځوارلسمې پېړۍ انسانانو ته عمرو بن جموح ورياد شو.

د يادې ولسوالۍ مجاهد د اتل شهيد حاجي فضل الربي ورور مولوي فضل الرحمن «صابر» اخندزاده د دې کيسې په اړه داسې راته وويل:

شهيد ملاعصمت الله «نعماني» د تنګي درې د قلعه امير د ګلو جان زوی لا د ماشومالي تانده دوره نه وه تېره کړې چې ديني درسونو ته يې مخه کړه، آن تر ورپې دورې يې ديني درسونه ولوستل، نوموړی د حيا ادب او ښو اخلاقو له وياړ برخمن و، د روسي ښکېلاک په مهال د تکړه او ستر غازي شهيد مولوي احمد جان تر قيادت لاندې د همدې ولسوالۍ د آبدرې د کلي د مجاهدينو په مرکز کې ديره شو، د روسي ښکېلاککرو په وراندې يې مرګوني ګوزارونه کول؛ ۱۳۶۰ هـ ش کال و چې روسي ښکېلاککرو په مرکز هجوم راوړو، د دوی د مقابلې لپاره د اتل شهيد مولوي احمد جان په مشرۍ ديارلس کسان مقابلې ته ورغلل د دوی په



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



وړاندې یې مرګوني ګوزارونه وکړل، اتل شهید ملاعصمت الله نعماني د دوی یو ټانګ د بوتل په واسطه د اور خوراک کړ په همدې عملیاتو کې له مجاهدینو یوازې یو کس پاتې شو او د نورو ګلالو شهیدانو تر څنګ اتل غازي نعماني هم د شهادت آسمان ته دنګ شو.

انالله و انا الیه راجعون

«صابر» صاحب راته وویل: دا چې نوموړی شهید مو د کاکا زوی و، هلته ورغلو او کلي ته مو راوړلو د کلي تر څنګ لویه غونډۍ باندې مو خاورو ته وسپارلو.

روسي ښکېلاک مات شو وختونه واوښتل او لسیزې وروسته په هېواد امریکایي یرغلګرو د ناټو په ملتیا هجوم راوړ ۱۳۹۸ هـ ش کال و چې د تنګي شهید پرورې درې په لور د یرغلګرو چاپه راغله د دې درې په قلعه امیر کلي کې یې یو ځل بیا د مظلومو اولسونو په کړولو او ځورولو لاس پورې کړ، «صابر» صاحب ویل: د عیني شاهد په توګه مې د همدې شهید له زیارت څخه ولیدل چې په دوی فیرونه شروع شول، خلک حیران شول ویل یې مجاهدین څومره بې پروا دي چې په له دې لوړې غونډۍ جنګ کوي، امریکایانو له هوا څخه په زیارت بمبارد شروع کړ، له بمبارد وروسته دوی هلته ورغلل او له زیارت یې فرمیکاټ چاپېر کړ او انفجار یې ورکړ؛ سهار چې کله خلک ورغلل ویې لیدل چې زیارت وران او د نوموړی شهید جسد را لوڅ شوی و، ډېره یې اوږده شوې وه او په ستوني لګېدلې و، وینې ترې روانې وې.

«صابر» صاحب ویل: ملاعصمت الله چې کله شهید کېدلو هغه مهال یې د ځوانۍ سپرلی توکېدلی و او په مخ یې تور خط ښکاره شوی و اوسمهال چې لسیزې وروسته یې مبارک جسد ښکاره شو ډېره او بریت یې اوږده شوي و.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شپږمه بېلګه:

# د شهید له وینو ګلان را زرغون شول

د میدان وردګو ولایت، نرخ ولسوالۍ اوسېدونکي تکړه مجاهد مولوي الله نور «ناصح» چې د امریکایي یرغل په وړاندې له مخکښو او سابقو مجاهدینو څخه دی نوموړی د میدان وردګو ولایت مرکز، جلریز، نرخ او سیداباد ولسوالیو د نظامي مسؤل په حیث خدمتونه تر سره کړي.
ښاغلي «ناصح» راته د خپلو جهادي خاطرو اړوند د یوه ملګري کرامت په دې خوږو الفاظو راسره شریک کړ او ویې ویل: ملا رحیم ګل د بهلول زوی د نرخ ولسوالۍ د باداٰم د کلي اوسېدونکی و، د نوموړي شهید تله کورنۍ دینداره او نېکان خلک و دغه راز یې کور یو له هغو کورونو څخه و چې د مجاهدینو لپاره د دمې او آرام ځای بلل کېدو، ملا رحیم ګل د مدرسې په غېږ کې روزل شوی د تقوی او هوښیارۍ نمونه و؛ کله چې د امریکایي ښکېلاکګرو په وړاندې د جهاد د پیلامې تصامیم نیول کېدل نوموړی د میدان وردګو د مرکز، جلریز او نرخ ولسوالیو لپاره د نوموړي مجلس په سطحه نماینده وټاکل شو.
د اشغال په لومړیو کلونو کې به کله هم چې یرغلګرو په کومه ساحه عملیات تر سره کول قوه به یو څه لېرې ورته ولاړه وه او دوی به پیاده د عملیاتو په تکل هغه ساحې ته ولاړل کله چې شهید رحیم ګل پوه شو چې دوی د نوموړي په طرف ور روان دي نو یې د کلي څخه د وتلو اراده وکړه او د کلي لاندې طرف هغه ځای ته را ورسېد چې هلته د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مجاهدینو چک پاینټ و، یو نا څاپه د یرغلګرو ډرون طیارې وربانديې فیر وکړ او ملا رحیم ګل یې د خپل برید هدف وګرځولو او په شهادت ورسېد.

انا لله و انا الیه راجعون

نوموړي داسې مهال د شهادت جام نوش کړ چې هېواد د خزان د موسم کوربتوب کولو او ونو پاڼې زیړې کړې وې د دغه شهید مشهد د منې تر ونه لاندې وو همدې ونې د دې شهید له شهادت وروسته ګلان زرغون کړل د سیمې خلک د دې شهید د کرامت په لیدلو د حیرت تال وزنګول.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*اوومه بیلګه:*

# د شهید اوښکې روانې شوې

د سپېڅلي جهاد لار له کړاوونو او تکلیفونو ډکه ده د تېر شل کلن اشغال په وړاندې د افغان تېر غیرتي زلمکیو دا لار په دنګ عزم او هسکه روحیه وپالله بل طرف بیا شاکر رب د دې شازلمیو خانګړې نصرت وکړ، او په کراماتو یې ونازول؛ د میدان وردګو ولایت، جلریز ولسوالی اوسېدونکي مولوي نقیب الله «حامد» د خپل شهید ملګري کرامت په دې الفاظو شریک کړ:

۱۳۹۸ هـ.ش کال د سرطان د میاشتې ۴مه نېټه وه د میدان وردګو ولایت، جلریز ولسوالی اسماعیل خېلو سیمه کې د حق او باطل د مقابلې ډګر ګرم و د دې عملیاتو په لړ کې مسافر مجاهد ابابیل چې د ننګرهار ولایت اوسېدونکی و په شهادت ورسېد، دا چې کورنی یې لرې وه نو موږ دفن کړ او دسر یوه تیره مو ورته پرېښودله، یوه ورځ وروسته یې کورنی راورسېدله کله مو چې هغه تیره جګه کړله والدینو او ورونو چې کله دغه شهید ولیدلو په ژړا شول دغه مهال د دې شهید له سترګو هم اوښکې روانې شوې دغه صحنه د سیمې خلکو هم ولیدله، د دې سیمې اوسېدونکي مولوي روح الله «طارق» او وراره یې عنایت الله «شاهین» هم دا پېښه راته تائید کړه او ویل یې موږ دغه صحنه ولیدله.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اتمه بېلګه:

# له بسترې مار ولوېد!

کرامات د اولياء کرامو حق دي، دوی ته د شريعت د متابعت له امله لوی رب کرامت ورکوي د ميدان وردګو ولايت، سيداباد ولسوالی اوسېدونکي تکړه مجاهد مولوي نقيب الله «ذاکر» د شهيدانو د کراماتو اړوند د يوه ستړي مجاهد کيسه راته بيان کړه:

۱۳۹۷ هـ ش کال هغه خونړی کال و چې د يرغلګرو له لوري په هېواد کې سور اور بل و، هره شپه به د هېواد ډېری کلي او باندې د وحشي دښمن تر بريدونو لاندې وې، ستړي غازيان به د ژمي په سړو شپو هم د غرونو غېږ ته تلل او هلته به يې په غارونو کې شپې سبا کولې د ميدان وردګو ولايت، سيداباد ولسوالی د حسن خېلو د کلي اوسېدونکي مجاهد ملګري وحدت «مطمئن» راته کيسه کوله:

موږ به د يرغلګرو د شپنيو عملياتو له امله هره شپه د غره لور ته تللو هلته مو د ځان د حفاظت په تکل يو غار ځان ته انتخاب کړی و همدلته مو سفري بسترې هم ايښې وې د شپې په مهال به پکې ويده کېدلو يوه شپه همدې ځای ته ولاړم او د آرام په تکل خپلې بسترې ته د ننه شوم په بستره کې مې پښې په يوه نرم شي باندې ولګېدلې دا چې ستړی وم پروا مې يې ونه ساتله او ويده شوم دغه شپه تېره شوه سبا بيا د کليو لور ته لاړم بېګاه بيا همدې ځای ته راغلم کله چې بستره کې د ننه شوم بيا په نرم شي رابيدار شوم بستره مې وځنډله او مار ترې راولوېدلو.

سبحان الله دغه د مجاهدينو کرامت دی.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



څلورم څپرکی

# یادونه او دردونه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لومړۍ بېلګه:

# ويل دې اوړه راوړم!

د جهادي بهير په لړ کې د سپېڅلي صف لارويانو خورا سخت تکليفونه او کړاوونه وزغمل، دوی د اسلام د مبارک دين د دفاع په تکل ټول خوندونه هېڅ کړل، ځينو خو ان په ژوند له کورونو خدای پاماني واخيستلې او د سنګر خړ پړ ژوند يې د ځان لپاره انتخاب کړ راځئ! د حق د لارې د هغه اتل شاه زلمي کيسه ولولو چې په خورا غربت کې يې د جهاد اغزنه لار په دنګ عزم وپالله؛ د ميدان وردګو ولايت، نرخ ولسوالۍ د توکرک کلي اوسېدونکي محب الله «عزيز» د دې اتل کسيه راته داسې بيان کړه: خالد چې د همدې ولايت، نرخ ولسوالۍ د شاکولا د کلي اوسېدونکی و زموږ د خط مسؤل و، نوموړی لوی رب په غيرت او شجاعت نازولی و، يوه ورځ د نرخ په ولسوالۍ باندې له عملياتو وروسته خپل مرکز ته راستون شولو د خالد نمبر ته زنګ راغلو هغه د باندې ولاړو کله چې را دننه شو په څهره کې يې د ژور خپګان نښې له ورايه ښکارېدلې ځنګ ته مې کېناست، پټ مې ترې وپوښتل چا زنګ درته وکړ؟ ويل يې: کورواله مې راته زنګ وکړ ويل يې: کور کې اوړه خلاص دي، دا څو ورځې مو له نورو کورونو په پور راوړل نن هغه هم خواب راکړ، ما ورته وويل: تا څه ورته وويل: ويل يې وعده مې ورسره وکړه چې سبا ته اوړه دروړم ان شاء الله ته مه خپه کېږه.

ما اجازه واخيستله او کور ته روان شوم تر څو جامې بدلې او بېرته خپل



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مرکز ته راستون شم، د کور په لور مې داسې مهال ګړندی مزل پیل کړ چې د آسمان غېږ د کشفي او ډرون طیارو غومبار په سر اخیستې وه لا کور ته نه وم رسېدلای چې د ډرون ګوزار مې تر غوږ شو، د لارې یوه لور ته مې موټر سیکل ودرولو او لاسي دستګاه ته مې غوږ ونیولو چې د ملګرو شور دی او وایي د بازیخېلو لور ته یې فیر وکړ په شخصي نمبر کې مې له ملګرو سره رابطه وکړه هغه ویل: خالد یې وویشتلو او په شهادت رسېدلای، کور ته لاړم او څه وخت وروسته د نوموړي شهید د کلي شاکولا په طرف روان شوم کله چې هلته ورسېدلم د خالد جان جنازه هم راورسېدله کله یې کور ته یوړلو له کور څخه یې بي بي را بهر شوله او په سلګو کې یې ورته ویل ناڅوانه! تا خو ویل سبا اوره درته راوړم، زه خو ستا د اوړو په انتظار وم، د اوړو قرضونه به څوک خلاصوي؛ د دې کونډې خورکۍ خبرو او سلګو د جنازې ټول ګډونوال په سلګو کړل.

کله چې هېواد د فتحې له ویاړ برخمن شو د پنځلسو ملګرو په ملتیا د نوموړي شهید کور ته ورغلو کله چې هلته ورسېدلو ماشوم بچی یې راغلو او موږ یې مهمانخانې ته بوتلو، دغه ماشوم ویل: زه چای راوړم له ډېر څنډ وروسته یې چای راوړو موږ ترې وپوښتل ولې دومره ناوخته شولې!؟ ویل یې: زموږ کور یوازې شپږ ګیلاسونه دي له کلیوالو مې ستاسو لپاره ګیلاسونه راټول کړل د دې خبرې په اورېدلو ناست کسان ټول سلګو واخیستل...



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دويمه بېلګه:

# د تکبير چيغې به مې هېرې نه شي

د لوګر ولايت مرکز اړوند پادخواب شانه اوسېدونکي مولوي شمس الرحمن «طه» راته د جهادي دورې دردمنه خاطره داسې بيان کړه:
کله چې په لوګر ولايت کې په الهي نصرت او د دې سيمې د حماسي ځوانانو د غيرت له امله امريکايي ښکېلاکګرو ماتې وخوړه د خضر بېړ ته برطانويان راغلل، هغوی به د طالبانو سيمو ته تلل هلته ولاړ سپن بيرغونه به يې راواخيستل او بيا به يې په ټانګونو درول؛ د مرکز اړوند دوشنبې کې و، په لار روان وم چې ګڼ مجاهدين ولاړ دي ورته ودرېدلم او پوښتنه مې ترې وکړه ويل يې: برطانويان راغلي دي ملګري په ترتيب بوخت دي، ګروپ مې چې زما سره دولس کسان کېدلو د دوی له لوري يو ځای راته انتخاب شو کله چې هغه ځای ته ورسېدلو برطانويان مو وليدل چې زموږ لور ته په داسې حال کې منډې راوهي چې متې يې لوڅې او د برطانيا بيرغونه يې په ځان پورې تومبلي وو.
جنګ پيل شو لومړی صحنه کې ملګرو څو کسه برطانويان وويشتل په دې وخت کې هليکوپټر طيارې سيمې ته راورسېدلې او سخت بمبارد يې شروع کړ په جنګ کې پنځه کسه شهيدان پنځه کسه زخميان او دوه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ژوندي ووتل، دوی په جنګ کې د بمبارد په مهال داسې زهرجن مواد استعمال کړل چې زموږ وجودونه یې زیات خراب کړل زما غابښ ټول ولوېدل او د وجود هرې برخې مې زیات درد کولو دغه مې د ژوند دردمنه خاطره ده د ملګرو د مظلومیت شهادت او د دوی د تکبیر چیغې به مې کله هم هېرې نه شي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دريمه برخه:

# لاسونه د نکريزو په اميد سپين پاتې شول

د ميدان وردګو ولايت، چک ولسوالۍ د بيانان د کلي اوسېدونکي مجاهد محمد يعقوب «رشيد» راته د خپل ملګري دردمنه خاطره په دې ټکو شريکه کړه: منصور چې د چک ولسوالۍ د سپين ښاره اوسېدونکی و د واده مراسمو ته يې يوازې درې شپې پاتې وې د واده لپاره يې تياری نيولو، ناوکۍ ته يې د سيمې ايز دود له مخې جامې، نکريزې او ... ليږلي وو د ځان لپاره يې د سيمې په سيبکې بازار کې جامې، پاچ او... اخيستل خو څوانيمرګ خبر نه و چې جامې به يې خياط ته ور پاتې شي همداسې وشول مشر يې مولوي کرامت الله «عمر» راغلو او تشکيل ته يې ملګري تيارول نومورې ورته وويل: زه هم درسره ځم «عمر» صاحب ورته وويل ته پاتې شه درې ورځې وروسته دې د واده مراسم دي ده ويل نه ضرور درسره ځم د غزني ولايت د برکت ساحې ته د عملياتو په تکل ولاړو او هلته د مخامخ عملياتو په مهال په شهادت ورسېد.

انا لله و انا اليه راجعون

دلته دېرې ناوکۍ په سرو لاسونو کونډې شوې او د فراق دردونه يې وزغمل، د جهادي بهير په لړ کې د دې چم ځوانانو په خورا لوړ او دنګ عزم د جهاد لار ونيوله او په هسکه غاړه يې خپل نذرونه پوره کړل.

د دې اتل شهيد ناوکۍ د جنازې کټ ته ودرېدله په سلګو کې يې د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شهادت مبارکي ورته ډالۍ کړه، او د دفن په مهال یې آن تر لحده پورې ملتیا وکړه.

هره حوره ګلبشره شي چې شهید شي طالب جان
استقبال ته یې را درومي تر لحده لېوني
(محمد علیم بسمل)



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خلورمه بېلګه:

# د زوی جامې یې دوکان کې پاتې شوې!

د میدان وردګو ولایت د چک ولسوالۍ د توپور کلي اوسېدونکي تکړه مجاهد حسیب الله «حکمت» د خپل ملګري دردمنه خاطره په دې تکو راسره شریکه کړه: د ۱۳۹۷ هـ ش کال شپږ ویشتمه روژه وه، د سیمې خلکو د واړه اختر لپاره تیاری نیولو. خلکو خپلو بچیانو ته جامې او نور شیان اخیستل «شهیدیار» د چک ولسوالۍ ...کلي اوسېدونکی چې د جهادیار ملګری و د سېبکې په بازار کې د خپل واړه بچي لپاره د خان له دوکان څخه بوټونه او واسکټ واخیستل همدې شېبې ته د چک ولسوالۍ د ښېرخانې په پوسته عملیات و، نوموړي دوکاندار ته ویلي وو زه راځم دغه شیان دې ستا سره دوکان کې وي کله چې عملیات پیل شول د یرغلګرو له لوري جهاز راغلو او آن تر څلوېښتو پورې کسان یې په شهادت ورسول د نوموړي جسد نیمایي نه و او داسې مهال د شهادت کاروان ته ورګډ شو چې د زوی جامې یې دوکاندار ته ورپاتې شوې او د اختر د مبارکۍ ځای د ده او د نورو شهیدانو فاتحو خپل کړ!

هــــر مابنام دلته سلګۍ وي او آهونه
دلته هر یو مازدیګر په وینو سور دی



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پنځمه بیلګه:

# ځان ته يې قبر جوړ کړ

د میدان وردګو ولایت، جغتو ولسوالۍ د باریکاب په ښایسته دره کې مو د ضیاءالعلوم په مدرسه کې درسونه ویل، د شمال ګل په نوم یو کوچنی طالب چې کډې به یې د اوړي په مهال د دې سیمې غره ته راتللې او هلته د اخندانو په نوم د دوی د پلرونو څمکې وې او هلته اوسېدل، همدې مدرسې ته به درس ته راتللو لوی رب په ښه استعداد نازولی و د مدرسې استاذانو به د نورو په د زکاوت او اخلاقو ستاینه کوله، یوه ورځ یې کیسه کوله په پاکستان کې مو درسونه ویل طالبانو به کله نا کله د والیبال لوبه کوله زه به نه ورتللام یوه ورځ یوه طالب راته ویل کله چې مور د والیبال لوبې کوو ته ولې نه راځې؟ ما ورته وویل: مورکۍ مې چې کله د کور په کارونو کې ستړې شي او بیا ما ته ښېرا وکړي که زه دلته په درسونو مصروف وم ښېرا یې نه راته قبلیږي او که په توپ وهلو اخته وم ممکن ښېرا یې راته قبوله شي.

همدغه طالب د غزني ولایت، قره باغ ولسوالۍ کې په شهادت ورسېد ورور یې ملا نعیم شا اخند راته ویل: مولوي صاحب یو کال وړاندې یې زمونږ د کور شا ته د غونډۍ په سر د ځان لپاره قبر جوړ کړی و.

پام چې دا غرونه او رغونه په قبرو پوښلي
د ماتو شناختو ته سهار، ماښام سلام کوه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شپږمه بيلګه:

# نن به څوک شهيدانېږي!؟

د سپرلي موسم و، د هېواد غېږ ته د غازيانو کاروانونه راستانه شول او د يوې لويې غزا لپاره يې تابيا نيوله، تکل صاحب وايي:

د چينار ونو څانګو پرېږدئ فاتحې او سلګی
«تـــــکل» ويلو د بلبلو کډې بيـــــرته راځي

همداسې وه د لته د اتلانو کاروانونه سيمې ته رارسېدلي وو او د حق سنګرونه يې تاوده ساتل د دې صف د اتلانو له جملې يو هم د ميدان وردګو ولايت، جغتو ولسوالۍ اوسېدونکي محمد نجيب «ابراهيمي» راته د جهادي سنګر د يوه شهيد لالي د شهادت کيسه داسې شريکه کړه: د همدې ولايت، جغتو ولسوالۍ ته د کابل د ګوډاګی اداره‌ې قطار راروان و، تر څو د خپل ځان د حفاظت په تکل د دوی په اند په سيمه کې امنيتي پوستې فعال کړي په قطار د عملياتو پلان طرحه شو ګڼ مجاهدين د دوی د مقابلې په تکل د دې ولسوالۍ د کمکي ارياب د غره په لور وخوځېدل موږ هم د همدې عملياتو برخوال وو چې شهيد غلام صديق «حماد» په مخابره کې غږ وکړ: ابراهيمي ابراهيمي! اورې، غږ مې ورته وکړ اورم، ويل يې: يو څه ملګري که زموږ خواته اضافه راشي ښه به وي ځکه دلته يو ملګری زخمي ده تر څو هغه انتقال کړي، کله چې هلته ورسېدلو ومو ليدل چې عبدالمالک « اسد » د شهادت جام نوش کړی.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دغه شهید مو راواخیستل لا نیمې لارې ته نه وو رارسېدلي چې لاسي دستګاه (مخابره) کې یو ځل بیا غږ وشو: ابراهیمي! څه ملګري بیا راولېږه قاري صابر هم زخمي شو، موږ همدا شهید تر هوارې راکوز کړ او د بیا لپاره د سنګر په لور روان شوو کله چې ور ورسېدلو وموليدل چې د دې اتل هم د شهادت بخت ختلی تر کور مو راورسولو.
په همدې ورځ مو مازدیګر مهال د شهید قاري صابر جنازه وکړه او سهار مهال د شهید اسد جنازې ته ورغلو د دوی په کلي کې لویه جلسه دائره شوې وه د «حسان» له خوا د انانسرۍ چارې مخته وړل کېدلې او د سیمې مشرانو علماء کرامو د جهاد، شهادت او اتلولیو کسیې کولې د دې شهید د کورنۍ د غیرت شملې دنګې ښکارېدلې هر چا له دې امله ورته د مبارکۍ پیغامونه ورکول چې زوی یې د شهادت معراج ته هسک شوی د مخامخ کېدو په مهال به یې د سترګې مشي سره جوړه د شهید زوی د شهادت مبارکۍ ورته ډالۍ کولې کله چې جنازه وشوه د ستېج انانسر د شهید مرثیه داسې انداز کې ویله چې ناستو کسانو د اوښکو قطارونه د ګریوان انګړ ته بدرګه کول ویل یې: اسد د ۲۲ کالو په مهال د شهادت د کاروان مل شو؛ ابراهیمي ویل: جهادیار مې څنګ ته ناست و ویل یې زه هم (۲۲) کلن یم کاش زه هم په همدې کال د شهادت د لارې لاروی شم.
د دې ورځې په سبا د سرخ قول کلي ته ولاړو او د غره په لور روان شوو «جهادیار» راسره په موټرسیکل سپور و راته ویل یې: ته د دې ملګرو په قطار کې وګوره چې څوک به د دې ډلې څخه شهیدانېږي، کله چې غره ته ورسېدلو باران هم اورېدلی و او په ځینو ځایونو کې لا هم د ژمي واورې پاتې وې شپه مو په همدې لمده ځمکه تېره کړه سهار مهال مو لمنځونه اداء کړل د عربي د کلي څخه خلکو د سهار چای آن د غره



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



څوکې ته راهسک کړ چای مو څښلو بيا يې وويل: په دغه کې به څوک شهيدانيږي؟ ماورته وويل: قاري الهام ويل يې دغه نه شهيد کيږي، ما سوچ وکړ چې ما ډاروي ورته مې وويل: جهادياره! نو څه چې شهيدان شو بيا يې راغبرگه کړه د غره رنگ خراب دی نن ضرور کوم ملگری شهيد کيږي، نور مازديگر شو او لمر خپلې پيڅکې رانغاړلې، بل طرف بيا د آسمان ملائکوو د يوې پاکې روح ورتگ ته د انتظار شپېې شمارلې، جهاديار د غره د سر لور ته هسک شو د ميدان وردگو ولايت د چک ولسوالی د ابکزار د درې اوسېدونکې مجاهد ضياءالحق « حنظله » راته وويل: کله چې نوموړی دغره سر ته راغلو زه دهشکې ته ناست وم او ده راته وويل: له غره څخه د شهيد بوی راځي ضرور څوک په شهادت رسېدلي ما ورته وويل: هېڅوک هم نه دي شهيدان شوي يو دم د هاوان مرمۍ راغله او د ده مخته ولگېدله چې له امله يې په سر کې پارچه بنده شوه دغه راز شا کې يې هم پارچې ننبتې وې، موږ د لاسي دستگا په وسيله ورباندې غږونه کول: جهاديار جهاديار! خو د جهاديار غږ خاموش شو بل ملگري وويل: ابراهيمي صاحب هغه مصروف دی لږ مخته ورغلم چې ملگرو را اخيستی بيا مو د جغتو ولسوالی د لعلکي کلي کې يوه ډاکټر ته يوړلو زه او «صهيب» ورسره وو بېهوښه و، لاس يې لاس کې راکړ او همدې حال کې په شهادت ورسېد.

انالله و انا اليه راجعون

«ابراهيمي» صاحب راته وويل: له دې يو کال وړاندې د ميدان وردگو ولايت، سيداباد ولسوالی د گورگر کلي په غاښې کې زموږ بل کليوال حزب الله د يرغلگرو د ډرون طيارې په بريد کې په شهادت ورسېد، هغه مو د شپې په مهال کور ته راوړلو په لارو کې د دې شهيد بدرگې ته گڼ



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شمېر کسان راغلل او د زیاتو موټرو په ملتیا یې د دې شهید جنازه تر کور بدرګه کړه هغه مهال ماته شهید جهادیار ویل: ابراهیمي کله چې زه شهید شوم د ماخوستن په مهال به مې کور ته وړئ او د جنازې بدرګې ته به مې ګڼ کسان راغواړې همداسې وشول کله مو چې د نوموړي جنازه راوړله د غازي محمد جانخان د کلینیک ساحه کې خلک ولاړ وو او د نوموړي شهید دیدن یې کولو دغه راز چې کله د ورسک بازار ته ورسېدو هلته هم خلک ولاړ وو او د شهید د مخ ننداره یې کوله دغه ټول خلک راسره ملګري شول او د ډېرو خلکو په بدرګه مو تر خپل کوره ورسولو.

شهیده! ستا ګونګي تصویر ته ترسهاره پورې
پټې سلګی به مې وهلې څوک مې نه خبرول



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اوومه بیلګه:

# شال يې ورته په قبر هوار کړ

د سجاد د واده مراسم په يوه نړۍ ارمان او هېلو تر سره شول، د سيمه ايز دود له مخې ورته خپلوانو ډوډۍ کړې وه د واده دريمه شپه وه، سجاد هغه جامې په تن کړې وې چې د ملالې له لوري ورته په مينه مينه او نازکو ګوتو په خامک جوړې وې؛ د مخابرې په څپو غږ وشو سجاد، سجاد! نوموړي ورته جواب ورکړ، هو اورم، ويل يې پنځم نمبر ته شه! کله چې نمبر ته شو ورته وويل شول د يرغلګرو د اکمالاتو لوی قطار راروان دی او عمليات ترتيب دي، سمدلاسه يې چانته تر ملا او توپک غاړې ته کړ؛ نازنينې ليلی چې د سجاد په کور کې يې ايله دری ورځې تېرې وې ورغږ کړ چېرته ځې! سجاد ورته وايي زه راځم يو ځل له ملګرو سره ګورم خدای پاماني يې ورسره وکړه او تر ډېره يې د کوټې تر کړکۍ څارلو د سجاد موټرسيکل نور په سترګو نه ښکارېدلو ملالې يې تر ډېره د موټرسيکل دوړې څارلې او د غازي لالې د ليدو مينه يې ورباندې ماتوله؛ د سجاد مورکۍ ورباندې غږ وکړ د مخ ليدلو ته مو له کلي زنانه راغلي، نازنينه ليلی ولاړه او د کلي له ښځو سره ناسته وه.

سجاد د عملياتو ساحې ته ورسېد په دښمن مرګوني ګوزارونه پيل شول، جنګ ډېر شديد شو، که يو طرف ګرم جنګ و، بل طرف بيا د غازي آشنا به زړه کې ملاله ورګرځېدله او په صحنه کې به د ملالې يادونو يوړلو بل طرف بيا د نازنينې ليلی زړګی هم له غازي آشنا سره و، او د مخ



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ښکارولو په مجلس کې به د غازي جانان یادونو یوړه او په همد ې انتظار بې شیبې بدرګه کولې چې اوس به راشي او په ګډه به د خپلوانو کره د مهمانۍ په تکل شو، دومره موقع هم نه وه چې نازنینه لیلی د موبایل په لیکه د غازي اشنا حال معلوم کړي، جنګ ان یو ساعت دوام وکړ، د دښمن له لوري مرمۍ راغله او سجاد په سینه ولګېد.

انالله و اناالیه راجعون

دغه عملیات د دریو مرترو په سوځولو او د تېلو د (۲) ټانکرو په غنیمت کولو سره پای ته ورسېدل، ملګري راټولېدل او د سجاد غږونه یې وکړل، د نوموړي غږ خاموش و، کله چې هغه ځای وکتلو چېرته چې سجاد د عملیاتو پرمهال کمین نیولی و، ومو لیدل چې سجاد د پاڼ ترځنګ پروت او د شهادت ویاړ ورپه برخه شوی ملګري د دې شهید په لیدلو سره په سلګو شول، ځکه یوازې درې شیبې وړاندې یې ملګرو او ده دخوښۍ مراسم لمانځلي وو، نو حیران وو چې اوس به ځنګه نوموړی شهید تر کوره رسوو، بلآخره شهید یې را واخیست د کلي مسجد ته یې یوړلو.

د سجاد پلار یې را وغوښتلو؟ چې را ورسېدلو د شهادت مبارکي یې ورکړه، او د کور په طرف روان شو تر څو یې مورکۍ هم راخبره کړي، کله چې هغه راغله نو د سجاد یوې نرۍ آرمانونو ته یې له سترګو او ښکې روانې شوې، پدې وخت کې ناوکۍ هم خبره شوه په سلګو یې پیل وکړ او خپلې د واده ګانې یې لېرې کړې، خپل نازنین شال یې د سجاد په تابوت هوار کړ، دغه کومه افسانه نه وه بلکه د میدان وردګو ولایت سیدآباد ولسوالۍ د یو اتل غازي داستان دی چې تر شا یې یوه نرۍ هیلې او آرمانونه پرېښودل.

په شهادت یې لالی ښکل کړ،
سر ته یې تک ورکړ تنها د پرېښودمه!



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اتمه بیلګه:

# کور کې مو اوره خلاص وو

د میدان وردګو ولایت د اتل غازي شهید رسول جان «عباس» چې د همدې ولایت سیداباد ولسوالی د سلطان خېلو کلي اوسېدونکی و، او د تکړه غازي ملا محمد فرید «قیام» تر مشرۍ لاندې یې رسمي ګروپ و، نوموړي په یرغلګرو ګڼ عملیات تر سره کړل دغه اتل مجاهد د ۱۳۹۳ هـ ش کال د سرطان په ۱۵مه نېټه د سلطان خېلو کلي کې د یرغلګرو له لوري د ډرون په ناځوانمردانه برید کې په شهادت ورسېد.

د همدې اتل شهید ملګري عبدالمالک «وردګ» ولد علی محمد د همدې ولسوالی د باغک کلي اوسېدونکي راته د دې تللي اتل خاطره په دې ټکو بیان کړه:

شهید «عباس» له کوره تنها و، مور پلار، ورونه او نږدې سکني څوک یې نه وو، بچیان یې هم نه وو یوازې یو ماشوم بچی یې پیدا شوی و، نورې یې تولې لورانې وې او نور څوک یې نه لرل، ان خپل کلي کې یې هم د هجرت شپې سبا کولې او بل کور کې اوسېدلو، نوموړی مجاهد به آن تر دوو میاشتو هم خپل کور ته نه شو تللی ځکه هلته په امریکايي یرغلګرو یو ځل استشهادي عملیات تر سره شول او تر (۳۵) پورې امریکایان په کې وژل شوي وو، دغه عملیات د شهید «عباس» له لوري ترتیب شوي وو ځکه نوموړی ډېر افشا شو او امریکایانو کارتونه پسې تیت کړل.

یوه ورځ یې د کور په طرف د تللو تکل وکړ موږ هم ورسره ولاړو تر څو



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مشکل ورته جوړ نه شي د دوی کورته د غرمې په ۱۲ بجو ورسېدلو، موږ د دوی د کور مخته مسجد کې دمه شولو او نوموړی کور ته د ننه شولو موږ ته یوه کلیوال مړی راوړه چې «عباس» هم مسجد ته داسې مهال را دننه شولو چې په څهره کې یې د خفگان نښې له ورایه ښکارېدلې او تر شا یې ماشومې لورکۍ په لمن ټینگ لاسونه نیولي و، د مسجد په دروازه کې ودېدلو ویل یې: تاسو ته خو ښه ده ډوډی راوړل شوې ده، موږ ورته وویل: راځه مړی وخوره دی زړه نازړه و بلاخره راغلو او مړی یې ته کېناستلو، ماشومې لورکۍ یې داسې مړی خوړله تا به ویل له ډېره وخته وږې ده، موږ ترې پوښتنه وکړه ولې داسې خپه یې؟ ویل یې: دا یوه هفته کېږي چې کور کې مو اوړه خلاص وو بچیانو مې شفتله خوړله او په هغې یې گوزاره کوله.

موږ څه په خوارۍ کې جهاد وپاله
مـــوږ په بې وسی کې جهاد وپاله



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نهمه بېلګه:

# داسې وخت به راشي!

په هېواد کې هره شپه د اشغالګر دښمن له لوري شپني عملیات کېدل، د ماخوستن له لمانځه وروسته به ملګري مخابرې ته غوږ وو تر څو د اشغالګر دښمن د عملیاتو لوری معلوم کړي، دغه سخت امتحاني دور و امتحانونه تلل کېدل، ۱۳۹۷ هـ ش کال و د عقرب په ۱٦ نېټه مو مدرسه (ضیاءالعلوم) هم د یرغلګرو له لوري د شپنی چاپې په مهال په کنډوالو بدله او پنځه طالبان په کې په شهادت ورسېدل، د مدرسې په ړنګو کنډوالو کې مو بیا درسونه پیل کړل د شپې په مهال به مو طالبان د باریکاب درې د بابرو کلي زاړه مسجد ته بېول تر څو هماله شپه وکړي موږ به کله په یو او کله بیا په بل مسجد کې شپه سبا کوله، د شپې به مو مخابرو ته غوږ نیولی و ارمان به مو دا و چې داسې شپه به راشي چې مخابره بنده کړو او موږ ویده شو.

یوه ورځ مازدیګر مهال په مدرسه کې ناست وم چې یو مجاهد راغلو راته ویل یې: مولوي صاحب راځه نن د علاقې کلي ته لاړ شو هغه یو څه آرام ځای دی همدلته لاړو کله مو چې ماخستن لمونځ په جماعت اداء کړ کلیوال لاړل او موږ مسجد کې پاتې شولو لږ وخت وروسته مخابره کې غږ وشو، ویل یې: طیارې یې درپورته کړې، وروسته یې آن د باریکاب درې ته دورې راورسېدلې موږ د مسجد څخه بهر شولو او د غونډۍ په سر کور ته لاړو راسره ملګري ویل دغه مې د ترور کور دی د



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دروازې مخته یې مهمانخانه وه کله چې دهلېز ته د ننه شولو د کوټې مخته دوه جوړه زنانه بوټ ایښي وو. موږ همدلته ودرېدلو تر څو د دښمن لورى معلوم کړو آن تر نیم ساعت پورې ولاړ وو او د مخابرې له لورې مو د چاپې لورى معلومولو، وروسته ملګرو وویل: د آدینه په کلي چاپه ده. دواړو خویندو ور خلاص کړ او ویل یې موږ کور ته څو راشئ دلته کوټه کې ویده شئ یخ دى، موږ د ننه شولو هلته مو د دوى ځایونه ولیدل چې همداسې هوار وو دغه صحنې سخت تاثیر راباندې وکړ او د کوټې یوې خوا ته په خپل څادر کې دمه شوم.

آزادي چـا پـه خیـرات راکـړې نـه ده
آزادي مــــو د سرو وینـــــو ثمــــره ده
آزادى تـه مـو هـزار سرونـه څـار کـړل
آزادي مــــو نــــازولې مېلمنـــــه ده
*(ملا عاکف امارتي)*



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لسمه بېلګه:

# کاش هغه نور هلکان هم وای!

د یرغلګرو په وړاندې سپېڅلي جهاد کې داسې تاندې ځوانې د شهادت له کاروان سره مل شوې چې نه تنها د خپلې کورنۍ بلکه اسلامي نړۍ سترګې د دوی په لور راکړې وې، دوی کامیاب شول خو کورونو یې بیا اوس هم د دوی یادونه تاند ساتلي د میدان وردګو ولایت، نرخ ولسوالۍ د بازیخېلو د کلي اوسېدونکي مجاهد براهیم «ملنګ» راته د ژوند تر ټول ترخه او دردمنه خاطره داسې بیان کړه:

زموږ دوه ورونه (قاري رحمت الله «حنظله» طالب العلم تازه ګل «ابراهیم») مجاهدین وو دوی به تل د هېواد د ازادۍ په لار کې مبارزه کوله په دې لړ کې دوی آن تر (۷) کلونو پورې له خپل کور د باندې د هجرت شپې سبا کولې، قاري رحمت الله «حنظله» د دې ولایت، نرخ ولسوالۍ د عمرخېلو په کلي کې د شپنۍ چاپې په مهال د یرغلګرو له لوري د مخامخ جګړې په مهال د ډرون له لوري په شهادت ورسېد.

انا لله و انا الیه راجعون

لا د نوموړي شهید د فاتحې مراسم نه وو خلاص چې د دغه ولایت د سیداباد ولسوالۍ د تنګي درې لور ته د صفریک وحشي ځواکونو قوه روانه وه دوی د باداءم ساحه کې ورته ماینونه خښ کړل، دغه وحشي



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خواکونه پرماین ونه ختل، دوی ورغلل تر خو ماینونه بېرته خلاص کړي د تقدیر فیصله وه خپل ماین پرې انفجار شو او په شهادت ورسېد.
د دواړو ورونو د جنازو او د کلي په هدیره کې د دفن کولو اجازه نه راکول کېده بلاخره مو په ډېرو زاریو د نرخ ولسوالی څخه اجازه تر لاسه کړه.
کله چې لوی رب په فتحه ونازولو زموږ کور ته گڼ مجاهدین راغلل، د غرمې ډوډۍ مو ورته برابره کړه پلار او د کور ټول وګړي خوښ ښکارېدل څکه د شهیدانو ارمانونه پوره او وینو یې رنګ راوړ؛ که یو طرف خوشحالي وه بل طرف بیا د تللو اتلانو یادونه تاند وو دوی هر یو مو سترګو ته درېدلی و، پلار مې د باندې راووتلو د کور مخته برنډه باندې ناست وو کله چې ورنږدې شوم له سترګو یې اوښکې روانې وې او ویل یې زویکیه! کاش اوس هغه نور هلکان هم ژوندي وای! څومره به خوشحال وای. پلار مې همدې سوچونو کې و، یو طرف خوشحالي وه بل طرف یې بیا د زامنو فراق په زړګي حمله وکړه او راپرېوتلو کله مو چې شفاخانې ته یوړو هلته وفات شو، ډاکترانو ویل: د زړه حمله پرې راغلې ده.
«ابراهیم» راته وویل: دغه مې د ژوند تر ټول ترخه خاطره ده.

د ګل په شوق مو تر اوږو څنې اوږدې پرېښې وې
خـــو زموږ سر تر پســــــــرلي پورې ونه رسېدو

*(محمد علیم بسمل)*



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يوولسمه بيلګه:

# د واده بستره هواره وه

د تېر شل کلن اشغال په مهال د هېواد غازي او اتلو پرګنو د قرباني ګڼ داستانونه د تاريخ پاڼو ته وسپارل، دلته غازيان تنها نه وو بلکه تر څنګ يې مجاهد اولسونه ولاړ وو د ميدان وردګو امنيه قوماندان الحاج شيخ الحديث محمد شريف «حليمي» په دې لړ کې خپله خاطره داسې شريکه کړه:

۱۳۹۰ هـ ش کال و، د ژمي د را رسېدلو له امله ګڼو ملګرو د هجرت لار خپله کړه او موږ څو کسان په سيمه کې پاتې وو، کله چې د سيمې په هسکو غرونو او ميرو واورو خپل سپين څادر خور کړ مکار دښمن شپني عمليات پيل کړل داسې شپه به نه وه چې د دغو عملياتو شاهدان به نه وو په همدې ژمي کې يې د ميدان وردګو ولايت، جغتو ولسوالۍ کې د شپنۍ چاپې په لړ کې زموږ ملګرى مولوي ولي مرجان «فياض» چې اوسمهال د جغتو ولسوالۍ امنيه قوماندان دى ونيولو همدارنګه قوماندان محمد جان يې هم ونيولو؛ فضا به هېڅ څارګرو الوتکو نه پرېښودله يوه شپه په خپل کلي (سبزسنګ) کې وم د ماخستن له لمانځه وروسته له کور څخه روان شوم څکه طيارې زياتې ګرځېدلې زموږ د يوه کليوال کور ته ورغلم کله مې چې دروازه ور ټک ټک کړ، د دې کور هغه ځوان راووتلو چې دوه مياشتې وړاندې يې واده راوړى و، راته ويل يې: مولوي صاحب راځه کور ته، پسې روان شوم کور کې يې خپلې کوټې ته بوتلم هلته يې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د واده نوې بستره هواره وه ویل یې همدلته ویده شه! ما ورته وویل: دلته نه ویده کېږم خو دغه ځوان وویل: خامخا به همدې بستره کې ویده کېږې ورسره مې ومنله کله چې دغه ځوان له کوټې بهر شو په خپل څادر کې مې ځان وپېچلو او دمه شوم.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لسمه بېلګه:

# موږ به لاسونه پرې کړو

د میدان وردګو ولایت، سیداباد ولسوالی د تنګي درې اوسیدونکي د ملا خیلو کلي اوسیدونکی مجاهد عصمت الله «زرقاوي» چې د اشغال پر مهال یې د (۰۱) ځواکونو ته ماینونه ایښودل، خپل مین پرې انفجار وکړ، د دې اتل دواړه لاس او سترګې له منځه لاړې، زرقاوي راته ویل: د حج د فریضې اداء کولو په تکل حرمینو ته لاړم د مدینې منورې په حرم کې کیناسیم چې یوه کبوتره راغله او په سر مې کیناستله، نوموړي ویل: کله چې د شیطانانو د ویشتلو په تکل روان شوم هلته زیات ازدحام و، د سعودي عسکر راغلل زما یوه او بله خوا یې بنده کړه او زموږ ملګري زما پرې شوي لاسونه په لاس کې نیول او شیطانان مو پرې ویشتل.
زرقاوي ویل: یوه ورځ کور کې ناست وم چې زامنو مې کورواله ته ویل: مورې! زه او دغه وروږ به یو یو لاس را پرې کړو او اغا ته به یې ورکړو، تر څو د هغه هم لاسونه پیدا شي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*دیارلسمه بېلګه:*

**مهمانخانې ته نه شم د ننه کېدلای!**

د اختر ورځ وه، د شهیدانو په کورونو ګرځېدلو، د میدان وردګو ولایت، جغتو ولسوالۍ د چوپان کلي د شیرزمان آکا کور ته ورغلو، د مهمانخانې په دهلیز کې پښې ونیولې ورته ویل مې کاکا مخته شه!
ویل یې: مولوي صاحب کله مې چې یرغلګرو په همدې حجره کې څلور زامن په شهادت ورسول، له هغې وروسته دې حجرې ته نه شم د ننه کېدلای، بچیان مې راته یادېږي، په دهلیز کې یې د ځان لپاره ځای جوړ کړی و، تر لاس مې ونیو، کله چې مهمانخانې ته د ننه شولو، د حجرې مینځ کې پرده زړونده وه، فکر مې وکړ ممکن دلته د کور سامان ایښی وي، پوښتنه مې ترې وکړه، کاکا دغه پرده د څه ده؟ ویل یې مولوي صاحب! دلته مې د زامنو عکسونه په یوه پرده چاپ او په دیوال ځوړند دي، زه یې په لیدل بیهوشه کېږم څکه مې دا پرده د دوی مخته زوړنده کړې ده، پرده مې پورته کړه چې د څیناري ځوانانو عکسونه او د شهادت نېټې پرې لیکلې وې، شا ته مې را وکتل چې سپین ږیری بابا د کوټې مینځ کې پروت او بیهوشه و.
شیر زمان آکا راته ویل: یوه ورځ د خپلې خوسرګنۍ کره روان وم، په لار کې له یوه کلي تېرېدم هلته زنانه په ګودر ناستې وې او اوبه یې وړلې، زه په ځان نه وم پوه، له ځان سره مې خبرې کړې وې او لاسونه مې خوځول؛ دغه ورځ تېره شوه، سبا چې بیا په همدې لار راغلم، په ګودر بیا زنانه ناستې وې، منډې یې کړل او ویل یې: لیونی بیا راغلو، د دې صحنې په



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لیدو مې بې اختیاره اوښکې له سترګو رواني شوې!
د شیرزمان آکا څلور زامن په یوه ورځ د یرغلګرو په چاپه کې په شهادت ورسیدل کیسه یې په اول جلد کې شته ده.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*څوارلسمه بیلگه:*

# آه! مسافره زویه..!

د پکتیا ولایت د مرکز اوسیدونکي قاري ساجد «تکل» راته ویل:
د فتحې ښځه مخکې د پکتیا احمدآبا ولسوالی د زخمیانو مسؤل وم، او څو کاله پر همدې مسؤلیت پاتې شوم.
همدې موده کې مې د سترگو په وړاندې داسې دردونه تېر شول چې کله به مې هېر نه شي!
۱۴۴۱ هجري قمري کال ؤ، په هېواد د اشغال تور کرغېړن څادر خور و، هرې خواته د بشر دښمنانو چاپې او بمبارۍ کولې، هر ولایت او ولسوالی کې کونډې یتیمان کېدل، هرځای د سرو لاسونو ناوکۍ ژړېدلې.
دې حالاتو د مجاهدینو جذبې را ژوندۍ کړې د هیواد زلمو د طاغوت پر وړاندې گړندي گامونه واخیستل، د زنگ شویو ټوپکونو سره د غزا میدانونو ته را ووتل، د سترې کفري نړۍ په وړاندې، او د خپلو هیوادوالو دفاع ته لکه سندان کلک شول، هڅه یې کوله ترڅو په هیواد کې ظالمان مات کړي، د رب نصرتونه ورسره مل شول، د نصرتونو او رحمتونو باران پرې شروع شوو، هرې خواته فتوحات پیل شول ورځ تر بلې د جابر دوښمن د کبر کاسه د نسکورېدلوپه حال کې وه.
یوه ورځ زموږ د پکتیا ولایت والي صاحب د مرکز گردیز، سیدکرم، احمدآبا پر مجاهدینو د تندریزو عملیاتو غږ وکړ، په مخابره کې درونډ او هیبتي غږ شو، دا غږ د ستر جهادي قومندان مولوي حمزه و، ویل یې:



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دښمن مورال بايللی دی، کړی پرې تنګه او بيګا ته عمليات وکړئ..!
زموږ د ولسوالۍ ډلګۍ مشران او نظامي ولسوال يو ځړ مسجد کې د پلان په ترتيبولو لګيا شول او د لنډ مجلس وروسته د پکتيا ولايت مچلغو سيمه د عملياتو لپاره انتخاب شوه ځکه دا داسې سيمه وه چې فتحه شي، د څو ولسواليو مجاهدين بغير له کوم تکليف او مشکل تګ راتګ، او سره وصل کيدلای شي.
مازيګر ناوخته څو دنګ زلمي لګيا شول، خپلې زنګ وهلې اسلحې يې پاکولې ، بيا يې سترګې تورولې، ښايسته څنې يې ږمنځولې، تا به ويل د جنت حورو ته ځانونه سينګاروي!
ماښام مخابره کې غږ وشو چې تاکلي ځای ته ملګري ورسوئ، د څو دقيقو روسته نرۍ دوړې په خام سړک پورته کېدلې، او د ټپ ټپ (غره هاري) د خړپړ کلي خاموشي په خوځښت بدله کړه، تابه ويل ځمکه طالب جان ته خنداګانې او سلامي کوي، او خوښه ده چې د نن عصر نړۍ وال اتل پرې ګزمه او سرښندنې کوي.
تاکلي ځای کې د هرې دلګۍ دوه دوه ښايسته زلمي د تعروضيانو په قطار کې ودرېدل، مسؤل ور معلوم، ليزريان يې منتخب او د ګرنيټونو وال مجهز ودريدل.
دمخونو څخه يې سپينې شغلې را وتلې، د هر يوه د سرو شونډو منځ کې سپين غاښونه لکه سپينه پرقېدلې توره ځليدل، کرار غونډې مسکاوې يې کولې.
دوی مو روخصت کړل، پاتې ملګري د کمين خواته روان شول.
ټول غلي او غوږ نيولي ناست ؤ چې يودم د مخابرې لوډسپيکر څخه د تکبير ملکوتي چيغه اوچته او د څو پوستو پر برجونو اټاورو سرې لمبې بلې شوې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دودونه د آسمان لور ته ختل، زلمي لګيا ۋ د اورونو/ مرميو سره يې لوبې کولې، هر عاشق هڅه کوله ترڅو ژر د شهادت جام لکه تږی جل وهلی مسافر په سر واړوي او خپل نذرونه پوره کړي.

څه وخت وروسته وروسته همدا ملنګ زلمکي لوی رب په ستره بريا ونازول.

د اوږده څنډ وروسته د فتحې خوشحالي د بنګنو غږ خاموشه کړه، په ملګرو مو د احتياط نارې او غږونه کول.

څو دقيقې نه وې تيرې چې د تعروض په ملګرو سخت بمبارد شروع شو، لا د يرغلګرو د بمبارد لوګي نه وو ورک چې غږ وشو زرکړئ ملګري ولګېدل در يې وړئ!

بنګنې لېږ آرامې شوې، د هدف ځای ته مو څو موټران ور روان کړل، چې پنځلس ګلونه ملګري زخميان دي، او يو تکړه جيد عالم د تعروضيانو مسؤل مولوي ابودجانه شهيد شوی دی.

د زخمي ملګرو سلګی په بيديا کې کانو او بوټو راسره بدرګه کولې، دوی مو د کلي جماعت ته راوړل او وروسته مو روغتونه يوړل.

لا د زخمي ملګرو د تداوی نه وم فارغ چې مخابره کې غږ وشو، ساجده! ساجده! اورې؟

ـ غږ مې ورته وکړ: هو اورم

ـ ويل يې: موږ سره ستا مربوط کسان دي چيرته يې در وړو؟

ورته ويل مې: در کښته کيږم، لږ انتظا شئ!

د ټپ ټپ /موټرسيکل لنډ مزل روسته مې پر داتسن موټر سترګې ولګيدلې، چې ورنيږدې شوم له بادی څخه څاڅکی څاڅکی وينې روانې وې او دوه تنکي شهيدان پکې پراته دي.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



– موټروان ته مې وویل: وروره دوی څوک دي او چیرته شهیدان دي؟
موټروان وویل: د دوی د شهادت نن نهمه ورځ ده، دوی د کړکین جنګ کې درون ویشتلي ؤ، او د غره یوه څنډه کې پاتې ؤ. طبعاً ده چې انسان خرابیږي، خو دوی داسې وو، تابه ویل اوس شهیدان شوي دي تازه وینه ترې روانه وه.
ژر ژر مو را کښته کړل، د مسجد برنډه کې مو کېښودل او تابوتونه مو ورته پیدا کړل.
خو زه دې سوچ کې وم چې اوس دوی د کوم ځای دي او د چا ملګري دي. په دې ورځ سخته بنګنه ګرځیدله. له مجبورۍ مې موبایل چالان کړ، ځکه غوښتل مې چې د دوی معلومات وکړم.
د څو رابطو روسته پته راته ولږیده چې یو د زرمت ولسوالۍ قاري نعمت الله او بل یې د بدردین ملګری ده.
ځان سره مې وویل چې که دوی اوس زرمت ته ولیږو، د لارو مشکلات او هرځای تالاشیانې دي، او سخته لا داده چې د زرمت هم ټولې لارې له ماینونو ډکې دي، هسې نه کورنۍ، خپل خپلوان یې را روان شي او موټر یې د ماین ښکار شي.
خو د منطقې ډلګۍ مشرانو سره مو هم مشوره وکړه، هغوی وویل باید دلته دفن کړل شي، بیا مې هم زړۀ قرار ونه موند را پورته شوم د زرمت څو ډلګۍ مشرانو سره مو هم رابطه وکړه؛ هغوی هم وویل چې دغلته یې کومه هدیره کې دفن او خاورو ته وسپارئ، زموږ لخوا درته اجازه ده، د کورنۍ مسؤلیت یې زموږ پر غاړه دی، خدای دې تاسو خوشحاله لري.
ما هم همداسې وکړل، قبرونه مو ووهل، تابوتونو کې مو کېښودل، مسافر شهیدان مو د هدیرې خواته روان کړل، مشرانو یې د جنازو کټونه نیولي وو او ویل یې د دوی که نن کورنۍ خپل خپلوان، قریبان نشته موږ یې



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خپلوان یو، او تر قبر پورې یې وړو.
قبر ته مو تیټ کړل، او په مسافرو زلمو مو خاورې واړولې.
یوه نیمه میاشت وروسته د یوه نمبر څخه زنګ راغلو، السلام علیکم...
څخه وروسته پوښتنه هم خلاصه شوه، او ویې ویل: تاسو قاري ساجد یاستئ؟ ومې ویل: هو هغه یم، ټلیفون کونکي وویل: موږ د دفن شویو شهیدانو وارثان یو، یو ځل راسره ووینه، او قبرونه یې راته وښیه...!
خوشحاله شوم ژر مې موټرسیکل روان کړ او لارې ته ووتلم دوی راورسیدل زما موټرسیکل د مخه روان او د دوی دوه موټره د شا راپسې روان شول، هدیرې ته ورسیدو، زه د موټر سیکل څخه کښته شوم او په لاس مې د قبرونو خواته إشاره وکړه، دې وخت کې د موټرو دروازې خلاصې شوې، ورڅخه څو زنانه را کښته شوې او چیغې یې شروع کړې.
په قبرونو د پاسه پرېوتلې، آه مسافره زویه، آه زلمی زویه، زما نازولې زویه، ورکه زویه دومره یې وژړل چې نور یې موږ هم بې اختیاره په ژړاکړو.
دوی ژړل مامې سترګې پاکې او سلګی مې کنترول کړې د موټروان څخه مې وپوښتل: دوی د شهیدانو څه دي؟
هغه ویل: دلته د شهید مور، ښځه او خویندې راغلې دي.
لا هم هدیره کې وم چې یوه زړه ښځه راغله، زما نوم یې واخیست او ویل یې:
زویه تا ماسره ښه ونکړل چې زما د اجازې پرته دې زما بچی خاورو ته سپارلی دی، څکه دوه کاله کیږي ما مې د زړه ټوټه نه و لیدلی ان تر دې چې راڅخه شهید شو.ما کښته سر ځوړند کړ، د شهید زړه مورکۍ لګیا وه او سلګیو کې یې خبرې راته کولې، کله به چې یې د زوی کومه خاطره یادوله، د سلګیو پر ځای به یې دردونکې سوې چیغې وکړې، ویل: زویه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



زه يې اوس په ناوې ښځه وکړم، زه يې اوس ماشوم زوی کوم در او درگاه ته يوسم!

اخر يې راته وويل: زويه مورِ د لرې خای يو، يوه وعده راسره وکړه چې هرځل او هر وخت د دې مسافرو قبرونو ته راځه.

د شهيد خورکۍ، ناوکۍ او مورکۍ په قبرونو پرتې وې او سلګۍ يې بدرګه کولې، سړيو په زور راپورته او موټر ته يې هسکې کړې، کله يې چې مور موټر ته ختله پر ما يې غږ وکړ: زويه پرتا مو سپارلي دي، ګوره چې په قبرونو يې پام وکړې، دلته يې پلار هم يې، مور يې هم يې هرځه يې ته يې!

دوی روان شول، مورِ د دوی په موټرو پسې تر ډيره کتل او أوښکې مو پاکولې.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# د ليکوال پېژندنه

مولوي ضياءالحق «حسان» د مدير سيد رحيم زوی او د ارواښاد شېرمحمد خان لمسی چې له نن څخه یې یودېرش پسرلي وړاندې په ۱۳۷۱ کال د لړم میاشتې ۲ مه نېټه د میدان وردگو ولایت، جغتو ولسوالی سبزسنگ کلي په یوه دینداره او علمي کورنۍ کې زېږېدلی دی.
کله یې چې ژبې توري وغړول؛ د همدې کلي اړوند د حضرت عمر فاروق(رض) ابتدائیه ښوونځي کې یې تر دریم ټولگي د خپلو زده کړو بهیر ته ادامه ورکړه، لدې وروسته یې دیني زده کړو ته مخه کړه د طالبانو د تېر تحریک پر مهال یې د پکتیکا ولایت اړوند مرکزي مدرسې او یحیی خېلو ولسوالی د روضة العلوم، د میدان وردگو ولایت، جغتو ولسوالی اړوند د خواجه آب او بلند خېلو مدرسو کې زده کړې کړې.
په هېواد له امریکایي ښکېلاک وروسته یې له هېواد څخه بهر د خیبر پښتونخوا د میرامشاه په بحرالعلوم، د کورمې ایجنسي د اوچت کلي او د دوړړی په مدرسه کې کتابونه تر تکمیلې درجې ولوستل.
د موقوف علیه (وړې دورې) لپاره د پاکستان، ضلع هنگو د نریاب منهاج العلوم مدرسې په لور ولاړ، او هلته یې د هېواد د نومیالي عالم شیخ الحدیث معلم جان «حنفي» څخه نوموړې دوره بشپړه کړه.
د دستار ولونه په ۱۳۸۷ کال کې ورته د هېواد وتلي دیني عالم شیخ الحدیث مرحوم مولانا عبدالستارجان الکابلي رحمه الله ور په سر کړې دي.
د زده کړو تر بشپړولو وروسته یې د میدان وردگو ولایت جغتو ولسوالی



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اړوند د کمکي ارياب کلي ضياءالعلوم مدرسې اداري او تدريسي چارې په غاړه واخيستې، د زده کړو د ښه کيفيت تر څنګ يې د نوموړې علمي مرکز تعمير هم لوی کړ، خو کله چې د دې ولسوالۍ انګړ د اشغالګرو د اډې کوربه شو نور نوموړي نه شو کولای چې په ياد علمي مرکز کې د تدريس چارې پر مخ يوسي ځکه خو يې د دې مدرسې په ځای د باريکاب ښايسته درې ته مخه کړه او هلته يې د ضياءالعلوم په مدرسه کې خپل خدمت ته ادامه ورکړه.

د سيمې د تکړه غازي شهيد قاري عبدالرازق «مجاهد» تر مشرۍ لاندې د تورې او قلم مجاهد پاتې شوی دی، په ۱۳۹۲ کال کې د رهبرۍ له لوري د همدې سيمې د دعوت، ارشاد جلب اوجذب مسؤل او دوه کاله د ولسوالۍ وياند پاتې شوی دی، تر فتحې وروسته د ميدان وردګو ولايت د مقام وياند او دوه کاله د ميدان وردګو ولايت امنيه قوماندانۍ د دعوت او ارشاد د څانګې مديريت ورله غاړې و چې په خورا ښه ډول يې انجام کړ او اوسمهال د پکتيکا ولايت امنيه قوماندانۍ د دعوت او ارشاد د مدير په حيث خدمت کوي .

حسان ليکوال دی، ګڼې مقالې يې د وخت په رسنيو لکه نن ټکی اسيا، کابل ټکی کام، عزم او الاماره ويبپاڼو کې خپرې شوې دي، نوموړی له خوږې ژبې هم برخمن دی، لوی رب د قلم تر څنګ د وينا نعمت هم پرې لورولی تر دې چې د سيمې د اکثرو جلسو د انانسرۍ چارې هم ده ته ورله غاړې وې.

په پای کې سوال کوم چې نوموړي ته لوی رب اوږد ژوند ورکړي، قلم يې لا نور هم تاند شه.

مينه او درنښت

انجنير حبيب الرحمن «رحيمي»- کابل



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# د (چاپې سهار) په اړه په سوشل مېډيا کې د فعال مبارزينو تأثرات

**قاري عبدالستار سعيد:**

د يرغل او جهاد دتاريخ خوندي کولو يوه بله هڅه ليکوال يې په ډير مهارت توانېدلی چې څرنګه پيښې له خپل ټول آب وتاب سره راواخلي او د لوستونکي د سترګو په وړاندې يې کېږدي. د ليکوالی کمال همدا وي چې ليکوال د لوستونکي عواطفو ته لاره ورکړي او هغه په خپلو احساساتو کې شريک کړي.

**مولوي ميرزا محمد شکيب:**

ويل يې د کاڼي زړه غواړي د ښاغلي حسان کتاب د چاپې سهار مې نن لاسته راغی په ګوتو او قلم يې برکت شه.

**داد محمد ناوک:**

د دې کتاب نو م خوند راکړ؛ که څه هم په دولتي کچه د تېرې بې جوړې مبارزې د خوندي کولو لپاره کوم اقدام نه تر سترګو کيږي خو دا اثر (د چاپې سهار) د جاويد افغان صاحب کتاب د مهاجر فراهي صاحب خاطرې... دا ډول فردي هڅې هم موږ ته په سرو زرو منظور دي، دا زموږ



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



وياړلې تاريخ دی چې وياړ پرې د هر مسلمان حق دی.

**هدايت الله هدايت:**

د قدرمن ليکوال مولوي ضياءالحق حسان څخه نړۍ مننه چې خپل ليکل شوی د چاپې سهار کتاب يې راته ډالۍ کړ په نني وخت کې دا دومره لوی خدمت دی چې زه يې ساری نه وينم که زموږ ليکوالان ملګري د حسان په څېر هڅه وکړي له راتلونکو نسلونو به اتل او غلام ورک نه شي دوی به بيا کوم قاتل ته د اتل لقب نه ورکوي د امارت له مشرانو او لوستونکو مو هيله داده چې داسې ليکوالان وستايل شي ونازول شي لانور تشويق شي کتاب له درد او کړاوونو ډک دی لوستل يې تللي اتلان او د ولس قرباني در يادوي ضرور يې تر لاسه کړئ او ويې لولئ.

**ابوبکر خپلواک:**

حسان مولوي صاحب لوی کار وکړ د چاپې سهار د غليم د ناولي کردار واضح تاثير دی ليکوال ليکل د يوه ژوندي احساس او پاک نيت پربنا کړي څکه د کتاب لوست د ځوان فکر ته د غلامانو د اصل انځور په ور تلقين کې کامياب او ممتاز دی الحمد لله په ډير کم وخت کې يې ښه رول پيدا کړ په کتاب خونو کې يې نوم بيا بيا ياديږي ځيني يې په لوست بوخت دي او ځينې نور بيا ورته تلوسه لري، ياد کتاب په خپل ذات کې تقريباً يوازنی دی د مطبوعاتو په روان شور ماشور کې يو ځوان ته د سيخې او سيده لارې آدرس ښودل ډېره لويه خواني او په افغان ځوان کهول باندې ستر شفقت دی د چاپې سهار خپله هم ولولئ ملګرو ته يې هم ډالۍ کړئ او نور يې هم لوست ته را وبولئ.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**ملا عاکف امارتي:**

د شپې ورستی برخه کې به درانه د بمبارد غږونه واورېدل شول د تيارو قهرجنو آوازونو به فضا واخيسته له څه اندازې شور ماشور وروسته به آرامه آرامي شوله همدا دچاپې سهار و، هغه څه چې پدې سهار به خلکو ليدل هغه ټول په خپلو کمالدارو ګوتو پدې کتاب کې حسان صاحب ليکلي په اوښلنو ستر ګو مې ياد کتاب تر اخره ولوست.

**احمد:**

د چاپې سهار د بنګنو شور ماشور د کلاګانو کنډواله کېدل مور بوره کېدل او بې ګناه کسان تر کرغېړنو جيلونو رسول په مظلومو افغانانو د وينو په سېلاب سره د چاپې پای ته رسېدل دا هغه څه دي چې دې کتاب کې شته دي.

**ابودجانه «اخندزاده»:**

د «چاپې سهار» هغه کتاب دی چې د شل کلن جهادي بهير ترخه دردونه زموږ د برحق جهاد حقانيت او د غازيانو شجاعت يې په خپله غيره کې رانغښتي دي، په لوستلو يې زړونه درد کوي، سترګې اوښکي تويوي خو بل خوا بيا ويده ضميرونه ويښوي او ځوان نسل ته تيره بې جوړې مبارزه او دوهم بدر ور يادوي، حسان ته د دې کار لويه بدله غواړم، الله تعالی دې په خپل دربار کې ورته قبول کړي.

**تپاند ځهاد:**

د «چاپې سهار» کتاب هره کيسه دبرين زړونه اوبه کوي، له سترګو ورته اوښکې تويېږي، د دې کتاب نوم سړي ته شهيدان او د تير انقلاب دردمن



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یادونه ور په زړه کوي، په هره سيمه کې داسې دردونه شته، زه ليکوالان ملګري د دې ښه لیکلو ته رابولم، الله دې د حسان دغه خدمت ورته قبول کړي، الله تعالی ته لاسونه لپه کوم چې د حسان په ګوتو داسې نور کتابونه هم وليکي.

**ارشاد وردګ:**

ښاغلي مولوي حسان صاحب د چاپ شوي اثر (د چاپي سهار) لوستل د تېرې پښان کلک زړونه داسې نرموي لکه ځنګه چې اور اوسپنه ويلې کوي لومړی خو داکتاب لکه د نوم څخه چې معلومېږي محتوی يې جالبه او لرزښتناکه او بل داچې حسان صاحب يې په ليکلو کې ريښتيا حد کړی.

**مدثر افغان:**

د حسان هغه تازه چاپ شوې ټولګه چې د تېر شل کلن انقلاب پرمهال يې د اتلانو اتلولی د مؤمنو ميندو آهونه، د کفارو او د هغوی د ملګرو وحشتونه د حقائقو په بناء په مستند او حقيقي توګه په خپل ځان کې درج کړي.

**الياس بدري:**

د چاپي سهار کتاب په لوستلو د سړي د سترګو نه بې دريغه اوښکې لاړې شي د اشغالګرو او داخلي غلامانو جنايات نه هېرېدونکي دي بايد هرځای او هره سيمه کې د اشغالګرو او د هغوی د غلامانو جنايات راټول او وليکل شي په دې سره به مو د راتلونکو نسلونو فکري روزنه وشي حسان صاحب ته د الله ډير اجرونه ورکړي پدې هيله چې نور هم



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کوښښ وکړي.

**عنايت عزيزي:**

مسافري يو درد او د ګلونو ملګرو ليکوالانو نويو چاپ شويو آثارو ته نه لاسرسی بل درد تازه د حسان چاپ شوي اثر (چاپې سهار) ته مې دومره تلوسه ده چې حد نه لري حسان د ليکوالۍ هنر او جوهر لري دا کتاب به يې هم جذاب او د موضوعاتو له اړخه دردونکی وي.

**قائد افغان:**

د تېر شل کلن وير لړلي انقلاب په مهال د يرغلګرو جنايات د اتلانو کارنامې او د شهيدانو کرامات څرنګه چې يې د نامه څخه شل قسم صحنې سترګو ته درځي همداسې له مستندو حقائقو ډک کتاب دی، نن يې په معرفت غونډه کې د ټولو ګډونوالو اوښکې مېلمنې وې خامخايې ولولئ.

**شعيب غزنوي:**

همدا کتاب مې نن ترلاسه کړ خو د اوښکو له قطار او د زړه له درد سره مې ولوست د د وطن او مظلومو افغانانو دردونه پکې نغښتي ويې لولئ.

**عبد الحی «سباوون»:**

د فراه ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رئس

که چیرته قلمي او فرهنګي مبارزه سره پرتله کړو، نو پايله به يې هرومرو داسې په لاس راشي، چې قلمي او فرهنګي مبارزه څو چنده تر نظامي مبارزې ستونزمنه ده، په هر حال را به شم د مولوي ضياء الحق«حسان»



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کتاب (د چاپې سهار) ته چې د دې کتاب د ليکلو له املې د ستايلو ترځنګ د امتياز حقدار دی، څکه چې له يوې خوا يې ليکنه خوندوره، زړه راښکونکې او له بلې خوا يې په يو نادره کيف، رنګينو الفاظو او خوږه ژبه سره مخاطبينو ته وړاندې کوي، الله تعالی دې لا زيات توان ورکړي، چې د مسلمه امت دردونه د تاريخ پاڼو ته وسپاري.

**مولوي ولي محمد «ثنايي»:**

د چاپې سهار د هغو تيارو دردونو، شبګيرو، بورو ميندو، ناوکيو، او يتيمانو د درد ګړيکو ساندو يې خوبېو د ځوانو مجاهدو ژڼيو په نوم د پيغلوټو د نيم پاتي خامک ځادرونو او ګمنامو طالب زلمکيو د ډرون خوړليو بدنونو او په ګړيدلي اولس د سختو شپو د شپنيو عملياتو (چاپو) د حالت ترجماني کوي!

د (چاپې سهار) به مو حتما وژړوي، تر پايه لوستل يې د ډېرې زړه غواړي، د هر عنوان پيل يې په خورا سختو دردمنو او وريجنو تکو شوی، د کتاب له منځه چې هره پېښه لولې د کيسې په نيمايي کې به دې ضرور اوښکې د سترګو ملتيا وکړي.

**فضل شا «فضلي»:**

« د چاپې سهار » کتاب مې له پيل آن تر پايه مطالعه کړ، د نارينه سره اوښکې ښې نه ښکاري، خو زه يې د خپلو شاګردانو په وړاندې خم کړم. الله تعالی دې ليکوال او نورو مبارزينو ورونو ته توفيق ورکړي چې د خپلې سيمې د شل کلن دور د حالاتو معلومات راغونډ کړي او د تاريخ آرشيف ته يې وسپاري.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**نقیب الله «ارمان»:**

ښاغلي «حسان» صیب په دې کتاب (د چاپې سهار) کې د کلیوالو سیمو د وګړو دردونه، د اشغالګرو او غلامانو ظلمونه او وحشتونه په ډېرې ښکلې بڼې انځور کړي، په لنډو الفاظو د یوې لویې کیسې راوړل، په لیکوالۍ کې هنر ګڼل کیږي، چې «حسان» صیب کې دغه هنر ښه پیاوړی دی.

**محسن احسان:**

کله مې د چاپې سهار کتاب کې د خونړي انقلاب غمجنې او له احساساتو ډکې کیسې ولوستلې، پوه شوم چې دا د راتلونکو نسلونو لپاره زیات مهم دی، نو ځکه مې د همدې کتاب د ثبت کولو اراده وکړه، خو دغه دومره سخت کار دی کله هم چې یوه کیسه ثبتوم له سترګو مې اوښکې روانې شي او د ویلو توان له لاسه ورکړم، د ډیر درد له امله د موبایل په سکرین تورې رانه ورک شي او د دردنو د کاروان مل شم.

**ولس کشر مشعل:**

د چاپې سهار کتاب کې دردونه د قلم په ژبه انځور شوي، د همدې کتاب مطالعه د کانې په څیر غواړي، د دې کتاب ډیرې برخې مې ثبت کړې خو د هرې پیښې په لوستلو به مې له سترګو اوښکې روانې او غریو به ونیولم، د خبرو توان به مې له لاسه ورکړ، ربه په افغان ملت بیا داسې دردونه مه راوله!



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# انځوریز البوم

Scanned with CamScanner


Made with Xodo PDF Reader and Editor



# انځوریز البوم



د کندوز هاشمیه مدرسې د دستاربندۍ په بمبارد کې شهیدان شوي ماشومان. کندوز ولایت، ارچي ولسوالي.




کورواله او دوه بچیان یې په شهادت رسېدلي.
د لوګر ولایت، مرکز، بابوس ساحه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor







حاجي کواړ د خېل ورور په کور د بمبارد او ۱۲ شهيدانو د شهادت دردمنه کيسه راته کوي.

د پکتيا ولايت، زرمت ولسوالي د شملزايو کلی.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor





د محمد اسماعیل «همت» د کور دروازه لا تر اوسه هم د یرغلګرو د چاپې نښې په سینه تاندې ساتلې.

لوګر ولایت، مرکز، پادخواب شانه.



حاجي شراب ګل د خپلو بچیانو او خورييو د شهادت کیسه راته کوي.

لوګر ولایت مرکز اړوند پادخوابه شانه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor





دوی ټول یتیمان دي د خپلو پلرونو عکسونه یې په لاس کې اخیستي او د چاپې د شپې کیسې راته کوي.

لوګر ولایت، مرکز اړوند پورک.



د صلاح الدین «حسان» ګلابي وینو د شهادت په مهال په کفن (حسبنا‌الله...) آیت انځور کړی و.

میدان وردګ دایمیرداد ولسوالي، رشید کلی.




Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor





مولوي محمد نعیم نصرت د یرغلګرو له لوري په یوه شپه د کورنۍ د (۸) وګړو د شهادت دردمنه کیسه راته کوي.
میدان وردګ، نرخ، صدمردې کلی.




دلته د خمکې د ویش په مهال د یرغلګرو طیارې ۴ ملکي هوادوال په شهادت ورسول.
د لوګر ولایت، مرکز، پادخواب شانه د میرغیاث سیمه



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor





د هاشمیه مدرسې له غیږې جلا شوي ګلان.

د کندوز ولایت د ارچي ولسوالۍ



د محمد جي څلور زامن په یوه شپه د یرغلګرو له لوري د شپنۍ چاپې په مهال د خپل کور په مهمانخانه کې په شهادت ورسېدل، د شهیدانو وارثان دغه دردمنه کیسه راته کوي.


لوګر ولایت، مرکز، وزیر کلا د کوچیانو مېنه.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor





همدلته د روسي ښکېلاکګرو له لوري (۷۲) کسان د اور په لمبو وسوځول شول.

لوګر ولایت، مرکز، پادخوابه شانه.



همدلته د یرغلګرو له لوري د ځمکې د وېشلو پر مهال ځلور ملکي هېوادوال په شهادت ورسېدل.


لوګر ولایت، مرکز میرغیاث روڼ کارېز.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor





د جاجي امين جان وينې په دېوال تازه ښکارېږي د کور په برنډه د يرغلگرو له لوري په ماين انفجار ورکړل شوی و.

لوگر ولايت، مرکز، دادو خېل.





Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor





د خالد ابن ولید مدرسه د چاپې په مهال ورانه او څلور طالبان یې په شهادت رسېدلي مولوي نورالله مخلص راته کیسه کوي.
غزني ولایت، زنخان ولسوالي د گوگر کلی.



د چاپې په مهال د ملکي هیواد والو ورانه جونگړه.
میدان وردگ، سیدآباد ولسوالي د تنگي شهید پروره درې، دولت خېلو کلی.



Scanned with CamScanner







د تاسن کلي مسجد چې د یرغلګرو له لوري د شپنۍ چاپې پرمهال وران شوی و، د ولسي خلکو له لوري بیا رغول شوی د کلي سپین ږیري راته کیسه کوي.

غزني ولایت دهیک ولسوالي، تاسن کلی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor





د کور په څنګ کې یرغلګرو سپین ږیری دهقان په نښه او په شهادت ورسولو.
لوګر ولایت، مرکز اړوند دوشنبه احمدخان کلا.



Scanned with CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor

**ضروري خبرتیا :** ملګرې که ته نوي کتابونه لرې او تراوسه نوي سکن شوي ، نو سکن یې کړئ او موږ ته یې واستوئ ، ځکه دغه دومره سخت کارنده . یا هم لیکوال یاست په خپرولو کې موږ مرسته درسره کوو.ان شاء الله چې تاسو اجازه راکړئ موږ به یې نشر کړو که په هره ژبه او هره برخه کې وي ، تر څو موږ یې له نورو مسلمانانو سره شریک کړو او په ثواب کې سره شریک شو، موږ ته یې په دې لاندې نمبر په ټلیګرام


کې را واستوئ : +93789212634 📱

**یادونه :** داچې زموږ د کتابتون په نامه کاپي کتابتونونه جوړ شوي نو هیله ده زموږ چینل ددغه لاندني [ Join ] بټني له لارې جوین کړئ، لومړی له انټرنیټ سره وصل شئ ، بیا باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ که مود ټلیګرام اکونټ وي ډیر ښه که نوي نو جوړیې کړئ او ورسته په دغه بټنه کیکاړئ او ورسته به تاسو زموږ چینل ته بوځي هغه Join کړئ او نور تاسو زموږ د کتابتون له کورنی سره یوځاي یاست .!

JOIN

paktekawalAfghan

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اختر تـه دوه شـپې پاتـې وې، يتيم
کريـم اللـه را سره هديـرې تـه لاړ،
پـه ډبـره يـې د پـلار د قـبر د سر
تيږه ټکوله، هغه غږ نه ورتـه کاوه،
وروسـته يې پـه ډبـره قـبر کيندلو او
ويـل يـې:
انا! پـلار مې د اختر لپاره کـور تـه
را سره بيايـم!

ISBN 978-9936-1-0715-1
9 789936 107151

Scanned with CamScanner